شهامت

امریکاته به ! خپلې بدې ارادې او له فريبونو ډکې هلې ځلې برى ورنکړي !

اتم کال څلورمه ګڼه، پرلپسې۴۸ مه، صفرالظفر ۱۴۳۶هق، نومبر ۲۰۱۴ م

دشهيد ملا روزي خان "عاکف" ژوند اوکارناموته کتنه

حملات اخیر علیه دشمنان، نماد قهر ملت علیه اشغال و کشور فروشان است؟

www.nunn.asia

مغرورانه يرغل اوعبرتناک شکست

ديمن د تجزيې يقيني خطر

وروستيو بريدونو څه په ډاګه کړل

دپوهنې د کميسيون له لوى رئيس سره مرکه

دامريکا دزوال وړاندوينه!

پر مسجدونو باندې د وروستيو بريدونو عاملين څوک دي؟

جنګ اوتباهي ته څوک لمن وهي؟

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

اتم کال څلورمه ګڼه، پرلیسي۴۸ مه، صفرالظفر ۱۴۳۶هق، نومبر ۲۰۱۴ م

لړلیک

ګڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه	۱
۲	په مسجدونو بریدونه څوک کوي ؟	۲
۳	حملات اخیر علیه دشمنان نماد قهر ملت علیه اشغال و....	۵
۴	امریکا ولې جګړه پراخوي ؟	۷
۵	وروستیو فتوحاتو څه په ګوته کړل ؟!!	۱۰
۶	جنګ او تباهي ته څوک لمن وهي ؟	۱۲
۷	داسلام نړیوال قانون !	۱۴
۸	دپوهنې دکمیسیون له رئیس سره دشهامت ځانګړې مرکه	۱۸
۹	عراق ته دامریکایي پوځیانو دبیا راتلو ارادې او موخې.	۲۹
۱۰	دشهید ملاروزي خان " عاکف " ژوند او کارنامو ته کتنه.	۳۲
	ګل لورینی پاڼې	۳۶
۱۱	مغرورانه یرغل.	۴۲
	داسلام جنګي قانون.	۴۵
۱۲	دفاریاب له جهادي مسؤل سره مرکه	۴۹
۱۳	داسلامیت اومغربیت ترمنځ کشمکش....	۵۳
۱۴	دلوګر داربکیانو په تابوت وروستی میخ ووهل شو.	۵۵
۱۵	داسلامي تشریع اساسات.	۵۷
۱۶	دامر دزوال وړاندوینه.	۶۰
۱۷	غداره جرګه	۶۲
۱۸	دیمن دتجزیې حتمي وېره.	۶۴
۱۹	دماشومانو روزنه.	۶۷
۲۰	صلح دربستر معامله ګیری های حکومت توپکمار ...	۷۱

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسـؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتـنـپـلاوی :

شاهد "حقاني" لطیف عزم
حسن "علوي" بلال "وحید"
نعیم "صافی" عابد مجاهد
قاري حبیب

بـیـه :

یوه ګڼه ۲۰ افغانی او ۳۰
کلداري په پاکستان کې

تخنیکي چارې :

تخنیکي څانګه

یـادونـه

شهامت له سرمقالې پر ته دنورو لیکنو
مسؤلیت په غاړه نه اخلي

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

امریکا ته به ! خپلې بدې ارادې او له فریبونو ډکې هلې ځلې بری ورنکړي !

په مخامخ اوعلني جګړه کې له شکست اوناکامه کېدو وروسته ، مغرورغلیم هڅه کوي څود تشریفاتي اونمایشي دوله غونډو په جوړولو، بیرنیو سفرونو اودوحشیانه جګړییز روۀ دپراخولو په لافو شافو ځان دجګړې دډګر ورونکی اوګټونکی وښیي ! ! په دا وروستیوکې داوباما لخوا د صلیبي جګړې دتمدیدولو په اړه پټ فرمان ! لندن کې افغانستان سره دمرستو په نامه دیرغلګروهېوادونو دمشرانو بیا یوځای کېدۀ او افغانستان ته دامریکا ددفاع وزیر(چاک هیګل) تازه نااعلان شوی بیرنی سفر دشکست خوړلي دښمن په سینه کې قوي روحي ستوماني اوعمیق سیاسي اضطراب په ډاګه کوي.

دامریکا په مشرۍ دیرغلګرو لخوا روانې غورځې پرځې اومنډې ترړې ښیي ، چې دافغان هېواد داستقلاۀ غصبوونکي او دلګونو انسانانو قاتلین لا تراوسه پخپلو کړو جنایتونو پښېمان او د ناروا ظلمونو څخه توبه ګار نه دي ! بلکې پرهغو له ویاړ سرییره په زیاته سپین سترګۍ اودفریب څخه په ډکه لهجه لګیا دي ، افغانستان کې د خپل مردود اشغاۀ دلا پایښت خوب رښتیاکوۀ غواړي.

دکتونکوله نظره ! دجګړې په ډګر کې دخجالت او رسوایي وروسته اوس د فریب څخه ډکه دیپلوماسۍ اوتزویري سیاسي فعالیتونه پرمخ وړي ، څو دافغانستان دمهم اوستراتیژیک جغرافیوي استقامت څخه په ناوړه ګټه اخیستنه ځان تر شوم استعماري هدفونو ورسوي ، دافغانستان په نوم دپیسو او مرستو دبیا راټولولو د تازه کمپاین موخه هم داده څو د نړۍ دبډای هېوادونو څخه دملیاردونو ډالرو په ترلاسه کولو خپلو جعل کاریو او تزویرونو ته نورهم رشد اوپراختیا ورکړي

حقیقت دادی چې دصلیبي تاړاک نوې دسیسې اوتوطئې به افغانستان ته دښېرازۍ په ځای د افغانستان دبربادۍ اوبدمرغۍ ناورینونه له ځان سره راوړي ، هم دافغانستان د جغرافیوي مهم استقامت داشغاۀ نه په ګټه خپل پوځي حضور نور پیاوړی او غځوۀ په پام کې لري.

بل دغه روان توۀ حرکتونه دافغانستان په ګډون دټولې سیمې دراتلونکې لپاره هم دقوي ګواښ په معنی دي ، په خاصه توګه دسیمې هېوادونو ملي استقلاۀ به هم دخطرونو اوګواښونو سره مواجه کړي ! ښکاره ده افغانستان کې دامریکا د پوځي موجودیت اصلي غرض اوغایه ټوله سیمه دامریکا یې راج تر پوښښ لاندې راوستل دي ! که دامریکا ددې عزایمو او جګړه ییز روۀ پراخولو مخنیوي لر کې ګام ونه دیان خپل مسولیتونه درک نکړي ، عواقب به یې دټولو لپاره ځوروونکي اوبدمرغه پایلې ولري ! نو په هره بیه چې شونې وي باید امریکا دې ته اړ ایستل چې هغه افغانستان کې د خپل ظالمانه اشغاۀ او دسیمې پر ضد دبد نیت نه په شا شي !

علاوه پر دې تېره دیارلس کلنه دوره خپله دامریکا په مخکې ده ، چې دلته ددوی ټولې استکباري هڅې د ناکامۍ اورسوایۍ پرته بله نتیجه نلري ، داسمه ده ، دوی دپر مختللې ټیکنالوجۍ پر ځواک افغانستان اشغاۀ کړی ، خو واقعیتونه یې تغیر اوبدۀ نکړای شوۀ ، پوره کلي اوښارونه یې کنډواله کړۀ ، بې شمېره خلکې شهیدان ، ټپیان اوبې کوره کړۀ ، خو جهادي مسیر او دمقاومت بهیر یې ټکنی نکړای شو، نوله شک پرته امریکا دخپل توۀ پرمختللي ځواکد کارولو سره سره روانه جګړه بایللې ، که دځان دبري لپاره له کرډې نړۍ پوځونه راولي بیا به یې هم دبري څرک تر سترګو نشي.

نو دجګړې دپراخولو اوپه منطقه کې دخپلو موهومه ګټو دلټون په ځای غوره داده چې امریکا دافغان ولس غوښتنو او ارادو ته غاړه کېږدي اوخپل ناروا اشغاۀ سملاسي پای ته ورسوي ، افغانستان دافغان ولس خوښې اوپرېکړې ته پرېږدي ، تاریخ په دې خبره شاهد دی چې افغانانو کله هم پخپل هېواد بهرنی تیری ندی زغملی ، دهر تیري کوونکي سره په خورا کلکه اومیړانه جنګیدلي او نه دیرغلګوونکو ارادو ته تسلیم شوي ، دامریکا په مشرۍ دڅه کم پنځوس هېوادونو دتیري په وړاندې دافغان ولس د میړانو او قهرمانیو ډکې حماسې یې ژوندی مثاۀ دی ، چې پخپلو سترو قربانیو اوفداکاریو یې ټوله نړۍ حیرانه کړېده ، دامریکا او ناټو ځواکونو پرضد وروستي جهادي بریدونه ټولو ته داپیغام لري ، چې ددوی پوځي اشغاۀ پر ضد په روان جهاد کې دوخت په تېریدو تیزې راځي ، چې دیته په کتو که دوی دافغانستان اشغاۀ ژر پای ته ونه رسوي ، ددې څخه نورو قوي تندریزو بریدونو ته انتظار وباسي چې په ترڅ کې به یې ددوی دبې شمېره عسکرو ککرۍ په وینو کې ورغړیږي !

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

پر مسجدونو باندي

د وروستیو بریدونو عاملین څوک دي؟!!

شاهد(غزنیوال)

د روان کال د لیندۍ د میاشتې په (۳) مه ورځ امریکایي ولسمشر بارک اوباما په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو پوځي ماموریت یو کال نورهم تمدید او د کابل اداري ولسي جرګې د کابل واشنګټن ترمنځ امنیتي تړون منظور کړ.

دا دواړه هڅې په حقیقت کې د افغان ولس د ارادي پرخلاف داشغالګرو او دهغوی د ملاتړو یو داسې اقدام وه چې دیوه سخت ولسي غبرګون توقع ترې کیدله.

هماغه وه چې د امریکایانو له دغه اقدام سره هم مهاله د پکتیکا ولایت د یحیی خیلو ولسوالۍ په یوه سپورتي لوبغالي کې خونړۍ چاودنه رامنځته شوه چې د مړو او ژوبل شویو شمیرې تر سلو تنو واوښت.

که څه هم چې په یاده چاودنه کې د ولسي وګړو ترڅنګ یو شمیر اربکیان او دولتي کسان هم ووژل شول خو په مجموع کې دهغې ډیر

قربانیان ولسي وګړي ول چې نه باید دا ډول ولسي تجمعات د پوځي بریدونو هدف وګرځي

د یحیی خیلو د برید په تعقیب د لیندۍ دمیاشتې په (۷) مه د ننګرهار ولایت د خوږیانو ولسوالۍ په جامع مسجد کې د جمعې د لمانځه د اداء کولو پرمهال د لمونځ

کوونکو په منځ کې خونړۍ چاودنه وشوه چې په لسګونو لمونځ کوونکي پې ژوبل کړل.

تر هغه دری ورځې وروسته د لیندۍ د میاشتې په لسمه نیټه د بغلان ولایت په برکه ولسوالۍ کې دجنازې د مراسمو پرمهال چاودنه وشوه چې خواوشا (۳۰) په کې مړه او ژوبل شول.

د ولسي جرګې لخوا د کابل واشنګټن ترمنځ امنیتي تړون تصویبولو سره هم مهال په ولسي تجمعاتو په تیره مقدسه اماکنو او مذهبي مراسمو باندې دا ډول هدفي بریدونه بې له شکه چې د نړیوالو استخباراتو شبکو په لاس جوړ شوي هغه سازشي پلانونه دي چې د زیاتو

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

ولسي افغانانو په وژل کېدو سره نور هم غواړي په افغانستان کې دخپل نامشروع اشغال د غزولو لپاره مبرر پیدا کړي.

دا سلام په سپیڅلي دین کې د بیګناه انسان وژنه له شرک نه وروسته دالله تعالی په نزد تر ټولو لویه ګنه ده، پر هغه سربیره مساجد او مذهبي مراسم داسلامي ارشاداتو له مخې خپل حرمت لري، که چیري دښمن هم مسجد او یا مذهبي مراسموته د ګډون لپاره راشي نو د مسجد او مذهبي مراسمو د مذهبي حرمت اوهمدا راز هلته د ډیرو رایوځای شویو مسلمانانو د خوندیتوب په غرض باید پردښمن برید ونه کړای شي.

داچې له یوې خوا په اسلام کې د بیګناه انسان قتل حرام دی، بل ځای د مساجدو او مذهبي مراسمو دحرمت خبره ده، نو هیڅ کله هیڅ مسلمان هم په یوه وخت کې دوې کبیرې (دمسلمان قتل او مسجد بي احترامي) نه کوي، مجاهدین چې ځان دالله تعالی داحکامو نافذونکي او دشعائرالله مدافعین بولي هغوی به څرنګه د جهاد په نوم محرمات قطعي تر سره کوي.

امریکایان او د هغوي بي ضمیره ملاتړي په دې خبره پوره باورلري چې افغانان نور په خپل هیواد کې د دوی ناولي شتون نه مني؛ لهذا د خپلو یوشمیر اجرتي ګمارل شویو په وسیله غواړي د ولسي افغانانو په مذهبي، اجتماعي او تفریحي مراسمو باندې داډول بریدونه ترسره کړي تر څو هم نړیوالو او هم خپله افغانانو ته داوښیي چې که بهرنیان په افغانستان کې نه وي نو نه به دافغانانو مساجد خوندي وي نه به دهغوی سپورتي او تفریحي لوبغالي مصؤن وي او نه به یې دغم اوښادي مراسم محفوظ وي.

د اشغال په تیره ۱۳ کلنه دوره کې عامو افغانانو د اشغالګروامریکایانواو د هغوي د مفسدو مزدورانو ټول کړه وړه لیدلي چې له امله یې عامه ذهنیت نن ټول د هغوي پرخلاف جوړشوی، اوس دښمن کوښښ کوي خپل جرائم د دغه ډول وحشیانه اعمالو په ترسره کولو سره پټ کړي.

مجاهدین د دغوجرائمو په مخنیوي کې څه باید وکړي؟

داچې یرغلګردښمن له خپل ټول پوځي اوتخنیکي برلاسي سره د مجاهدینو په مقابل کې شکست خوړلی، پوځي پلانونه او تګلارې یې ناکامې شوې اوس غواړي له غیر مستقیمې لارې دخپل ځان په ګټه د عامه ذهنیت جوړلو کوښښ کوي.

غیرمستقیمه لاره همدا لاره ده چې یو شمیر اجرتي مزدوران پیدا او دهغوی په وسیله د ولسي خلکو په منځ او یاهم د عام المنفعه تأسیساتو پرخلاف بریدونه ترسره او بیا هغه مجاهدینو ته منسوب کړي.

امریکایانو ته دافغانانو وژل لویه لاسته راوړنه ده، دغه افغانان که عادي ولسي افغانان وي، که دولتي اجیران وي او که مجاهدین وي، د هغوي اصلي هدف د افغانانو وژنه ده، په تیره هغه وژنه چې خپله د افغانانو په لاس وي؛ ځکه په دغې وژنې سره هم افغانان د نوروافغانانو په وسیله وژل کیږي او هم له دې لارې دهغوي ترمنځ نورې فتنې او تفرقې را ولاړیږي.

نو مجاهدینو وروڼوته په کار ده چې د ماتې خوړلې دښمن دغې خطرناکې فتنې ته ډیر متوجه وي.

هغوی باید خپل ټول پوځي پلانونه په داسې ډول عیارکړي چې په هیڅ ډول ولسي وګړي ورکې متضرر نشي؛ ځکه د ولسي خلکو د ځان، مال اوعامه شتمنیو خوندیتوب د جهاد او مجاهدینو اساسي هدف او مسؤلیت دی.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دوهم دا چې کوم ځای تر خپلې ولکې لاندې سیموکې په مسجدونو، جنازو او یاهم په نورو ټولنیزو مراسمو، لوبو او د ښادي په غونډوکې چاودنه وشي د هغه په غبرګون کې نه یواځې داچې په هغه کې خپل لاس لرل رد کړي، بلکې سمدستي د هغه په اړه باید جدي تحقیقات وکړي، ترڅو د پېښې اصلي عاملین پیدا اومجازات کړي.

کوم کسان چې دمجاهدینو په لیکو کې له پوځي عملیاتو پرته د ولسي خلکو په ځورولو لاس پورې کوي هغوی باید تشخیص او په اړه یې جدي پلټنې وشي، که احیانا هغوی دځینو شخصي غرضونو په اساس ولسي خلک ځوروي هغوی تنبیه او د جرم دتکرار په صورت کې مجازات شي او که چیرې خدای مکړه د دښمن اجرتي اشخاص دمجاهدینو په لیکوکې ځای پرځای شوي وي او د جهاد او مجاهدینو د بدنامولو په خاطر ولسي خلک ځوروي هغوي باید تفکیک او دشرعي محاکمو له پریکړې سره سم مناسبه جزاء ورکړي.

دریم مجاهدین باید په هیڅ صورت د هغو ټول ګټوتأسیساتو په تخریب لاس پورې نه کړي کوم چې د دښمن ترڅنګ عام خلکو ورڅخه ډیره استفاده کوي، لکه د لویو لارو پلونه، صحي کلنیکونه، ښوونځي او نور غیرپوځي دولتي تأسیسات، ځکه دغه تأسیسات که دیوه آني وخت لپاره د دښمن لخوا کارول کیږي خو دهغه ترڅنګ دټولې سیمې د خلکو دائمي اړتیاهم وربانديې پوره وي، نو دعامه مصلحت په اساس که څه هم چې په ځینو حالاتو کې له هغه څخه دښمن استفاده کوي لکه دلویو لارو پلونو خو مجاهدین باید دهغو له تخریب او نړولو ځان وساتي، ځکه تخریب یې له

یوې خوا د خلکو دمتضرر کیدلو لامل ګرځي او له بلې خوا دښمن ته د مجاهدینو پرخلاف د ناوړه تبلغاتو زمینه برابروي.

اوس مهال چې د دښمن د اشغال وروستی ورځې دي باید مجاهدین وروڼه تر اجرایي فعالیتونو زیات پروقایوي کړنو تر کیز وکړي، دولسي خلکو امنیت تأمینول، دهغوی لپاره د امکان په صورت کې د هغوی لپاره د ښوونې اوروزنې، روغتیا او نورو رفاهي خدمتونه برابر کړي.

په پوځي ډګرکې د دښمن د افرادو ترووژلو زیات د هغوی په قانع کولو کوښښ وکړي، ځکه د داخلي افغانانو په تیره د غولول شوي یو اویاهم تطمیع شویو اربکیانو تر ووژلو د دښمن له صف څخه د هغوی راجلاکول د دښمن لپاره لویه ضربه ده.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

حملات اخیر علیه دشمنان، نماد قهر ملت علیه اشغال و کشور فروشان است؟

ذبیح الله مجاهد

بدون شک مجاهدین به نصرت اللهی درسیزده سال گذشته ابرقدرت بزرگ جهانی را که ادعای فرعونیت راداشت، به زانوزد و هیبت اش را کوبید.

واقعا امارت اسلامی افغانستان با رهبری مدبرانه و دلیرانه خود، توانست با تمام توطئه ها، دسیسه ها، حملات هوایی و زمینی، فعالیت شوم دستگاهای چندین استخبارات کشور های مقتدر و اهریمن صفتان داخلی پنجه نرم کند والحمدلله آنهارا بایأس اوشرمساری مواجه نماید.

اگر بعضی ها روی کینه توزیهای شخصی و دشمنی که با دین و دین گرایان دارند، جرئت نه میتوانند که به چنین حقیقت اعتراف نمایند، ولی فرداتاریخ که کدام مشکلی عقیدوی و مفکوری بادین و اسلام گرایان نخواهد داشت، این واقعیت راثبت خواهد نمود، تاریخ افغانستابا پهنای و درازای که دارد، چنین مردم دلیر و شجاعتمند راپشت سر نه گذاشته بود.

بلی تاریخ ما همیشه مملو از اشخاص دلیر، شجاع، مسلمان و حماسه آفرینان بوده است، ولی به منوالی که این ملت با ۴۹ کشور مقتدر جهان به یک باره گی مواجه گردد، و تکنالوژي معاصر هم بادقت و معیار بلند علیه آن قرار گیرد، هرگز قبلا چنین مثالش را نداشتیم پس صد آفرین به مجاهدان معاصر می گوییم.

بعد از آن که اداره کابل به سر گردگی اشرف غنی، دوستم، و یک تعداد عناصر جنگ سالار و دالر بگیرهای شر و فساد، همچنان شماری از کمونستهای سابق که در فروش کشور تجربه خوب داشتند، پیمان با امریکاییهارا امضاء کرد، و افغانستان از طرف خود به فروش رساند، مجاهدین هم درک کردند که باید همه پلانهای نظامی خود را بازنگری کرده و به نمایندگی از ملت خود علیه اشغالگران ومزدوان داخلی آنها حملات کوبنده ء بیشتری رازیر دست گیرند.

در تقریبا یک ماه گذشته اجرای حملات به تأسیسات مهم و مصئون دشمن، قطار ها و مراکز نظامی آنها هسته دشمن را به لرزه در آورد و وارخطای فوق العاده یی را در صفوف دشمن ایجاد نمود.

این حملات که نشانگر نیرومندی مجاهدین وضعف کلی دشمن است، اراده مردم دلیر و کفر ستیز افغان را در برابر اشغال، سیکولار ها و مزدوران بیگانه، نمایان میسازد وبیانگر قهر ملت، علیه دشمن زبون می باشد.

ـ حملات بسیار به دقت طراحی شده و به اهداف مهم اصابت کرده، درکل اجرای هر نوع حمله در شهر کابل که بیشتر از صد هزار نیرو

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

نظامی اعم از خارجی وداخلی دشمن مصروف امنیت گیری است، خود دست آورد بزرگ شمرده میشود.

ـ حمله در داخل ساحات سبز دشمن که پشه پر زده نه میتواند، بدون اینکه مردانگی و هوشیاری مجاهدین را ثابت سازد چیزی دیگر نیست.

ـ حمله بر ساختمان استخبارات (IRD) در وزیر اکبرخان کابل و ادامه جنگ تا ۵ ساعت توانایی فوق العاده مجاهدین راآشکار ساخت

ـ برپا نمودن حمله در دروند قومندانی امنیه کابل کې بخاطر امنیت آوردن (!) به دیگران ساخته شده، خود دلالت بر آن دارد که مجاهدین در ردهای درونی اداره کابل چقدر دست بالایی دارند؟

ـ اجرای حملات دو روزه در میدان هوای شوراب هلمند، که در عین زمان قول اردو هلمند هم نامیده شده، و کشتن بیشتر از ۳۰۰ نظامی خارجی وداخلی، حریق نمودن صدها عراده وسائط نظامی و سایر دست آورد ها، بدون اینکه مجاهدین را به سطح جهانی قهرمان معرفی نماید چیزی دیگر مناسب نیست برش بگوییم.

در عموم حملات پی هم بدون شک که ابراز کننده قهرملت غیور افغان وعکس العملی به جا رادمردان تاریخ در برابر امضاء پیمان ننگین با امریکا و سائر کفار اشغالگر است، ما باور داریم که تا ختم اشغال و به جزا رساندن مزدوران حلقه به گوشان ادامه خواهد داشت.

کارشناسان بدین باور اند که چون امریکا در افغانستان برخلاف وعدهای قبلی خود، میخواهد اشغال افغانستان را به رازا کشد، وحشت های خود را علیه این ملت تداوم بخشد، اسلحهء نو ساز خود را هنوز هم در برابر فرزندان و خانمان افغان به آزمایش گیرد، پس افغانها هم روی مکلفیت دینی و میهنی، روی احساس و ضمیر هوشیار خود نه خواهد گذاشتند امریکایها و غلامان روزی آرام داشته باشند.

در بانظر داشت امضاء پیمان نامشروع و اشارات تداوم اشغال از طرف امریکا، ما گفته میتوانیم که آنها به حملات چندین برابر نیرومندتر مجاهدین مواجه خواهند شدند وبعید نیست که همه تأسیسات دیپلوماتیک و سیاسی مرتبط به کشورهای اشغالگر نیز، همچو مراکز نظامی آنها مورد حملات و کوبیدن قرار گیرد و در گرداب قهر ملت افغان کمپل اشغال از کشور در اسرع زمان چیده شود. ان شاءالله

مرعوب لښکر

مولوي عرفان الله عرفاني

هېښ ولاړ دی دطاغوت لښکر مرعوب دی
ګورئ بیاشوحق غالب کفر مغلوب دی

دباطل توري کلاوې کندوالې شوې
هر مفسد سر کش په داربانديې مصلوب دی

وَجاهِدُوا فِی اللهِ حَقَّ جِهادِه
داآیت یې په تندي باندې مکتوب دی

پرېښتې یې په وزرولې پاسه ولې
شیطان ځکه نن په سر ووینو کې ډوب دی

دجهادغږ له مشرقه ترمغرب دی
خوځښت کړی بیا شمال اوهم جنوب دی

دیوسف دخلاصون زېری پرې چاکړی
بیناشوئ له ړندوسترګو یعقوت دی

ددنیامال اودولت موهدف ندی
دالله دین موکتل بس خاص مطلوب دی

دکاروان منځ کې روان دی غزل وایي
عرفاني توره په لاس ناست په مرکوب دی

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

امریکا جګړه ییز رول ولې پراخوي؟

بشیر

دروان ۱۳۹۳ل کال د لیندۍ په ۲مه، مشهورې امریکایي ورځپاڼې (نیویارک ټایمز) انکشاف وکړ، چې دامریکا ولسمشر اوباما په یو پټ فرمان کې پنټاګان ته حکم کړی چې د۲۰۱۴ز کال وروسته، افغانستان کې دامریکایي ځواکونو جګړه ییز رول پراخ او وغځوي!!

داوباما لخوا دامریکایي ځواکونو دجګړه ییز رول پراخولو د نوي فرمان څخه وړاندې، اوباما دټولې نړۍ په وړاندې ژمنه کړې وه، چې امریکا به ژر، افغانستان کې خپل جنګي ماموریت پای ته ورسوي! او د۲۰۱۴ز کال، د مۍ په میاشت کې یې بیا دوهم وار اعلان وکړ: چې د۲۰۱۴ کال ددسمبر میاشتې وروسته په افغانستان کې دامریکا هیڅ یو پوځي په جنګ کې ونډه ونلري...

دسیاسي کتونکو په لر لید: د اوباما دا دوه مخېتوب اوله کړې ژمنې تیښته، په حقیقت کې دامریکا دجعل کاري پالیسۍ ښکارندویه ده، چې همیش په درواغجنو پلمو او وعدو خلک تیرباسي، له خپلې وعدې نه داوباما په شاتګ دهمدغه امریکایي ذهنیت اوسیاست عکاس دی! چې دامریکایي چارواکو له ادنی نیولې ترولسمشره دیوه وعده هم حتمي او رښتینې نده.

په مۍ میاشت کې د اوباماله دې اعلانه «چې ۲۰۱۴ ددسمبر وروسته هیڅ یو امریکایې پوځي په جنګ کې برخه ونلري» موخه داوه، چې هغه مهال دروانې امنیتي موافقې په اړه یې غوښتل د افغانانو عامه ذهنیتونه یوڅه نرم اوقانع شي! او داسي وښیي چې امریکا افغانستان کې دایمي پوځي شتون ته لیواله نده! که وای، خپل جنګي ماموریت یې کله پای ته رساوه؟ واقعا ډیری افغانانو وفهموله هم داسې، چې امریکا نور جنګ پای ته رسوي، اوله افغانستانه نن دی که سبا پښې وباسي!

خوځنګه چې دسپتمبر په ۲۹مه، ګوډاګي ولسمشر اشرف غني لوړه وکړه او په سباته هغه ور سره دامنیتي موافقې تور سند لاسلیک او امریکا ته یې دافغانستان دخرڅلاو قباله ور کړه!! دامریکا پټه اراده ښکاره شوه، دي سره جوخت یې خپله رویه تغیر کړه، امریکا حس کړه، چې په سیمه کې یې دخپل نفوذشیندلو داسې اعظمي پلمه اوچانس په لاس ورغلی، چې له مودو، مودویې راهیسې یې په لټه کې وه.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

هغه ګردې انديښنې هم پر ځای او رښتيا وختلې، کومې چې دلاسليک دمخه دنظر اوپوهې خاوندانواحساسولې او افغانانو ته يې له امريکاسره په دغه ډول اړيکو جوړولو کې داحتياط توصيه کوله.

خو تراوسه بيا هم داوباما ددې بدمرغه پلان ټول جزيات اوتفصيلات مرموز اوپټ پاتې دي، بيرون ته ندي ښکاره شوي، خو شايد راتلونکي کې د دينه هم سخت اوهيښونکي انکشافات ظهور وموي، "نيويارک ټايمزدا هم ليکلي: چې اشرف غني له امريکانه په کلکه غوښتنه کړي، چې د ۲۰۱۴ کال وروسته دې امريکايي ځواکونه افغانستان کې شپنيو عملياتو اوبريدونو ته دوام ورکړي! داشرف غني د غوښتنې په پام کې نيولو سره اوباما نوې پريکړه وکړه!

او ښکاره ده چې اشرف غني دامريکايانو په خاصو غلامانو کې ځای لري، هغه دزړه اوفکر دواړو له پلوه دامريکايانو دمزاج اوطبيعت سړی دی، هغه ډېر لږ افغان اوډېر امريکايي دی! او غواړي غربي کلتور اوايډيا دلته له خپلو ټولو ځانګړتياوو اوښاخونو وده وکړي، د کرزي په نسبت دی دامريکا دګټو خونديتابه ته زيات ژمن اووفادار دی.

البته غني په دې زيات انديښمن او ور خطاء دی، چې هسې نه امريکايانو ته دوفادارۍ په امتحان کې له نورو پاتې رانشم؟ چې بيا به رانه لکه دکرزي چې مخ بله غاړه تاو کړ، مانه به يې هم په بله

وګرځوي! اوخبردی چې دامريکايانو روزلې اردو دطالب په وړاندې دټينګښ نده! نو ديته اړدی چې پخپله شرمنده دوره کې د امريکااوناټو په ګډ پوځي ملاتړ ټينګار کوي.

امريکايانويې دبزدلانه روحيې نه دا ګټه پورته کړه، چې ددجګړه ييز رول دتمديدپه صورت ورته هم هغه شرايط کيښودل، کوم چې وړاندې کرزي نه و منلي، ليکن دکرزي سيکه دهمغو دنه منلو له امله له چلښته وغورځيده، دکرزي انجام ته په پام دامريکا ټول شرطونه اومنل، دامريکايانو په شرطونو کې يو داو که مونږ پاتې کيږو خامخابه شپني عمليات اوتلاشي کوو! دخلکو کورونو ته به ننوزو! خلک به په پخپلو محبسونو کې بنديانوو! ته به خوله نه چول کوې! د دې وروسته دپنټاګان او سي ای اې په کده غوښتنه اوباما دعملياتو دتمديد ولوحکم ورکړ.

يونظر دادی، چې اصلاً امريکايې چارواکې دخپل ګوډاګي رژيم په پوځي وړتياوو باور اوډاډ نلري، ورته معلومه ده چې دمزدور

رژيم عسكري قطعات دطالبانو دبريدونو په وړاندې د تم كيدو حوصله نلري! هغوئ سره انديښنه شته چې هسې نه دلته هم هغه كيسه تكرار شي، كومه په عراق كې وشوه! چې دعراق دنيمايي زياته خاوره دامريكامخالفو وسلوالو لاس ته ورغله! او امريكايانو ته داهم څرګنده ده، چې دافغانستان اسلامي امارت تر رهبرۍ لاندې مجاهدين د هېواد په ټولو ولايتونو، ولسواليو او سيمو كې پراخ نفوذ لري، هغوئ په اسانه كولى شي چې دامريكا په ملاتړ ولاړ رژيم راوپرځوي، په دې سره حتمي ده چې له امله يې دامريكانړيوال موقف ته په نړۍ كې دروند زيان ورسي.

دسياسي څيړونكو يوه ډله په دې اند ده، چې امريكاافغانستان كې جګړه ييز رول ددې لپاره غواړي پراخ كړي، هغه ننګونې او چيلنجونه چې هغه ور سره مخ دی، په كلكه مبارزه وكړي، لكه د اوكراين اوخليج كشمكش چې امريكا يكې ښكېل ده، ډارلري، كه له افغانستانه ووځي، امريكايي ضد عناصر و مورالونه به لوړ شي په خاصه توګه اوكراين اوخليج كې مخالف جنګيالوحوصلې لوړې شي ،په افغانستان كې دعملياتو پراخولو پريكړې يو لامل دا هم دی، چې امريكااندېښنه لري ، هسې نه افغانستان كې دعملياتو پای ، اوكراين اوخليج كې دامريكا په سياست اوګټو منفي تاثير ډېرنكړي! ولې دا دواړه سيمې دستراتيژك اهميت له پلوه امريكالپاره حياتي ارزښت لري، ددې لپاره امريكايان غواړي څو افغانستان كې ځان ته داوږو پوزه جوړوي مقاومت وكړي، په ضمن كې دافغانستان په ګاونډيو هېوادونو دفشار اچوني د ديپلوماسۍ نه په كار اخستلو له هغوئ نه كومك اوملاتړ غواړي.

دويمه ډله څېړونكي وايي: داوباما دنوې پرېكړې هدف چين دی، امريكاغواړي دافغانستان له حساس جغرافيوي موقعيت نه په ناوړه ګټه په چين فشار ډېر كړي، څوچين په نړيواله ډګر كې امريكا سره دسيالۍ دغره ونه وهي اوخپل سياسي او اقتصادي نفوذ محدود كړي! ددې لپاره افغانستان كې ورته پوځي موجوديت اهميت لري اوله دې ځايه چين ګواښل غواړي!

چين ګواښل امريكاته خورا اهميت لري، د څارنې لپاره يې ځانګړي شبكه (ستراتيژكو اړيكود څار شبكه) جوړه كړېده، په هغه كې يې سياسيون، اقتصادپوهان او دسي ای اي جاسوسان ګومارلي، څو دچين وضعيت، له بېلابېلو اړخونو څخه وڅاري څو دكمزورتياپه اړه يې منظم پلانونه تنظيم كړي، نو افغانستان كې دجګړه ييز رول د پراخولونه داوباما هدف دادی چې له نېږدې دچين دوامدار څار اومراقبت وكړي، څكه په راتلونكي كې چين په اقتصادي اوسياسي دواړو ډګرونو كې دامريكاديو قوي سيال په حيث د ځان راښكاره كولو تكل لري، ، دوروستيو څېړنوارقام جوتوي، چې په اقتصادي ډګر كې چين مخ په تيزۍ وړاندې روان دی، دملګرو ملتونو د رسمي ۱۹۲ غړو هېوادونو له منځه، له پنځو هېوادونوپرته، له ۱۲۹ هېوادونو، دملي ګټو نه دچين بانكي پانګه زياته ښودل كېږي، هم داراز دنړۍ په ۵۰ نړيوالو بانكونو كې دچين لس بانكونه! او د امريكا ۶ راځي، هم په نړۍ كې ترټولو ستر نړيوال بانك دچين دصنعت او سوداګرۍ بانك دی!! دچين دغه حيرانوونكي پرمختګ دامريكالپاره دزغملوندی، افغانستان كې دجګړه ييز ماموريت پراخولويوه موخه په چين فشار ډېرول دي، څو په راتلونكي كې هغه امريكاچيلنج نكړي.

دشک پرته دامريكاپه دې پريكړه به، افغانستان كې ناامني اوبې ثباتې زياته شي، خوكمه نه ، دامريكايانو لخوا دشپنيو عملياتو پيل به هم ډېرې بدمرغۍ اوناخوالې پيښې كړي، بايد افغانان دامريكايانو دبدو ارادو په وړاندې بيدار اووسي او اجازه ورنكړي چې ادلته هغه خپلو شومو اغراضو ته دپايښت ښىلو بدو عزايمو ته ورسي
.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

وروستیو بریدو څه په ډاګه کړل ! !

(شاهد)

د کابل – امریکادنا قبت اندیشو واکمنو ترمنځ دبدنام امنیتي سندپه نوم دهیواد پلورنې فرمایشي تړون دلاسلیک اوهمهاله دغرب مشربه (اشرف غني) اودګلم جم ملیشو دزاړه خونکارقوماندان او کمونستې جنرال (دوستم) ارګ ته له ننوتلو وروسته،چې هیواداو ولس یې دیوه ناڅر ګند برخلیک سره لاس و ګریبان کړی، دادی دحدس او وړاندې سره سم پر خارجي او داخلي وینه څښونکیو مؤتلفو عسکرو دهیواد دځمکې ارته کره تنګه شوي اوهره ورځ رسنۍ دیوه تاوده فدایي کفرځپونکې برید خبر زمزمه کوي .

داسلامي مقاومت دفدایي مجاهدینوله تازه دمو بریدونو نه داسې جوتیږي، چې سږنۍ ژمی به هم اشغالګر عسکرپه آرامه شپه تیره نکړي اوپرله پسې به د خپلواکۍ ګټونکیو قافلوتر بریدونو لاندې وي ،دنورو ژمو په پرتله سږنۍ ژمی رښتیاهم هره لحظه دیوه جهادي برید شهادت ورکوي اونږیوال دیوه تاوده پوځي خبر شاهدان وي .

دپیښوشنونکي آندي ،چې ددې شونتیاډیره بریښي ،چې لاملونو کې دې یې داهم وي چې د(اشرف غني +ډبل عبدالله + کمونست دوستم)غوندې بدنامې څیرې چې کلونه مخکې لاډولنې استفراق کړي او اسلامي او افغاني هویت یې ،لکه دیوې بازارۍ نانځکې غوندې دارزښت او تشخص له معراجه لویدلی، په غیرمترقبه توګه دخاموش اکثریت دارادو خلاف واک ته ورسیدل ،اوښایې چې ددوئ له واکمنیدونه وروسته به نور هم پسې هیواد کې جګړه ایزبهیر تنداو تشدید شي، اوامریکایان به ډیرهغه څه دسرپه ستر ګو وګوري، چې تیرو کلونو کې یې نه وو کتلي .

دهلمند د(شوراب) دپوځي هډې څلورورځنۍ اوږده او متداومه جګړه ،چې له امله یې داشغالګرواودوئ دګوډاګیانو دغرور کنګري ونړیدي، ۱۰ تنو مجاهدوطالبانو دلیندۍ پر ۶مه د شپې پر ۸ بجو پکې وکړای شول، چې جګړه پیل کړي اوپرله پسي څلور ورځې یې دهډې دننه دګوډاګی اردواو خارجي بادرانو سره یې مقاومت وکړ،چې له امله یې سلګونه عسکر مړه او ژوبل شول او په درجنو شوبلې او پوځي وسایط یې هم وبجاړ شول،حقیقت کې دادمجاهدینو هغه تاریخي بریاده، چې له امله یې دواشنګټن ،بروکسل اولندن داستکبار بروجونه ولړزیدل، اودنیواکګرو دتلپاتې میشتیدنې خیالي خوبونه یې بې تعبیره پریښودل.

دنورهیواد غوندې پلازمینه کابل کې داشغالګروپه عیسوي دعوتي هډو ،استخباراتي مراکزواو داشغالګروپه میلمستونو پرله پسې داستشهادي کندکونو مرګاني ګوزارونه ،هغه څه دي، چې دامنیتي سندلاسلیکونکي او طراحان یې هم ځان ته هیښ کړي اوددې مصؤنوځایونو دامنیت ساتونکیو ګانده یې تر جدي سوال لاندې راوستې ده ،معلومیږي چې مجاهدین به خپل پوځي کمپاین نه دروي ،نور به یې هم چټک کړي او پرله پسې به ورته نوي نوې هدفونه وټاکي، ترڅو یرغلګروته وښیي ،چې افغانستان یو خپلواک هیواداو دتل لپاره به دخارجیانو هستوګنځی نشي، نه به افغانان چاته ددې اجازه ورکړي، چې ددوئ هغه خاوره چې څو وارې دمیلونو شهیدانودسپیڅلو دوینو په نذرانو له دهریت ،کفریاتو او دیرغلګرو له ناپاکو قدمونوڅخه پریمنځل شوي ،بیا دې دچټلو انسانانودهوس او خواهشاتودپوره کولوځای وي.

هیواد کې دوروستیو فتوحاتوغیر مترقبه تشدیدداپه ډاګه کړه، چې دمجاهدینو پوځي قوت دهیوادپه دننه کې ځای پرځای اوهروخت کولای شي ،چې دنیواکګرودظالمانه تیرې

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

پروړاندې غبرګون وښيي ،ارګ چې اوس پکې دميسحي (رولاغني) له(نا متبر کو) قدمونو له کبله دمسجدپرځای کليسا جوړه شوي او دافغاني ښځوپه اصطلاح دمشرې ميرمن په صفت نړيوالو خبري غونډو او ځانګړو مجالسو کې پر اسلامي شعايرو او مقدساتو نيوکې کوي ،څرګندوي: چې دافغانو مسلمانو ښځو دعيسوي کيدو په لټه کې ده،اوپه آند به يې کلونه وروسته هر وسلو کې پنځه ويشت ښځې (خدای ج مکړه) دحضرت عيسی ع منسوخ دين قبول او له اسلامه به واوړي ،دا او دې ورته نورې ناندريزه موضع ګانې مطبوعاتي کول او له اړتيا پر ته يې ډاګيز کول دنړيوال متفکر!! دمتزلزلې واکمنۍ پروړاندې دپوځي غبرګون يو ښه مظهر شواو هم يې دارګ دې واکمنو او ددوئ خارجي بادارانو ته ددې ډاګيز پيغام ورکړ،چې دلته څوک راغلي نو بيرته روغ نه وتلي ،که چيرته موږ هاوړدي اوسيدنې اراده کړي وي، دخپلو پيرنګي مشرانو په برخليک به اخته شئ!

دکابل او شوراب کفرځپونکيو بريدونو دا هم په ډاګه کړه، چې دکابل داداري يوه درجن ستراتيژيکو دوستانو،ددوئ دحفاظت لپاره هيڅ ونګړای شول ،نه يې امنيتي سند لاسليک ورته کومه ګټه ورسوله ،نه دارګ دځيرو ادلون بدلون کومه مثبته پايله ولرله او نه هم ددوئ دلندن ،واشنګټن ،بروکسل او برلين غونډو او ددې ملکونو دمشرانو لاپو شاپو څه نتايج ولرل!!

داهم نړيوالو ته په زباد ورسيده ، چې دشوراب غونډئ په پياوړې (باستين) خارجي هډې کې يوازې د طالبانو دلس کسيز ګروپ پر مټ څلور ورځې کفرځپونکې جګړې او دامريکا ددومره ستر پوځي طاقت سربيره ددوئ ناکامي او شاګرځ هغه وجوهات دي ،چې له امله يې دښکيلاکګرو عسکرو دغرور برجونه راونړيدل او پوځي قوت يې دضعف او خوږ تيا ښکار شوی دی ....

دکابل وروستيو بريدونوچې دخپل نوعيت له مخې يې دغربيانو په څوارلس کلن حضور کې ساری نه لاره، څانته دنورو خارجي مطبوعاتو په څير دکابل نه دچاپ کيدونکيو آزادو يا نا آزدو ورځپانو پاملرنه هم راړولي اودچارواکيو دا ډول تکاسل او ضعف يې غندلی دی، چې دڅو هغو دسرليکونو څينې پراګرافونه به دمدعی دتاييد لپاره رانقل کړو:

د امنيتي سند له برکته کابل د جنګ په لومړۍ کرښه بدل شوی!

کابل چاپ ورځپاڼو د بيلابيلو مطالبو ترڅنګ په کابل ښار کې د وروستيو حملو او کابينې په اړه ليکنې او تبصرې کړې دي.

سرنوشت:

سرنوشت خپلواکې ورځپاڼې په خپل لومړي مخ کې ليکلي؛ له امريکا سره د امنيتي او دفاعي سند له برکته کابل د جګړې پر لومړۍ کرښه بدل شوی.

همدې ورځپاڼې په خپله سرمقاله کې پوښتنه کړې؛ په افغانستان او په ځانګړې توګه د کابل په ښار کې د وروستيو ناامنيو پوښتنه بايد له چا وشي؟

سرمقاله ليکوونکي خپلې پوښتنې ته ځواب ويلي او وړاندې ليکلي، د کمزورۍ او غير مسلکي رهبرۍ له امله په کابل ښار کې يادې ستونزې راپيدا شوې او بله اساسي ستونزه دا ده چې زموږ امنيتي ځواکونه لاهم خپله دنده نه پيژني.

ليکوال وړانديز کوي، افغان حکومت د دې ډول حملو د مخنيوي لپاره کارنده امنيتي پاليسي جوړه کړي او دويم دا چې د امنيتي ځواکونو په چارواکو کې پراخ مثبت بدلونونه راولي.

ويسا:

بلې خپلواکې ورځپاڼې ويسا هم په خپلې سرمقالې کې پوښتنه کړې؛ ايا افغانان همدې روندو حملو ته لاس تر زنې کينې چې ترڅو يې د مرګ وار راورسيږي؟

وړاندې په سرمقاله کې راغلي؛ افغانان بايد دې وضعې پر خلاف خامخا جدي غبرګون وښيي.

د ليکوال په باور، ښايي تر ټولو مناسب او معقول غبرګون همدغه وي چې حکومت دې د روانې بې تعريفه جګړې څرنګوالی او زموږ د نړۍ يو درجن ستراتيژيکو دوستانو مسووليت اودريځ معلوم کړي.

اوس چې خبره دکابل تر څنډو ورسيده، ددې اړتيا تر هروخت زياته ده، چې خارجيان په خپل پوځي شتون تجديد نظر وکړي او دخپلو عسکرو دوتلو لپاره کومه محفوظه لار ولټوي ،ددې پرځای چې هره ورځ يې يوه درجن عسکر وژل کيږي ،ورته غوره داده،چې نور په ښپړ ډول له دې هيواده کډې بار کړي او پريږدي چې افغان ولس له اوسنيو عاقبت نه سنجونکيو چارواکيو سره محاسبه وکړي، دمحاکمې ميزته يې راکش کړي او دخپلو ناوړه اعمالو پوښتنه ترې وکړي!

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

جنګ اوتباهۍ ته څوک لمن وهي؟

خلیل عزیز

له هغه مهاله، چې امریکا دامنیتي تړون، یادافغانستان دخرڅلاوو په سر کومه لوبه له خپلو ګوډاګیانو سره پیل اوبیاترسره کړه، دکابل اداري، دړندوره چیانو اودامریکایي، میډیا دمبلغینو دتبصرو اوتحلیلونو دسرتکي همداوو، چې دامنیتي تړون لاسلیکول دافغانانو لپاره لدې امله حیاتي ارزښت لري، چې په اصطلاح په نورو لاسته راوړنو سربېره به له یوه پلوه افغانستان دګاوندیانو له مداخلو خوندي وګرځي، ورسره به دامریکایي عسکرو دخودسره عملیاتو، چاپو اوهوايي بمباریو سلسله هم نوره پای ته ورسیږي.!

دامریکایي غلامانو په ژبو اورسنیو کې لاهمدغه اوتي بوتي ګرمي رواني وي اودامنیتي تړون له لاسلیک څخه اونی لا نه وې تېرې شوې، چې امریکایي بادارې خپله دوه مخي اوله منافقت ډکه څېره وروښوده، چې نه! خبره داسې نده، دامنیتي تړون دهرې مادې اوبند جوړښت صرف دامریکايي ارتیاوو اوغوښتنو په رڼاکې دتعمیل اوتطبیق وړ دی، عمل اونه عمل، تغیراوتبدیل اوهرډول مفهوم اوتعبیر ورنه اخیستل هم صرف په امریکایي چاروا کوپورې اړه لري، چې څنګه، فهم ورڅخه اخلي اوپه کوم لوري اړوي هغسې به اړول کیږي.

داوباما هغه ورستي حکم، چې خپلو جنرالانو ته يې صادرکړی اوددې خبرې اجازه يې ورکړې چې دوئ د۲۰۱۵ کال ترپایه کولای شي په افغانستان کې خپل هرډول عملیات سرته ورسوي، په جنګ اوجګړو کې برخه واخلي اودډرون بریدونو، بمباریو اوچاپو کرغیړنې لړۍ ته دوام ورکړي، داموضوع خپله روښانوي، چې

دامنیتي تړون لاسلیکول

هسې شکلي حیثیت لري اودهغوئ په ورانديځ کوم خنډ اومحدودی نشي رامخي ته کولای !که داوباما دغه پټه اجازه چې نیویارک

تایمز ورڅپاڼي هغه کشف اورسواکړې، بل کوم مفهوم اوتعبیر ولري، دکابل ړندورچیانو اوسیاستوال دې په دې اړه خپل توضیحات او تشریحات ووایي چې داوباما دبل کوم دلیل له مخې په پټه دیوبل کال لپاره په افغانستان کې دقتل، وحشت اوامریکایي بدماشۍ اجازه اوصلاحیت خپلو لښکرو اوجنرالانو ته ورسپارلو؟

دکابل رژیم واکداران دې ووایي چې امریکادامنیتي تړون په هغه بند چې د۲۰۱۴ کال ترپایه به خپل سرو عملیاتوته دپای ټکی ږدي، په خپلې ورستۍ ګام سره څومره عمل اودرناوی يې وکړ؟

که خبره همداسې وي، لکه چې ده هم، نوبیا دکابل ړندورچیانو ولې داوباماپه بدماشۍ اوخودخواهۍ څه و یلو ته تیار نه دي، اواصلي خبره نکوي چې دکومو وجوهاتو له امله يې بادار دامنیتي تړون په بندونو اووعدو داسې ژر پښه کېښوده.

اوکه جریان دامریکا او کابل رژیم ترمنځ دګډ توافق او غوښتنې په رڼاکې مخې ته راغلی وي، لکه چې یوه امریکایي جنرال (اف، کمپیل) هم همدغه ټکي ته اشاره کړې، چې داشرف غني په راتګ سره زمونږ اړیکې له کابل رژ، دکرزي داداره په نسبت دومره دوستانه اوتودې دي، لکه ورځ اوشپه

دجنرال په خبره، کیدای شي، اشرف غني له مونږ سره په ګډ نظر کې ددې غوښتنه کړې وي چې امریکایي جګړییز ماموریت دې دیوبل کار لپاره هم وغځول شي!

په هرصورت، که امریکیانو په خپله اویاهم دکابل ادارې په غوښتنه دبل کال لپاره دامریکایي جارحیت دغځولو پریکړه کړې وي، معنا اومفهوم یې یو اوښکاره ده چې دوئ نه غواړي افغان ولس اودسیمې ولسونه دارام اوثبات ساه واخلي او له امریکایي استبداد اووحشت پرته ژوند ولري.

په لوی سرکې دامریکایانو له لوري دکابل له مزدور رژیم سره دامنیتي تړون لاسلیکول په همدې نیت او فکر وو، ترڅو دخپلو ښکیلاکي عزایمو دترلاسه کولو په خاطر، افغانستان داور اوبارود په یوې داسې اډې اومیدان بدل کړي. چې هم افغانستان پکې الله مکره لولپه اوخپل ټول شته اوزخایر له لاسه ورکړي اوهم یې دپرګنو، باشهامته اسلامي غرور نه جبرانیدونکي زیان ووینې او په هغه سربیره، سیمې ته هم افغانستان دیو لوی ګواښ اوخطر په شکل کې رامخې ته شي.

اوس چې په اغلب ګمان امریکایانو اوکابل ادارې، په شریکه دیوبل کال لپاره دامریکایي وحشت دغځولو پریکړه کړې، معنایې داده چې دوئ په لوی لاس په افغانستان کې جګړه توده ساتل غواړي اودسولې ترعنوان لاندې چې کومې ناري اوسورې وهي، هغه صرف تیرایستونکي هڅې اوتش شعارونه دي.

که داسې نه وي، نو اشرف غني دې یو داسې کوم ژوندی مثال اوقدم وښيي، چې هغه دامن اوثبات لپاره اخیستی وي او افغانانو ته یې داډورکړی وي ،چې هغه به دجګړې تغر ټولوي.

اشرف غني، امنیتي تړون لاسلیک کړ، امنیتي سلاکار یې ددیني مدارسو دبندولو لپاره دخپل کثیف پلان له مخه پرده لیرې کړه، لورا غني داسلامي حجاب مخالفت ته راودانګل، دکابل له ځینو رسنیو څخه داسلام دمقدس دین او سپیڅلي پیغمبر ص، توهین وشو، پاکستان چین اوعربستان ته دسفرونو په مهال، اشرف غني عملا له دغو هیوادونو وغوښتل چې دطالبانو اومجاهدینو په خلاف ورسره په امریکایي جګړه کې پوره ونډه واخلي، همدارنګه یې ټولو قضایي اوعدلي اورګانونو ته رسما احکامات صادر کړل، چې داسیرو افغانانو چې دطالب اومجاهد شک اوشبه پرې کیږي په دوسیو اوقضیو کې له سختي څخه کارواخلي اوداسې نور

افغان ولس، بائید دامریکایانو اوکابل رژیم ورستي جګړییز سیاست اوناترسه تګلارې ته په کتو داحقیقت نور هم ښه درک کړي، چې امریکایان اوغلامان یې په هیڅ صورت په افغانستان کې دامن اوسولي برنامه اونیت نلري، ددوئ دغه غلیمانه ګامونه ددې ایجاب کوي چې مجاهدین هم بائید دکلکو اوځپونکو ګوزارونو اوجهادي تکتیکونو په عملي کولو سره، داسلام اوافغانیت تاریخي دښمنانو ته عبرتناکه درس ورکړي اوپرې نږدې چې داشرف غني اودشمالي ټلوالي مزدوررژیم اوداشرف غني عیسوي میرمن، دافغانانود اسلامي اوملي معتقداتو دبیخکنی جرري وځغلوي اوامریکایي شوم عزایم پلي کړي.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

د اسلام نړیوال قانون

ژباړه شهاب منصور

دوهمه برخه لیکوال داسلامي نړۍ ثقه عالم ارواښاد دوکتور محمد حمید الله

مکه مکرمه کې چې کله داسلام لومړۍ پیلمه و شوه، هلته دمسلمانانو حیثیت د یو مملکت دننه دبل مملکت په بڼه و، کله چې هجرت وشو، مسلمانان مدینې منورې ته مهاجر شول، په څواوونیو کې دننه دننه مسلمانانو یو نوی مملکت جوړ کړ، موږ ته دهغه دستور هم رسیدلی، کوم چې ددې لپاره لاربشود هم دی، چې حکومت څنګه جوړیږي؟ تاریخ کې موږ دپخوانیو سلطنتونو په اړه داسې څه نه مومو! رسول الله (ﷺ) چې څه مهال مدینې منورې ته لاړ، هلته څو په شمار قبایل میشت وو، دهغوئ ترمنځ دشاوخوا یوسل شل کلو راهیسې دښمنې روانه وه، هیڅ مرکزي حکومت، یا تنظیم نه و، رسول الله (ﷺ) هغوئ ته وړاندیز وکړ، راځئ د دفاعي اوقضائي چارو سرته رسولو لپاره په مدینه کې میشت خلک سره ځانونه منظم اویو کړو! ددې لپاره یوتن به خپل مشر غوره کړو! درسول الله (ﷺ) دا وړاندیز دمدینې خلکو قبولکړ، اوس پوښتنه دا ده، چې ولې دمدینې خلکو رسول الله (ﷺ) دخپل مشر په توګه غوره کړ؟ سره ددې چې مسلمانان دښمېر له پلوه اکثریت نه وو، د مسلمانانو دوه ډلې وې، یوه ډله مدني مسلمانان یعنې انصار ول، اوبله ډله دمهاجرینو یعنې دمکې نه دلاړو مسلمانانو وه، په هغوئ سربیره مشرکان هم وو، (کومو چې تردې وخته اسلام لا نه وقبول کړی) یهود هم وو، څو عیسایان هم وو، ددومره تنوع اوخپلمنځي اختلاف سربیره موږ وینو چې هغوئ رسول الله (ﷺ) دخپل مشر په توګه اومانه! ددې وجه دا په نظر راځي، چې په مدینه کې دمیشت قبایلو ترمنځ پخوانۍ لویه دښمنۍ وې، دا ناممکن وه، چې دهغوئ دمنځه څوک مشر غوره کړی و، که د یوې قبیلې سړی یې مشر کړی و، بلې نه مانه، په دا سې حالت کې ټولو ته دا غوره ښکاره شوه چې دریم سړی دمشر په حیث اومني. غالباً همدا وجه به وه چې د ټولو په اتفاق رسول الله (ﷺ) مشر غوره شو، بیا یې دمشر او رعیت حقوق اوفرایض دکاغذ په مخ په ښه تفصیل سره ولیکل، هم هغه پریکړه لیک ته موږ دښاري حکومت یعنې دمدینې دستور وایو! هغه دستور موږ ته رسیدلی، په هغه کې دکورنیو چارو تنظیمولو، دجنګونو اوسولې په اړه قواعد

اوقوانین لیکل شوي، په هر صورت کله چې دا حکومت جوړ شو، مسلمانان ډېر ژر دجنګونو سره مخښول، په دې توګه دهجرت په دوهم کال په بدر کې دمکې مشرکانو سره یعنې دمکې دښاري حکومت دا و دمدینې ښاري حکومت ترمنځ جنګ راغی، په نړیوال قانون کې عموماً له دوه شیانو څخه بحث کیږي، یعنې دجګړې په حالت کې اودامن په حالت کې به زموږ اړیکې دنورو سره څنګه وي؟ رسول الله (ﷺ) ته دامن په حالت کې په لاس یواځې څو په شمار میاشتې ورغلې، دهغه وروسته دبدر جنګ پیښ شو، دنړیوال قانون دویم جزء یعنې دجګړې په حالت کې قوانین څه دي؟ درسول الله (ﷺ) له کړنو څخه موږ ته ددې بیلګې په نظر راځي، یعنې دجنګ اعلان وکړای شي او که نه؟ په جګړه کې یواځې هغه بالغان نارینه ووژل شي، کومو چې وسله پورته کړې؟ که ددښمن هر وګړی، ماشوم، ناروغ، میرمن او غلام هم وژلی شو؟؟ هم داسې که موږ ته په جنګ کې ددښمن خلک په لاس راشي، نوله جنګي قیدیانو سره به څه ډول سلوک کولی شي؟ ایا هغوئ به قتلولی شي؟ په وړیا توګه به

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

پریښودلی شي؟ یا داچې دفدیې په بدل کې به خلاصولی شي؟ یا دتبادلې په صورت کې چې زمونږ کوم قیدیان ددښمن سره دي، دهغوئ په عوض کې ددښمن قیدیان چې مونږ سره دي خوشې کولی شي؟ په دې توګه ګڼ تفصیلات چې دجګړې دقانون په اړه دي، په دې ټولو کې درسول الله (ﷺ) کړه وړه دمسلمانانو لپاره نمونه دي!! کله دقولي حدیث او کله دفعلي حدیث، له لارې، په هر صورت په دې دواړو طرقو سره اسلامي قانون جوړ شوی، داسلام دنړیوال قانون وجود ته راغلی! په هغه کې مونږ مومو چې ددې خبرې امتیاز نشته چې نامسلمان سړی به په هر دین و، یهودي و، که بت پال دا توپیر نشته، له ټولو سره به په ټاکلو قواعدو عمل کېږي، مثلاً دجنګ اعلان ته اړتیاده، نو دا علان دهغه هېواد په ضد هم کېدای شي چې هغه دکوم دین نه پیروي کوي، دهغه هېواد پرضد هم کېدای شي چې هغه بت پال دی او دهغه پرض هم چې هغه له سره هیڅ هم نه مني او داسې نور...

غرض داچې په دې توګه رسول الله (ﷺ) په لس کلن مدني ژوند کې داسلام نړیوال قانون لپاره معین قواعد مدون کړل، بیا وروسته چې کله پر دې موضوع کتابونه لیکل پیل شول، مسلمانو مصنفینو دمعمول سره سم لومړی عظیم الشان قرآن ته کتل، قرآني ایاتونه یې راوړل، کنه درسول الله (ﷺ) په حدیث عمل یې کاوه، چې په فلانې موقع رسول الله (ﷺ) داسې ویلي، یا یې دا کړي! نو اسلامي قانون دادی! داسلام نړیوال قانون درسول الله (ﷺ) دمدني ژوند سره تړاولري، دمکي ژوند په لور یې مونږ ډېر لږ رجوع کولی شو! ولې هلته دیو حکومت دننه بل حکومت بنه وه، په هغه دوره کې جنګ ندی پیښ شوی، اګر که دمشرکانو لخوا مسلمانانو ته اذیتونه ورکول کېدل، آن چې وژل کیدل هم، خود جنګ حکم نه و شوی، وروسته چې مسلمانانو کې فقهي وده وکړه، دکومې په اړه چې ما واندې یادونه وکړه، بیا مسلمانو علماوو په فقه کې کتابونه لیکل شروع کړل، دلویدیځ په مقابل کې دهغوئ فکر ډېر پراخ و، دقانون دجامعیت لپاره یې دلومړی ورځې نه ددین او دنیا دواړو معیارونه په دقت سره وڅېړل، په هغو کې دلمانځه، روژې، زکات او حج په څیر عبادات هم وو، دسوداګرۍ او دوراثت قوانینو سربېره دنړیوال چارو قوانین هم راوړل، داسلامي فقهاوو په اند: نړیوال قانون نوی څېز نه و، بلکې زمونږ خپل څېز و، زمونږ په دې معنی چې داجنبي هېوادونو سره که دجګړې حالت وي، یا دامن حالت، مونږ به په کومو اصولو اوقواعدو عمل کوو؟ هغه زمونږ نړیوال قانون دی! دانه چې دا مودنورو په سلا اوخوښه مدون کړی اوبیا وربانديې عمل کوو! بلکې داسلامي فقهاوو په اند: داسلام نړیوال قانون داسلامي قانون یو جزء دی، له دې وجې کله چې اسلامي فقهاوو، دقوانینو دمجموعو په تدوین پیل وکړ، دعباداتو، معاملاتو، رواج، وراثت اونورو ترڅنګ یې دنړیوال قانون څېر به هم ضروري وګڼله! په ظاهره یې ورته د"سیر" نوم کیښود، د"ظاهر" قید ددې لپاره راوړم چې اوس مونږ سره دفقهې کوم پخوانی کتاب دی، هغه دامام زید بن علي رحمه الله کتاب "المجموع في الفقه" دی، زید (رضي الله عنه) دزیدیه فرقې بنسټ ایښودونکی، د حسین (رضي الله عنه) لمسی او دزین العابدین (رضي الله عنه) څوی و "زید بن علی زین العابدین ډېر لوی عالم و، هغه د"المجموع الفقه" په نوم کوم کتاب لیکلی، هغه کې یو باب دنړیوال قانون په اړه دی، ورته یې چې د"کتاب السیر" نوم ایښی، "سیر" جمع د"سیرت" ده، مشهور حنفي امام "سرخسي" (رحمه الله) پخپل کتاب "المبسوط" کې لیکلي چې له سیرت نه مراد دوا کمنو هغه کړه وړه دي چې دجنګ او امن په دواړو حالتو کې یې داجنبیانو په اړه لحظولی شي اوپکې دا هم په ګوته کوي چې ددغه قانون اطلاق نه یواځې دبهرنیو هېوادو په اتباعو کېږي، بلکې زمونږ دهېواد دننه په میشت دوه ډوله خلکو هم کېږي، یو په مرتد! بل په باغیانو! ددې څخه څرګندېږي چې دنړیوال قانون اسلامي تصوردهغه تصور په پرتله چې نن سبا په لویدیځ کې شتون لري، ډېر پراخ دی، په هر صورت امام زید بن علي په لومړی ځل د"سیر" اصطلاح دنړیوال په معنی کارولې، له هغه مهال راهیسې ترننه په اړه یې چا اختلاف ندی کړی، هر مصنف که هغه حنفي، شافعي، مالکي، حنبلي او شیعه دی ټولو د"سیر" اصطلاح په همدې معنی کارولې، له یو استثناء پرته او هغه هم نیمګړې استثناءده، هغه ډله چې خوارج بلل کېږي، دهغوئ یو فقهي کتاب چې ما په خورا مشکله لاسته راوړی دی، هغه کې د"کتاب السیر" په ځای د"کتاب الدماء" (یعنې دوینو قانون) اصطلاح کارولې، ولې په جنګ کې د وینو له تویولو نه بحث کېږي، ما یې چې په اړه نوره پلټنه وکړه، دتاریخ نه جوته شوه چې ما سره کوم کتاب دی، هغه دیو هم عصر مصنف له کتاب را خستې اوپخوانی مصنف ورته د"سیر الدماء" نوم ایښی، هغه دسیر لفظ چې مونږ یې

کـارور، هغوئ یـې د "دمـاء" یعنـي وینـې سـره تـړي، "سـیرالدماء" یعنـي دوینـو پـه اړه طرزالعمل! خو اوسنیو مصنفینو دسیرلفظ دا چې یوځه دروندی حذف کړی، په "کتاب الدماء سره یې" نومولی، غرض دا چې دنړیوال اسلامي قانون ترټولو پخوانی کتاب چې مونږ سره شته دی، هغه دامام زید بن علي (رحمه الله) کتاب دی، څوک چې دهجرت په ۱۲۰ کال وفات شوی دی، نوموړی په یولحاظ دامام ابو حنیفه (رحمه الله) په استادانو کې هم راځي، هغه داموي سلطنت پرضد بغاوت وکړ، ملګرو یې ورسره جفا وکړه او تړي جلا شول، بالاخر هغه ونیول شو، دهجرت په ۱۲۰ کال شهید کړای شو او امام ابوحنیفه (رحمه الله) دهجرت په ۱۵۰ کال وفات شوی. د۱۲۰ هجري او۱۵۰ ترمنځ نوموړي په دې موضوع یو ځانګړی کتاب ولیکه، هغه یې په "کتاب السیر" ونوماو، دنوموړي تاریخ ډېر جالب دی، امام ابوحنیفه هغه فقیه دی، چا چې فتوا ورکړه که ټول تدبیرونه ناکام شول، بیا داسلامي سلطنت مسلمان رعیت کولی شي د خپل واکمن پر خلاف بغاوت کولو ته پورته شي، نورفقهاء دد غه ډول فتوا له ورکولو ډاریدل، کله چې امام ابوحنیفه (رحمه الله) فتوا ورکړه، هغوئ یې په رد کې کتابونه ولیکل! دامام ابوحنیفه (رحمه الله) فتوا پردې حدیث بناء وه: "من رأى منكم منكراً فليغيره بيده، فان لم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فبقلبه وذلك اضعف الايمان" یعنې که څوک پر بدو ووینئ، پکاردی هغه په زور منع شي، اصلاح کړای شي، که په زور ممکن نه و، بیا په ژبه وپوهول شي! که دا وس هم نلري، بیا دې په زړه کې هغه بد وګڼي! که یو سړی بل په بد کار کې ښکېل ویني او بد یې نه ګڼي!! لیدونکی به مسلمان نه دی!! لږترلږه په زړه کې بد: بد ګڼل دایمان کمزورې مرتبه ده، دا دامام ابوحنیفه مستدل و! نورو فقهاوو چې هغه سره مخالفت کاو، هغوئ ویل: بغاوت پکار ندی، استدلال یې په دې حدیث و: چې که واکمن تاسو سره عدل کوي، دخدای (جل جلاله) شکر کوئ او که په تاسو ظلم کوي نو بیا صبر کوئ! په دې توګه یوه معنی کې دوه حدیثونه منډل کېږي، چې په ظاهره دهغو ترمنځ تضاد لیدل کېږي، اګر که دسیاق او سباق له پلوه جلا دي، امام ابوحنیفه هم دا نه ویل: چې هر وخت په هره کوچنۍ خبره دوخت دحکومت خلاف پاڅون روا دی، بلکې هغه شرط ږدې چې کله ټول کوښښونه ناکام شي، بیا دواکمن پرضد پاڅون پکار دی، دلته په کومه موضوع چې بحث کوو، یعني داسلام دنړیوال قانون په لړ کې دا کتاب دومره لوی اهمیت لري، چې کله امام ابوحنیفه (رحمه الله) هغه ولیکه، نو سملاسي یو بل معاصر فقیه امام اوزعي (رحمه الله) په رد کې یې یوه رساله ولیکله، بدبختانه چې هغه اوس مهال له مونږ سره نشته، او نه دامام اوزعي کتاب، سیوا دځو هغو اقتباساتونه، کوم چې امام شافعي (رحمه الله) پخپل "کتاب الام" کې راټول کړي، له هغونه جوتیږي چې دکومو، کومو څېزونو په برخه کې امام اوزعي دامام ابوحنیفه (رحمه الله) سره اختلاف کړی؟ اوزعي ددمشق فقیه و، امام ابوحنیفه دعراق و، کله چې اوزعي دهغه په کتاب نقد ولیکه، امام ابوحنیفه خپله مناسب ونه ګڼله چې هغه ته ځواب ولیکي، پخپل یو شاګرد (امام ابویوسف) یې ورته ځواب ولیکه، دا کتاب هم مونږ سره خوندي نشته، البته دامام شافعي (رحمه الله) پ "کتاب الأم" کې چې کوم اقتباسات دي، په هغو کې یې یادوونه شوي، چې د هغو اقتباساتو په مرسته ما یو کتاب ترتیب کړ، هغه دحیدراباد دکن "مجلس دایرة المعارف" په کوښښ چاپ شوی، دهغه کتاب نه، دامام ابوحنیفه، امام اوزعي، امام ابو یوسف، او پخپله دامام شافعي په نیوکو او ځوابونو علم راتلای شي، په دې توګه دامام شافعي دکتاب په برکت ددغو نایابو کتابونو ذخیره له مونږ سره خوندي ده، که څو هم هغه کتابونه په بشپړ ډول مونږ ته ندي رسیدلي، په دې لړ کې ابن حجر په "تاسیس التوالیف" کې کوم چې دامام شافعي دژوند په باب دی، یوځای لیکلي: په "سیر" باندې ترټولو اول امام ابوحنیفه کتاب لیکلی و، دکوم ځواب چې امام اوزعي او هغه ته "جواب الجواب" امام ابویوسف لیکلی و، بیا پرې تبصره امام شافعي پخپل کتا (کتاب الام) کې لیکلي!! دا و داسلام دنړیوال قانون په اړه دکتابونو دپیل سرګذشت چې تاسو ته مې عرض کړ.

داسلام دنړیوال قانون بحث ترټولو مخکې د "زیدبن علی" په کتاب "المجموع" کې راغلی، خو دهغه یواځې یو باب ددې موضوع په اړه دی، څنګه چې ابن حجر ویلي: چې په دې موضوع مستقل کتاب ترټولو ړومبی امام ابوحنیفه (رحمه الله) لیکلی و، او باوردی چې هغه به دخپل معمول سره سم خپلو شاګردانو ته په دې موضوع درس ورکړی وي، ولې دامام ابوحنیفه د درس ویلو طریقه

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

داسي وه چې په پیل کې به هغه خپل علمي معلومات بیانول، بیا یې دشاګردانو سره دهغو معلوماتو په اړه بحث کاو، له هر شاګرد نه یې دهغه رایه پوښتله، په دې توګه به مختلف اړخونه اونکات را څرګند شول، بیا دامام ابوحنیفه (رحمه الله) دهمدي درسونو اولیکچرونو په مرسته ښه ضخیم، ضخیم کتابونه ولیکل شول، په دي موضوع دامام ابوحنیفه کتاب ترموږ ندی رسیدلی، خوښکاري چې هغه به ښاوخوا ښل پنځویشت مخونو کې و، البته په دې اړه، دهغه د شاګردانو، امام محمد شیباني، امام زفر او امام ابراهیم الفزاری کتابونه په سوونو مخونو کې تر موږ رسیدلي!! زما په نظر ممکن سهي نه وي، چې کله امام ابوحنیفه (رحمه الله) په دې موضوع درس ورکاو، د درس یاداښتونه یې دکتاب په بڼه مدون کېدل، کوم چې وروسته شاګردانوته منسوب شول، دهغونه دامام الفزاري کتاب دمخطوطې په شکل په مراکش کې شته دی، ما یوځل دهغه دلوست کوښښ وکړ، خودا چې د کوفي خط په لیکدود لیکل شوی په ډېره مشکله مې څو مخونه ولوستل، بیا مې پرېښود، تر اوسه دهغه فوټو کافي ما سره شته ده، دخپرولو نوبت یې ندی راغلی.

امام محمد شیباني چې دامام ابوحنیفه شاګرد دی، هغه په دې موضوع دوه کتابونه لیکلي، چې یو ته "کتاب السیر الصغیر" ویل کېږي، اوبل ته "کتاب السیر الکبیر"؛ لومړی یې "السیر الصغیر" لیکلی و، امام اوزعي طنزاً وویل: عراقیانو څنګه په دې موضوع دلیکلو جرئت وکړ؟ ځکه هغوئ خو دحدیثو سره زیات بلد ندي، په غبرګون او ځواب کې امام محمد د "کتاب السیر" په نوم یو بل جامع کتاب ولیکه، کله چې دهغه یوه نسخه یې بشپړه کړه، هغه دومره لویه وه، چې خلیفه "هارون رشید" ته یې دوالی په توګه کله وروړله. نو ښکې کې یې انتقال کړه، هغه (کتاب السیر) موږ ته دمفصلې شرحې په صورت کې رسیدلی، کولی شو چې دشرحې نه هغه جلا ترتیب کړو! خو شرحه یې هم ډېره ښه شرحه ده، امام سرخسي چې دپنځمې هجرې پېړۍ مشهور حنفي فقیه تیر شوی، ددې کتاب شرحه یې لیکلې، دامام سرخي دشرحې باره کې به تاسو ته یوه ډېره دعبرت نه ډکه کیسه وکړم: هغه داچې امام سرخي ډېر زیات دهین، حق پالونکی، حق ویونکی عالم اوبې جوړې فقیه و، دهغه باره کې مشهوره ده چې هغه بندي شوی و، ځما درانه استاد "مولانا مناظر احسن ګیلاني رح" رایه دا وه چې امام سرخسي دیوې فتوا ورکولو له امله بندي شوی و، هغه مهال د "قره خان" په نوم واکمن و، هغه به له خلکو نه په ظلم مالیه او ټیکسونه اخستل، امام سرخسي فتوا ورکړه، چې درعیت لپاره ناروا مالیه ورکول ضرور نده!! دي واکمن په غوسه کړ، داچې امام سرخسي دوخت لوی فقیه و، په خلکو کې زیات منلی و، له دې وجې پاچا یې د وژلو جرئت ونکړای شو! هغه یې په یوه توره کنده کې قید کړ! دقید موده آن ترڅوارلس کلو وغځیده! په دغه موده کې هغه پاچا پخپله یا دمحبس درئیس لخوا دامام سرخسي شاګردانو ته اجازه ورکړه، چې تاسي کولی شي هر سعار دکندې په غاړه کینئ! او دخپل استا دخولې ارشادات یاداښت کړئ! دمحبس درئیس ددې علم دوستۍ زه هم شکر ګذاریم! او باور دی چې تاسو به هم وئ!، د څوارلس کلو نو په موده کې امام سرخسي (رحمه الله) به په لوړ غږ شاګردانو ته املاء کوله! په دې ترتیب شاګردانو به دهغه درس لیکه! تر دې چې دهغو نه ضخیم، ضخیم کتابونه تیار شول، نن موږ دهغو کتابونو دفهرست په لیدلو حیران پاتې کېږو! غالباً تاسو به خبریئ، چې "کتاب المبسوط" په دیرشو ټوکونو کې چاپ شوی! دا ټول له هغه کندې نه لیکل (املاء) شوی، "شرح السیر الکبیر" په څلورو ټوکونو کې لوی کتاب دی، هغه یې هم له بندي خانې څخه په شاګردانو داملاء کولو دلارې لیکلی دی، هم دا راز دفلاني کتاب شرح، دفلاني کتاب شرح او دیو درجن نه زیات کتابونه کېږي، چې هغه ټول یې دهمدې قید په زمانه کې د املاء کولو له لارې لیکلي، خدای (جل جلاله) موږ ته ازادې په نصیب کړې، موږ ته پکار دی چې د ازادۍ نه ګټه واخلو! له علماوو نه علم یاد کړو، چا چې دبندي خانې دننه په داسې حال کې چې هیڅ یو کتاب هم ورسره نشته، بیا یې هم ځان معذور ونه ګاڼه، خپل علم ته یې شانکړه او یوه داسې لامثال علمي کارنامه یې سرته ورسوله او دومره لوی خدمت یې وکړ، چې نن ډېر لوی، نه لوی عالم هم دهغه خدمت په عشر عشیر کولو هم ویاړي!

نوربیا

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

په هر ولايت کې زمونږ ښوونځي فعال او له پوره پاملرنې او څارنې برخمن دي

لومړی پوښتنه: لومړی که خپل ځان را معرفي کړئ او بیا په تیر کال کې د تعلیم او تربیې د کمیسیون د پر مختګونو او فعالیتونو په هکله که معلومات راکړئ او دا راته و وایاست چې په دې برخه کې تاسو له کومو جدي ستونزو سره مخ سوي یاست؟

ځـــــواب: نحمده ونصلي على رسوله الكريم امابعد:

ستاسو دلومړۍ پوښتنې د لومړۍ برخې په اړه به ووایم چې:

زه مولوي محمداقبال د کابل ولایت اوسیدونکی د اسلامي امارت د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو کمیسیون مسئولیت په غاړه لرم.

او د پوښتنې دوهمه برخه چې یو څه تفصیل غواړي کوښښ به وکړو د تیر کال د پر مختګونو او برياوو په هکله تاسو ته یو څه معلومات درکړو او د ځینو ستونزو یادونه به هم وکړو ان شاالله.

محترمو! : تاسو ته معلومه ده چې د ښونې او روزنې او لوړو زده کړو کمیسیون د خپل مسئولیت په دننه کې په مختلفو استقامتونو کار کوي لکه: د ديني ليله مدارسو، کليوالي مدرسو، دار الايتامونو، دار الحفاظونو، عصري تعليمي ادارو، د لوړو زده کړو مؤسساتو او پوهنتونونو، دافتاء او قضاء د تخصصي درسونو او داسې نورو...

لله الحمد مونږ په هره برخه کې پرمختګونه لرو چې په لنډه توګه یې په لاندې ډول وړاندې کوو:

١- ديني ليليه مدارس:

الف: لکه چې تاسو ته معلومه ده د دغو مدارسو لپاره یو جامع نصاب ترتیب شوی او په هغې سربیره د دغو مدارسو د نظم، ښوونیز کیفیت د لوړولو، ازموینو او نظارت کولو او نورو اړوند مقرراتو لپاره په شلو (٢٠) مادو مشتمله یوه ضابطه او تګلاره د مدارسو د استاذانو او شیوخو د مشورو په نتیجه کې ترتیب شوې ده.

د تعلیمي نصاب او د دغو اصولو او مقرراتو د تطبیق په منظور د ١۴٣۴ هق تعلیمي کال د شوال المکرم د میاشتې په لومړیو کې چې تعلیمي کال پیل کیږي زمونږ د تعامل سره سم د ټولو مدارسو د مهتممینو او مسئولینو غونډې په مختلفو ځایونو کې راوغوښتل شوې او د نوي تعلیمي کال پروګرامونه ورته تشریح او د تیر کال اجراءات وڅیړل شول.

ب: د تیر ١۴٣۵ هق تعلیمي کال د ربیع الثاني د میاشتې په (۵-٦) نېټه دوې ورځې د دغو لیلیه دیني مدارسو د لسمې (موقوف علیه) درجې د طالبانو ترمنځ یوه تقریري مُسابقه (سیالي) تنظیم شوه دغه تربیتي تقریري سیالي چې په دوو (٢) کاري طرفونو کې هم مهاله ترتیب شوې وه د (٧١) مدارسو (٧١) تنو طالب العلمانو یکې برخه واخیسته د هغوی لپاره د تقریر موضوع (په شریعت کې د فقهې اهمیت او ضرورت) ټاکل شوې وه چې دوی خپل تقریرونه د همدې موضوع

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

په اړه عيار او ترتيب کړي وو د تقريرونو د خپرني او ارزيابي او نمبرو ور کولو لپاره ور ته د علماؤ او مسلکي اشخاصو څخه هيئت ټاکل شوی ؤ چي هم مهاله يې د دوی تقريرونه ارزيابي کول او نمبرې ور ته لګولې . په تقريري مقابله کې د کاميابۍ او د ښو نمبرو د حصول لپاره ور ته لاندې څلور معيارونه ټاکل شوي وو :

(۱) په موضوع کې انحصار او خروج د بحث نه نکول . او د موضوع اثبات په دلائلو معتبر وو سره .

(۲) په فصاحت او بلاغت سره تقرير کول د الفاظو صحت . منطقي تسلسل او حُسنِ ابتداء او اختتام په پام کې نيول .

(۳) په جرأت . او جهوري صوت سره تقرير کول . او په تقرير کې د سامعينو او ناظرينو توجه را جلبول .

(۴) د شريعت او نبوي سنتو مطابق هيئت او صورت لرل . او د تقرير په جريان کې مناسب انداز خپلول او د نامناسبه حرکاتو څخه اجتناب کول .

د تقرير لغت په پښتو . فارسي او عربي ژبو ټاکل شوی ؤ خو په عربي ژبه يې امتياز درلود چي په دغه لړۍ کې الحمدلله د مسابقې برخه والو طالبانو پوره امادګي نيولې وه او په ټولو پور تنيو ژبو يې تقريرونه وکړل او د موضوع په باب يې ښه مستند دلائل وړاندې کړل چي هم يې خپل استعدادونه وازمايل او هم يې نورو ته پوره معلومات وړاندې کړل . په پای کې د هر کاري طرف لسو لسو غوره مقررينو ته په متناسب توپير سره انعامونه او تحسين نامې ور کول شوې .

ج : د ۱۴۳۵هـ ق تعليمي کال د رجب المرجب په (۱۸) نېټه د دغو مدارسو د پولسمې درجې (دورة الحديث) او لسمې درجې (موقوف عليه) د طالبانو کلنۍ ګډې او هم مهاله ازمويني واخيستل شوې چي (۶) ورځې يې دوام درلود . دغه ازمويني چې د يوه منظم پروګرام او ترتيب له مخې په ګنو مرکزونو کې تر سره شوې نګرانان ور ته ټاکل شوي وو په يو وخت به شروع کېدلې او په يو وخت به پای ته رسيدلې . د دغو امتحاناتو پاڼې د استاذانو او شيوخو لخوا کنټل شوې په لنډ وخت کې به يې نتيجې اعلان شي او کامیابو اشخاصو ته به ښه معتبر او په زړه پورې سندونه (شهادت نامې) ور کول شي .

د : د ۱۴۳۵هـ ق تعليمي کال د شوال المکرم د مياشتې په لومړيو کې چې د دې تعليمي کال پيل دی يو ځل بيا د مهتممينو او مدارسو د مسئولينو غونډې او مجلسونه جوړ شول او د نوي تعليمي کال د پروګرامونو په اړه ور ته لازم هدايات او معلومات ور کول شول لکه د نصاب د پوره تطبيق اهتمام کول . د داخلي امتحان اخيستل . د حاضرۍ د ضوابطو عملي کول او بالآخره د شلو مادو د پوره رعايت کولو او داسې نورو مهمو ټکو سپارښتنه ور ته وشوه او هم په سږ کال کې د يوې بلې درجې يعنې د (متوسطه) درجې د کلنۍ ګډ امتحان چې په هم مهاله توګه به اخيستل کيږي دوی ته خبر ور کول شو .

هـ : د ټولو مدارسو لپاره د استاذانو او شاګردانو د حاضرۍ کتابونه په مناسب سايز او ښايسته ډيزاين چاپ او ټولو مدارسو ته توزيع شول تر څو استاذان او شاګردان د حاضرۍ په ضوابطو مکلف او د بې نظميو مخه ونيول شي .

و : په سږ کال کې به د ديني مدارسو د نصاب مطابق د مروجه علومو د ټولو کتابونو د اسباقو لپاره د ورځو . هفتو او مياشتو په حساب کلنی مهال ويش جوړيږي تر څو اسباق په تدريجي دول د ټول تعليمي کال په موده کې د دريو ازموينو د وختونو په تناسب پر مخ لاړ شي او په اسباقو کې د کميت او کيفيت له لحاظه ښه نظم او دسپلين رامنځ ته شي .

۲ - کليوالي مدرسې :

الف : دغه کليوالي او نهاري مدرسې چې زمونږ د کميسيون له مهمو هدفونو څخه دي ځکه چې زمونږ د کليوالي سيمو ضرورت او اړتيا ور ته ډيره ده نو ځکه کميسيون سږ کال د ۱۴۳۵هـ ق کال د جمادی الأولی په (۶ - ۷) نېټه په عمومي غونډو کې پريکړه وکړه چې د دغه مخکښي عمومي پروګرام سربيره چې د کليو امامان به د خپل کلي د ماشومانو په درس او تعليم مکلف وي د سږ کال لپاره به د ولايتونو د ښوونې او روزنې رئيسان مکلف کيږي تر څو په خپلو مربوطه ولسواليو کې په هره ولسوالۍ کې اقلاً دوه دوه داسې منظمې مدرسې جوړې کړي چې منظم پروګرام . ټاکلي استاذان . د حاضرۍ ضوابط او ازمويني ولري چې په ډيرو ولايتونو کې دغه کار عملي شوی او ډيرې داډول مدرسې تأسيس شوي دي چې دغه لړۍ به ان شاء الله نورې کړی هم وموي .

ب : د دغو کليوالي مدرسو لپاره چې کوم نصاب جوړ شوی ؤ اوس يې د بيا کتنې مراحل نږدې بشپړ شوي دي د علماؤ او شيوخو تر مطالعې او کتنې لاندې دی په لنډ وخت کې به چاپ شي ان شاء الله .

۳ - دار الحفاظونه :

الف : د ۱۴۳۵هـ ق کال د ربيع الأول په مياشت کې د جيدو او تجربه لرونکو حافظانو او د دار الحفاظونو د استاذانو عمومي غونډې او مجلسونه جوړ شول چې يو کې د دار الحفاظونو لپاره د يو مختصر نصاب د جوړولو او دغه راز د دار الحفاظونو لپاره د ضوابطو او مقرراتو د ترتيبولو په خاطر نظريات راټول شول چې اوس د کميسيون لخوا تر کتنې او توحيدولو لاندې دي د دغو نظرياتو او نورو مشورو په نتيجه کې به د دار الحفاظونو د شاګردانو لپاره داسې يو مختصر او لنډ نصاب جوړ کړل شي چې د دار الحفاظونو شاګردان به د حفظ تر څنګ د دغه نصاب په لوستلو سره د ديني عقائدو او ضروري شرعي احکامو څخه هم پوره معلومات ولري او هم به دار الحفاظونه د نظم او پر مختګ په خاطر ضوابط او مقررات ولري .

ب: د دارالحفاظونو د عمومي کیفیت د سموالي او د قرآن کریم د حفظ د اهتمام په منظور د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو کمیسیون د تیر کال په لومړیو کې پریکړه وکړه تر څو د ټولو دارالحفاظونو د کامل الحفظ شاګردانو څخه کلنی مشترک امتحان په هم مهاله ډول واخیستل شي تر څو له یوې خوا په دې سره استعدادونه وځلیږي او له بلې خوا د قرآن کریم د حفظ د ښه کیفیت اهتمام زیات شي نو هماغه ؤ چې په (۱۱) د رجب المرجب ۱۴۳۵هـ ق کال په ټولو دارالحفاظونو کې دغه ازموینه تر سره شوه. سمتونه او حوزې ور ته تعیین شوې، د هرې حوزې لپاره دوه دوه جیداو مجرب حافظان د ممتحینو په توګه وټاکل شول د سوالونو او پوښتنو ترتیب او نور مربوط معیارونه ور ته په ښه شوي وو چې تقریباً د یوې هفتې په موده کې دغه امتحانونه واخیستل شول چې پوزر اویا (۱۰۷۰) تنو کامل الحفظ حافظانو امتحان ور کړ، بیا د کمیسیون لخوا د نتائجو د ترتیب څخه وروسته کامیابو حافظانو ته په زره پورې سندونه توزیع کړی شول چې دغه یوه لویه لاسته راوړنه وه چې ټول دارالحفاظونه یې خپلو کاري مسؤلیتونو ته متوجه کړل او دغه لړۍ به نوره هم د کیفیت په ښه والي سره پرمخ ځي.

۴-عصري تعلیمي ادارې:

الف: د عصري تعلیمي ادارو د مراقبت او نظارت په لړ کې او د دغو ادارو د زده کونکو دیني او تربیتي اړخ ته د پام لرنې او سمونې په منظور سږ کال په بیلابیلو ولایتونو کې د لېسو د دولسمو ټولګیو د زده کونکو تر منځ د تقریري مسابقو په ترڅ کې تربیتي پروګرامونه جوړ شول دغه پرګرامونه چې په (میدان وردګو، ننګرهار، پکتیا، غزني، کندز او داسې نورو) ولایتونو کې په مختلفو وختونو کې ترتیب شول لاندې ځانګړ تیاوې یې درلودې.

۱ - دغه تربیتي پروګرامونه د هرې ولسوالۍ په سطحه جوړ شول.

۲ -د هرې لېسې څخه د دولسم ټولګي یو زده کونکي برخه پکې اخیسته او دا به هغه زده کونکی ؤ چې د خپلې مربوطه لیسې په سیالۍ کې به په لومړۍ درجه کې راغلی ؤ.

۳ - د تقریر موضوع ور ته سیرت النبی صلی الله علیه وسلم ټاکل شوې وه.

۴- د تقریرونو د ارزیابۍ او څیړنې لپاره د علماؤ او فني اشخاصو څخه هیئت ور ته ټاکل شوی ؤ چې هم مهاله یې د دوی تقریرونه او ورسره ټول هغه معیارونه چې په ګوته شوې وو ارزیابي کول او نمبرې یې ور کولې.

۵- په تقریري مقابله کې د کامیابۍ او د ښو نمبرو د حصول لپاره ور ته لاندې څلور معیارونه ټاکل شوي وو: ۱- په موضوع کې انحصار او خروج د بحث نه نکول، او د موضوع اثبات په دلائلو معتبرو سره. ۲- په فصاحت او بلاغت سره تقریر کول د الفاظو صحت، منطقي تسلسل او حُسنِ ابتداء او اختتام په پام کې نیول. ۳- په جرأت، او جهوري صوت سره تقریر کول، او په تقریر کې د سامعینو او ناظرینو توجه راجلبول. ۴- د شریعت او نبوي سنتو مطابق هیئت او صورت لرل، او د تقریر په جریان کې مناسب انداز خپلول او د نامناسبه حرکاتو څخه اجتناب کول.

۶- دغه پرګرامونه چې یوه ورځني وو په پای کې ښو نمبرو اخیستونکو ته انعامات او جائزې ور کول کېدې دغه پروګرامونه چې په نظر کې ده په راتلونکي کې په بیلابیلو دیني، عقیدوي، ادبي او اخلاقي موضوعاتو مشتمل وي په ډیرو ځایونو کې جوړ شي څکه له یوې خوا د مقررینو د تقریر کولو او خطابت په فن کې تجربه پخوي او له بلې خوا د اوریدونکو او کتونکو زده کونکو معلومات زیاتوي.

ب: د دغو عصري تعلیمي اداراتو د عمومي نظارت او مراقبت په لړ کې سږ کال هم د کمیسیون لخوا د ولایتي تعلیمي مسؤلینو او هم د ولسوالیو د تعلیمي مسؤلینو لخوا د دغو ټولو عصري تعلیمي ادارو د نظارت لړۍ دوام درلود د دغو ادارو د څارنې لپاره د ځانګړې لائحې او دستور العمل په رڼا کې د دغو ادارو عمومي پروګرامونه، تعلیمي نصاب، د استاذانو او زده کونکو کړه وړه، مهال ویش او د حاضرۍ ضوابط او داسې نورې اړونده چارې په ټولو ولایاتو کې وڅیړل شوې د امنیتي شرائطو په پام کې نیولو سره په مختلفو ولایتونو کې غونډې او جلسې ترتیب او د علماؤ او د امارت د مسؤلینو لخوا ور ته لازم هدایات واورول شول او هغوی یې خپلو دیني، عقیدوي، جهادي او اخلاقي مسؤلیتونو ته متوجه کړل.

۵ - پوهنتونونه او لوړې زده کړې:

الف: په دې هکله باید ووایم چې پوهنتونونه او د لوړو زده کړو ادارې که څه هم په غټو ښارونو او د دښمن او غلامې ادارې تر واک لاندې سیمو کې دي خو د هغو سره زمونږ دوامداره اړیکې شته، البته کړنې او اجراءات مو له هغو سره د نورو تعلیمي اداراتو په پرتله توپیر لري کمیسیون ضروري او اړینه بولي چې د دغو اداراتو د اصلاح او بهبود لپاره همیشه جدي ګامونه واخلي څکه د دغو لوړو زده کړو محصلین او زده کونکي زمونږ د ملت هغه غړي دي چې د خپل تعلیم وروستۍ شیبې تیروي نوځکه کمیسیون د اسلامي امارت د هدایاتو او لارښونو په رڼا کې د دغو اداراتو د استاذانو او زده کونکو سره د مختلفو لارو څخه خپل روابط او اړیکې په منظم ډول ساتي، هغوی ته د اسلامي امارت د اسلامي، سیاسي او جهادي پالیسیو په اړه وخت په وخت معلومات ور کوي

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

او هغوی خپلو دیني ، ملي او علمي مسئولیتونو ته متوجه کوي ، د هغوی سره د ضرورت په وخت کې له نږدې لیدنې او کتنې تر سره کیږي ، هغوی ته د ارتباط وسائل او نور ضروري مواد په واک کې ور کول کیږي او په ټولو تعلیمي امورو کې د هغوی نیکې مشورې او وړاندیزونه منل کیږي .

ب : سږکال کله چې د کندهار پوهنتون یو شمیر استاذان او محصلین د ځینو ملحوظاتو په خاطر د کابل - کندهار پر لویه لار د غزني ولایت په مربوطاتو کې د اسلامي امارت د مجاهدینو لخوا د ځو ورځو لپاره ستانه شول ، په پای کې د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو کمیسیون د ټاکلي هیئت لخوا هغوی ته د اسلامي امارت تعلیمي پالیسي واضحه او د دغو ادارو سره بنه نیت څرګند شو او هغوی وهڅول شول تر ځو د دښمن په تبلیغاتو غوږ ، و نه نیسي ، حقائقو ته دې متوجه شي ، د اسلامي امارت په تعلیمي پالیسیو او حقانیت باید ځان و پوهوي ، بالمقابل هغوی هم ژمنه وکړه چې خپل اسلامي مسئولیت به ادا کوي او په خپلو مربوطه ادارو کې به اصلاحات راولي او اسلامي امارت سره به خپلې اړیکې ساتي ، که څه هم په دې ډله کې ځینو کسانو څرګندې نیمګړ تیاوې درلودې خو د اسلامي امارت د مهرباني له مخې او د هغوی علمي مسلک ته د درناوی په خاطر ټول د خوښۍ په فضاء کې بیر ته ازاد شول .

ج : د ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو کمیسیون په پام کې لري د دغو اداراتو سره د روابطو ، د هغو د کړو وړو او فعالیتونو د نظارت او مراقبت او نورو مربوطه امورو لپاره یوه منظمه تګلاره او طرزالعمل جوړ کړي چې د هغې په چوکاټ کې به دغه د اصلاح او نظارت لړۍ نوره هم لا بنه منظمه شي .

۶ - د افتاء او د قضاء د تخصص اداره:

د افتاء او د قضاء د تخصص اداره لکه څنګه چې مخکې یې د تأسیس او پرانستلو وعده شوې وه چې د اسلامي امارت د ښوونې او روزنې او عالي تحصیلاتو کمیسیون تر إشراف لاندې به جوړیږي تر څو هغه فارغان چې د دیني مدارسو د یولسمې درجې (دورة الحدیث) څخه په اعلیٰ درجه سند تر لاسه کوي نو به د افتاء او د قضاء د تخصص د اداري له لارې د افتاء او قضاء په برخه کې خپل تخصصي تحصیلات بشپړ وي.

سږکال د الله جل جلاله په مرسته د دغې اداري په افتتاح کولو بریالي شوو د (۱۴۳۵هـق) کال د ذوالحجة الحرام د میاشتې په دریمه نیټه د شنبې ورځ یې افتتاح وشوه چې دغه تخصص به د دوو کالو مودې لپاره وي ، ځانګړی نصاب ور ته ترتیب شوی ، پنځه تنه استاذان چې درې یې د افتاء او دوه یې د قضاء په برخه کې تعلیم ور کوي ټاکل شوي او د ضرورت سره سم د پام ور سهولتونه او اسانتیاوې ور ته برابرې شوې دي او کوښښ کوو دا دول مرکزونه او اداري د ضرورت په غوښتنه په دوه نورو ځایونو کې هم تأسیس او افتتاح کړو .

د یادونې وړ ده چې دغه ددوه کالو موده د هغو زده کړې لپاره ده چې ابتداءً افتاء او قضاء زده کوي ، البته د اسلامي امارت د برحاله قاضیانو لپاره به په همدې اداره کې لنډ مهاله درسونه او کورسونه جوړیږي چې ګروپ ګروپ به راځي خپلې زده کړې به بشپړ وي او بیا به بیر ته خپلو دندو ته ورستنیږي.

۷- د دارالایتامونو په برخه کې:

لکه چې خبر یاست د ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو کمیسیون تر اداري لاندې مخکې دوه بابه دارالایتامونه موجود وو چې بنه معیاري نصاب او د تعلیم ،اخلاقو او تربیې منظم پروګرام د ټولو اسانتیاوو سره یکې عملي دي ، سږکال د یتیمانو د زیاتوالي او د هغوی د تعلیم او تربیې د ضرورت په خاطر دوه بابه نور دارالایتامونه هم د مخکینو دارالایتامونو د پروګرام مطابق تأسیس شول چې تر اوسه په لومړیو مراحلو کې دي او د داخلي شمیر یې ورځ په ورځ زیاتیږي ، ددې دارالایتامونو لپاره د درس او هستوګنې مناسب ځایونه او غوره اعاشه او نور ضرورتونه په نظر کې نیول شوي دي ، بنه تجربه لرونکي ، مسلکي ، مُشفق ، مهربانه او تقوی داره استاذان ور ته مقرر شوي دي ، چې د کمیسیون د علمي کمیټې لخوا جوړ شوی درې کلن نصاب او وروسته د ابتدائیه او متوسطه درجو پورې ښوونه ور ته کیږي ، چې په مجموع کې په دې دارالایتامونو کې په سوونو یتیمان د لیلیه په ډول زده کړې کوي.

هو : تاسو په خپله پوښتنه کې د ستونزو یادونه وکړه په دې اړه باید ووایم چې زمونږ اصلي ستونزه سخت امنیتي شرائط دي چې زمونږ د دین او وطن د دښمنانو لخوا په نورو تهدیدونو سربیره زمونږ تعلیمي اداري هم په امن کې نه دي که مدرسه وي او که مکتب ، دارالحفاظ وي ، دارالایتام وي او که کلیوالي ښوونځي د دښمن له ویرې او خطر څخه بیغمه نه دي ، هغوی زمونږ په امورو کې ډیرې ستونزې راپیدا کړې دي او له بلې خوا زمونږ اقتصادي مشکلات او ستونزې هم پریمانه دي چې مونږ یوازې د ملت او دیندارو او علم پالونکو مسلمانانو په مرسته دغه تعلیمي بهیر روان ساتلی دی .

دوهمه پوښتنه: څرنګه چې تاسو ته بهتره معلومه ده د کابل ګوډاګي رژیم او باداران یې همیشه دا تبلیغات په کار اچوي چې د افغانستان اسلامي امارت د معارف ضد کړ نلاره لري ، د ښوونې اوروزنې لپاره هیڅ برنامه او پلان نلري ، مکتبونه سوځوي او معلمان وژني او تهدیدوي یې ، تاسې د دښمن د دغو تورونو او تبلیغاتو په وړاندې څه توضیحات لرئ ، او که په دې باب په مختصر ډول د اسلامي امارت د تعلیم او تربیې کمیسیون په عمومي تګلارې څه رڼا واچوئ ؟

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

ځـــواب: ستاسو ددې پوښتنې په ځواب کې باید ووایم چې: د دښمن دا ډول تبلیغات د دوی هغه زړه اوله کاره لویدلې حربه او وسله ده چې غوښتل یې د هغې په زور ځینې هغه ذهنیتونه چې له حقائقو څخه لیرې پاتې دي همداسې په ابهام کې وساتي او یاځینې خالي ذهنونه د اسلامي امارت په ضد را وپاروي خو زه فکر کوم چې اوس دا ډول پوچ تبلیغات هیڅ اثر نه لري ځکه اوس دننه او د باندې افکار د واقعیتونو په موندلو سره په دې قانع شوې دي چې اسلامي امارت هغه نظام دی چې د ټولنې د ضرور تونواو غوښتنو په سر کې یې ښوونې او روزنې ته ځای ور کړی . د تعلیمي پالیسیو د پرمخ بیولو لپاره یې باصلاحیته کمیسیون ټاکلی . د کمیسیون د کاري صلاحیتونواو طرز العمل لپاره یې تعلیمي لائحه جوړه کړې ده چې په دغه لائحه کې د اسلامي امارت تعلیمي پالیسي خوراځر ګنده ده د نمونې په ډول دلائحې ځینو مادو ته چې د دا ډول تبلیغاتو پوره ځواب کېدی شي اشاره کوم:

په پنځمه (۵) ماده کې راغلي (د تعلیم او تربیې عالي کمیسیون مکلف دی چې د اوسني عصر د ژوند د ضرور تونو د پوره کېدو په منظور د افغان مجاهد ولس د بچیانو لپاره د عصري علومو د تعلیمي اداروی یعنې مکتبونو د جوړولواو پاللو په منظور د امکاناتو په تناسب جدي قدم واخلي).

په اتمه (۸) ماده کې راغلي دي (عالي کمیسیون مکلف دی چې د اولس بچیان د تشویق ،مهرباني او نیکې بلنې له لارې تعلیمي ادارو ته راوبولي . زور زیاتی دې نه کوي .

په یواویایمه (۷۱) ماده کې راغلي (اسلامي امارت لاندې تعلیمي اداري په نظر کې لري :
دیني لیلیه مدرسې . دارالحفاظونه . کلیوالي نهاریه مدرسې . د دیني علومو د تخصص اداري ،مکتبونه . پوهنتونونه او دارالایتامونه) .
په دواویایمه (۷۲) ماده کې راغلي (د پورته ذکر شویو تعلیمي ادارو څخه حق د اولیت د کلیوالي نهاریه مدرسواو مکتبونو دی).

د پورته څو مادو په نظر کې نیولو سره د اسلامي امارت تعلیمي کړنلاره پوره ځر ګندیږي نو هیچاته دامجال نه پاتې کیږي چې د دښمن دغو پوچو او ړندو تبلیغاتو ته غوږ شي او د دښمن دادعوی چې ګویا اسلامي امارت مکتبونه سوځوي او معلمان وژني او تهدیدوي یې هم له واقعیت څخه ډیره لیرې ده ځکه اسلامي امارت د ټولو ملي شتمنیوساتنه د ځان فرض بولي او کړې یې ده.

په ټولو هغو ولایاتو کې چې زموږ ښوونځي او مکاتب فعال دي لکه چې مخکې مو یاده کړه د نورو تعلیمي ادارو تر څنګ د هغو پالنه او ساتنه کوي . د ښوونځیو فعالیت لپاره یې د امن فضاء رامنځ ته کړې . زموږ لخوا ورته منظم پر ګرامونه ور کول کیږي . تفتیش او نظارت یې کیږي د دغو ادارو منسوبین که استاذان دي او که شاګران ټول زموږ خپل خلک او ددې ملت بچیان دي یو له بل سره مو پوره همکاري اواړیکې موجودې دي . مطلب دا چې د دغو ادارو پالل هم اصولاً لکه چې دلائحې په مادو کې ذکر شول او هم عملاً لکه چې ټول خلک یې د سر په ستر ګو وینې زموږ د کاري استقامتونو څخه دي .

هو دایهود اونصارئ او د هغوی لاسپوڅي اداره ده چې زموږ د ملت ټول تعلیمي بنستونه یې ونړول . مسجدونه چې پر عبادت سربیره زموږ د ملت او هرې اسلامي ټولنې د تعلیم لومړني مرکزونه دي بمبار دیا وسوځول . دیني مدرسې یې په لومړي قدم کې تخریب کړې . استاذان یې په شهادت ورسول آن تر دې چې ښوونځي او مکاتب چې د عصري علومو د زده کړې ځایونه دي او دوی یې په تبلیغاتو کې د فعالولو ډنډورې غږوي هم د خپلو شومو هدفونو لپاره تخریب اویا وتړل ،جنګي اډې یې ورنه جوړې کړې . پوستې یې پکې فعالې کړې اویا یې هم د مجاهدینو په مخکې د سپر (ډال) په توګه استعمال کړې . د دغو عصري تعلیمي ادارو او مکاتبو استاذان او معلمین یې هم په شهادت ورسول . بندیان یې کړل او هر وخت د دوی لخوا د تهدید سره مخامخ دي . د دغو عصري تعلیمي ادارو ډیر زیات شاګردان یې په ډیره بې رحمۍ او بې باکۍ سره په شهادت رسولي او ګڼ شمیر یې زخمیان کړې دي . د داسې جنایتونو او تعلیمي ضد کړنو ژوندي مثالونه له هیچا څخه پټ نه دي . د دغو عصري ادارو د استاذانو او شاګردانو د شهادتونو او جراحتونو د پوره لست ذکر کولو ګنجایش دلته نشته خو موږ به د نمونې په ډول د ځینو څخه یادونه وکړو.

۱: د میدان وردګو ولایت د جلریزو ولسوالي : د زیولات د لیسې یو متعلم سږ کال د رمضان المبارک په اوویشتمه (۲۷) نېټه د اربکیانو لخوا په شهادت ورسید او بل متعلم د اسد د میاشتې په پنځه ویشتمه (۲۵) نېټه زخمي او یوه ستر ګه یې له منځه لاړه او هم د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د متوسطې دوه شاګردان په (۱۳۹۳/۶/۱۵ هـ ش) او د اسماعیل خیلو د متوسطې یو شاګرد زخمي کړل شول.

۲: میدان ښار مرکز: د خالد بن ولید د لیسې دوه شاګردان په (۱۳۹۳/۵/۳۰ هـ ش) په ډرون حمله کې په شهادت ورسیدل.

۳: د چک ولسوالي :
سر معلم خلیل الرحمن د حاجي محمد ولي زوی د سیبکی د بار ګزی د کلي اوسیدونکی د کریم شهید د لیسې استاذ او ورسره یې زوی عصمت الله د همدغې لیسې د لسم ټولګي زده کوونکی د یرغلګرو د چاپې پر مهال په خپل کور کې په شهادت ورسیدل . همدارنګه د چک د بمبایي د عمر فاروق رضی الله عنه د لیسې پنځه شاګردان په ډرون حملو کې په شهادت ورسیدل او همدغه لیسه دوه ځله د بې رحمه او علم دښمنه ملیشو لخوا تر هدف لاندې نیول شوې

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

چې پنځه نفره شاګردان یې زخمیان او بیا یو یې شهید شو. د انبوخاک د لیسې د نهم ټولګي زده کوونکی، د مداد د کلي یوا وسیدونکی د انستیتوت شاګرد، د شیخ یاسین د لیسې داتم ټولګي زده کوونکی، د لنګر د لیسې زده کوونکی، او د کریم شهید د لیسې زده کوونکی د دغو وحشي ملیشو لخوا په شهادت ورسول شول.

۴: د جلګي ولسوالي: د میرانو د لیسې مدیر په (۱۳۹۳/۴/۱۷هـ ش) چې کله د څلور نیم میاشتني امتحان څخه راګرځیدلی ؤ په لاره کې د دغو ملیشو لخوا وویشتل شو او په شهادت ورسید او د یولسم ټولګي یو زده کوونکی هم د دوی لخوا وویشتل شو او شهید شو او د میرانو د کلي د دریم ټولګي زده کوونکی په (۱۳۹۳/۶/۲۹هـ ش) په نارنجک باندې شهید شو.

۵: د جغتو ولسوالي: دلالکې د کلي اوسیدونکی د امام ابوحنیفه رحمه الله د لیسې د نهم ټولګي زده کوونکی په (۱۳۹۳/۶/۱۱هـ ش) او د ملاحافظ د کلي اوسیدونکی د منګلیو د لیسې زده کوونکی په (۱۳۹۳/۶/۱۱هـ ش) په ډرون حملو کې په شهادت ورسیدل او د ګنده قول د کلي اوسیدونکی د همدغې کلي د لیسې د دولسم ټولګي زده کوونکی په (۱۳۹۳/۷/۱۲هـ ش) په ډرون حمله کې زخمي شو.

۶: د سیداباد ولسوالي: په دغه ولسوالۍ کې یوازې سږ کال ټول څلورویشت (۲۴) نفره د بیلابیلو لیسو شاګردان په مختلفو تاریخونو کې په شهادت رسیدلي او دیارلس نفره زخمیان شوي دي چې د ټولو نومونه او ادرسونه زمونږ په کمیسیون کې موجود دي او د لیسو د نومونو او د شهادت او جراحت د تاریخونو په لحاظ په لاندې ډول دي:

دخالد بن ولید د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۷/۱۳هـ ش)
د خالد بن ولید د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۴/۱۵هـ ش)
د خالد بن ولید د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۴/۱۱هـ ش)
د خالد بن ولید د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۱۱/۲۰هـ ش)
د خالد بن ولید د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۲/۲۰هـ ش)
د خالد بن ولید د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۵/۱۰هـ ش)
د خالد بن ولید د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۳/۱۵هـ ش)
د خالد بن ولید د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۳/۱۵هـ ش)
د خالد بن ولید د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۳/۱۵هـ ش)
د خالد بن ولید د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۳/۱۵هـ ش)
د خالد بن ولید د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۴/۲۸هـ ش)
د عمر ولي د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۶/۵هـ ش)
د عمر ولي د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۶/۵هـ ش)
د عمر ولي د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۴/۱۵هـ ش)
د عمر ولي د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۴/۲۰هـ ش)
د باغک د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۴/۱۵هـ ش)
د باغک د لیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۴/۱۵هـ ش)
د کندهار د پوهنتون محصل د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۵/۱۰هـ ش)
دباغک دلیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۸/۲۰هـ ش)
دنور المشایخ دلیسې شاګرد، د شهادت نېټه (۱۳۹۳/۶/۱۰هـ ش)
د اوخی د لیسې شاګرد.
او درې تنه نور د انصار المؤمنین د لیسې شاګردان
او لاندې شاګردان زخمیان شوي دي:
د عمرولي د لیسې زده کوونکی: د عمر ولي د لیسې زده کوونکی، د زخمي کېدو نېټه (۱۳۹۳/۷/۱۰هـ ش)

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

د چک دانستیتیوت زده کوونکی.
د خالد بن ولید د لیسې زده کوونکی. د زخمي کېدو نېټه (۱۳۹۳/۷/۸ هـ ش)
د خالد بن ولید د لیسې زده کوونکی.
دخالد بن ولید د لیسې زده کوونکی. د خالد بن ولید د لیسې زده کوونکی. د زخمي کېدو نېټه (۱۳۹۳/۷/۱۰ هـ ش)
د خالد بن ولید د لیسې زده کوونکی.
د باغک د لیسې زده کوونکی.
د اتغې د لیسې زده کوونکی.
د انصار المؤمنین د لیسې زده کوونکی.
د انصار المؤمنین د لیسې زده کوونکی.
د ننګرهار د پوهنتون محصل.
په پېښور کې د شهاب الدین غوري د معهد څخه فارغ شوی زده کوونکی.
او د پوهنتونو هغه محصلین او فارغین چې د صلیبي یرغلګرو او دهغوی د ګوډاګیانو لخوا په شهادت رسول شوي دي
یو شمېر یې د نمونې په توګه ذکر کوو:
د خوست پوهنتون د ډاکټرۍ د پوهنځي محصل، د پکتیا ولایت د مرکز اوسیدونکی.
د خوست پوهنتون د تعلیم او تربیې د پوهنځي محصل، د کندز ولایت د مرکز اوسیدونکی.
د خوست پوهنتون د حقوقو د پوهنځي محصل، د میدان وردګو ولایت دسیداباد ولسوالۍ اوسیدونکی.
د خوست پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي محصل، د پکتیا ولایت د جانیخیلو ولسوالۍ اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د انجینرۍ د پوهنځي محصل، دلوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د تعلیم او تربیې د پوهنځي محصل، د لوګر ولایت د مرکز اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د انجینرۍ د پوهنځي محصل، د لوګر ولایت د محمداغې ولسوالۍ اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د انجینرۍ د پوهنځي محصل، د لوګر ولایت د مرکز اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د انجینرۍ پوهنځي محصل، د لوګر ولایت د پاتخواب اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د انجینرۍ د پوهنځي محصل، د پکتیا ولایت د مرکز اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي محصل، د کابل ولایت اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د زراعت د پوهنځي محصل، د لغمان ولایت د مرکز اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د زراعت پوهنځي محصل، د ننګرهار ولایت اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د ډاکټرۍ د پوهنځي محصل، د میدان وردګو ولایت دسیداباد ولسوالۍ اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د انجینرۍ پوهنځي محصل، د پکتیا ولایت د ځمکنیو ولسوالۍ اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د تعلیم او تربیې د پوهنځي محصل، د ننګرهار ولایت اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د تعلیم او تربیې د پوهنځي محصل، د پکتیا ولایت د مرکز اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د انجنرۍ پوهنځي محصل، د لوګر ولایت د مرکز اوسیدونکی.
د ننګرهار پوهنتون د انجینرۍ د پوهنځي محصل، د خوست ولایت د یعقوبي ولسوالۍ اوسیدونکی.
د پکتیا پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي محصل، د پکتیا ولایت د مرکز اوسیدونکی.
د پکتیا پوهنتون د ډاکترۍ د پوهنځي محصل، د پکتیا ولایت د مرکز اوسیدونکی.
دپکتیا پوهنتون د انجینرۍ د پوهنځي محصل، د ننګرهار ولایت د کوټ ولسوالۍ اوسیدونکی.
د کابل پوهنتون د حقوقو د پوهنځي محصل، د خوست ولایت د علیشیرو ولسوالۍ اوسیدونکی.

دریمه پوښتنه: د کابل رژیم د معارف چارواکي په ډیر شداومد دعویٰ لري چې د معارف لپاره یې زیات کار کړی، معیاري تعلیمي نصاب یې جوړ کړی، په میلونو هغه شاگردان چې له زدکړو بې برخې وو هغوی ته یې د عملي ښوونې او روزنې لپاره زمینه سازي کړې. مکتبونه یې ورته جوړ کړي، درسي کتابونه یې ورته رسولي دي. تاسې د دغو دعوو اوغورو په باب څه تبصره لرئ؟

ځـــــواب: هو رښتیا هم د کابل چارواکي چې کله د (۱۳) کلونولاسته راوړنې نړۍ والوته وراندې کوي نوهمداخبره یې په سر کې ځای لري چې گویا مکتبونه جوړشوي، شاگردان ورته جذب شوي. او نصاب مو ورته رسولی او....) خو مونږ وایوچې لومړی باید د هغوی څخه پوښتنه وشي چې هغه په ملیاردونو ډالره چې یوازې د معارف په نامه له نړۍ والوڅخه اخیستل شوي د دوی د موجوده کړنوسره اندول کېدی شي؟ او نړۍ والو ته هم وایو چې آیا د هغوی مرستو کوم ځای نیولی دی؟ حقیقت دادی چې هغوی یوازې په مرکزي سیمو کې او د ځینو ولایتونو په یو څو اطرافي سیمو کې مکتبونه پرانیستي دي هغه هم په ډیرو محدودو امکاناتو. د هیواد زیاتره کلیوالي سیمې خو له دغو مرستوڅخه بیخي بې برخې پاتې دي.

ددوی د معارف اداره په ټولو ولایتونو کې د مکتبونو او ښوونځیو د فعالولو دعوه لري او نړۍ والو ته ښیي چې گویا ښوونځي فعال دي خو په حقیقت کې هلته نه ښوونځي شته او نه کومه اداره. نه کتاب شته او نه شاگرد. هسې د کاغذ پرمخ یې خپله شمیره پوره کړې تر څو له نړۍ والوڅخه ډالر پرې راجلب کړي او خپل جیبونه پرې ډک کړي.

څلورمه پوښتنه: ډیر ځله اوریدل شوي چې د کابل رژیم په تعلیمي نصاب کې یو لړ داسې مواد درج او ځای پر ځای شوي چې دیني معتقداتو، جهادي ارزښتونواوافغاني غرور ته پکې توهین شوی. تاسې دغسې کوم صریح اسلام ضد ټکي لیدلي او د هغو د تشخیص لپاره مو کوم علمي پلاوی ټاکلی؟

ځـــــواب: د ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو کمیسیون د دوی د نصاب د کتنې او نظارت لپاره د دیني علماؤ او مسلکي کسانو یوه کمیټه وټاکله تر څو د دوی نصاب وگوري او کمیسیون ته خپل راپور برابر کړي هماغه ؤچې نوموړې کمیټې د ښوونځیو ټول نصاب له اول ټولگي څخه نیولې بیا تر دولسم ټولگي پورې تر مطالعې لاندې ونیوو. محتویٰ او مضامین یې مطالعه کړل په نتیجه کې څرگنده شوه چې ځینې ښکاره شرعي، جهادي او افغاني ضد نیمگړ تیاوې یې درلودې چې په لاندې ډول ور ته اشاره کولی شو.

۱ - په ټول نصاب کې په شعوري ډول کوښښ شوی دی تر څو د جهاد کلمه، مضمون او حکم پکې ذکر نه شي.

۲ - په نصاب کې د (قتل ناحق، جنگ وغیره) تر عنوانو لاندې زیار ایستل شوی تر څو جهاد هم د جنگ په معنی تعبیر کړي او ترمنځ یې هیڅ توپیر نه دی کړی.

۳ -د (صلح) ترعنوان لاندې مضامین لیکل شوي او د صلح طرف ته تشویق او ترغیب بیان شوی خو دا توپیر ندی شوی چې صلح د چاسره او په کوموشرائطو کې او څوک به یې کوي؟

۴ -د (تروریزم) ترعنوان لاندې مضامین لیکل شوي خو حقیقت یې ندی بیان شوی چې تروریست څوک دی؟

۵ - د (بشر دوستۍ او انسان دوستۍ) یا (تساوي حقوق) تر عنوانو لاندې مضامین راغلي او شاگردان یې د انسانانو له یو بل سره دوستۍ ته هڅولي او داسې یې ښوولي چې انسانان په ټولوحقوقو کې سره یوشان دي د کافر او مسلمان توپیر یې د دوستۍ په حدودو کې ندی کړی.

۶ -د موسیقۍ او لهو لعب لورې ته تر مختلفو عنوانو لاندې شاگردان هڅول شوي دي تر څو موسیقي زده کړي.

۷ - د ښځو د آزادۍ لپاره یې کوښښ کړی دی تر څو ښځې د ژوند په ټولو چارو کې د نارینه ووسره یو ځای کار وکړي دستَر او حجاب مسئله یې له منځه وړې ده.

۸ - د (جرگې) تر عنوان لاندې یې افغاني دود او غرور ته ښکاره توهین او سپکاوی کړی. هغه فرمایشي جرگې چې لاسپوڅې ادارې ته یې جواز ور کړی یا یې د پردیو مداخلې ته قانونیت ور کړی دا یې د افغانستان نمائنده جرگې بللې.

۹ - په نصاب کې ډیر ځله د غیر افغاني او کفري نړۍ مشهورو څیروڅخه ډیره یادونه شوې او په ډیر افتخار یې د هغوی تاریخ ته کتنه کړې ده.

۱۰ - د مېرمنو بې حجابه تصاویر ځای په ځای پکې درج شوي دي چې اخلاقي مفاسدو ته لمن وهل او هڅونه ده او داسې نور......

خو دې ټولوسربیره درې نور مضمونونه (کتابونه)

لکه: ۱- د ژوند مهارتونه ۲- مدني زده کړې ۳- فرهنگ. دغه کتابونه له سره تر پایه د تعلیمي لړۍ سره سمون نه لري او بې ځایه مزخرفات پکې لیکل شوي چې له اصیل سوچه تعلیمي نصاب سره بیخي اړخ نه لگوي.

نوموړي پلاوي پورتنۍ نیمگړ تیاوې او خُرافات په گوته کړل د هر ټولگي کتاب، او د کتاب د صفحې په حواله یې یو فهرست (لړلیک) تیار کړ او کمیسیون ته یې وسپاره چې بیا د کمیسیون لخوا د لازمو هدایاتو، اصلاحاتو او لارښونو سره یوځای د هر ولایت تعلیمي مسئول ته وسپارل شو چې د هر ښوونځي ادارې ته یو یو نقل وسپاري او بیا دغه اصلاحات عملاً تعقیب او وڅاري او د ښوونځیو استاذان او مسئولین ور ته جدي متوجه کړي تر څو زمونږ راتلونکی نسل او

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

اولادونه په داسې مرموزواو غولوونکو ویناوو بې لارې نه شي . دغه راز اوس هم کله چې نوي کتابونه چاپیږي د کمیسیون لخوا کنټرول کیږي اوهم مهاله د ښوونځیوادارو ته خبر ور کول کیږي.

پنځمه پوښتنه: ددښمن دزهرجنو تبلیغاتو یومهم ټکی دادی چې اسلامي امارت صرف د ديني علومو پراختیا او تعلیم ته زیات پام اړولی اویایې اړوي ، د عصري علومو برخې ته کمه حقه توجه نکوي ، په دې هکله که څه معلومات راکړئ ؟

ځــــواب: ستاسو ددې پوښتنې ځواب د دوهمې پوښتنې په ځواب کې څرګند دی چې مونږ عصري علومو ته په خپلو تعلیمي پالیسیواو پر ګرامونو کې پوره او کما حقه توجه کړې ده ، د تعلیمي لائحې څینې مادې مونږ د تعلیمي تګلارې په توګه هلته ذکر کړې چې پوره وضاحت پکې موجود دی.

هو ديني علوم چې زمونږ او د هرې اسلامي ټولنې د عقیدې او ژوند بنسټ جوړوي داد هر مسلمان او اسلامي أمت دنده ده چې لومړی د ديني علومو پر مټ د ټولنې ټول ديني ، عقیدوي او اخلاقي اړخونه اصلاح وروسته بیا د عصري او معاشر تي علومو په مرسته د ټولنې مادي ترقي تر لاسه کړي ، غرض دا چې مونږ دواړو طرفونو ته بشپړه توجه کړې او د خپلو امکاناتو په ساحه کې یې پالنه کوو.

شپږمه پوښتنه: په داسې حال کې چې یرغلګر او نړیوال استکبار تنها د افغانستان د خاورې ، ولس او ملي شتمنیو په اشغال او لوټ پسې متې ندي بدوهلي ، بلکې مهمه ارزویې داده چې نوی نسل په غربي روحیه و روزي ، فکر او ذهن یې له اسلام سره په واټن او بې تفاوتۍ کې و غورځوي ، ستاسې په فکر افغان ولس باید خپلو اولادونو ته څومره متوجه او د دښمن دغو دسایسو ته ځیر و وسي ؟

ځــــواب: رښتیا هم چې نړیوال یرغلګر په ځانګړې توګه یهود اونصارئ چې د اسلام او مسلمانانو شعوري دښمنان دي او دښمني یې هم د دین او مذهب په اړه ده نوځکه تر هر څه مخکې دوی غواړي چې زمونږ راتلونکی نسل له خپل دین څخه بې خبر وساتي اویا یې منحرف او په غربي روحیه و روزي او دوی ددې هدف او موخې لپاره ښوونځي او تعلیمي اداري د دعوت او جلب او جذب مناسب مر کزونه بولي ، زمونږ افغان مسلمان ملت باید ډیر دقیق متوجه وي په ځانګړې توګه هغو ښوونځیو او تعلیمي ادارو ته چې د غلامې اداري د واک لاندې سیمو کې دي ، کله چې څوک خپل زوی او ورور دغو ادارو ته لیږي دغه څومهمې نکتې باید په پام کې ولري :

١ - د ښوونځي معلومات وکړي چې اداره یې د چا په لاس کې ده ؟ افغانان دي او که بهرنیان ؟

٢ - په ښوونځي کې کوم نصاب ویل کیږي ؟

٣ - د ښوونځي استاذان څوک دي؟ آیا افغاني مسلمانان دي او که غرب مزاجه او غربي دعوتګر او یا پخواني کمونستان ؟

او هم باید د خپلو اولادونو له کوره تر ښوونځي او له ښوونځي تر کوره پوره پوره نظارت او مراقبت وکړي تر څو د دغو خبیثو او معاندو دښمنانو دغولونکو پلانونو ښکار نه شي.

اوومه پوښتنه: د ولایتونو او ولسوالیو په مر کزونو کې د موجودو تعلیمي ادارو او محصلینو سره مو اړیکې څرنګه دي؟

ځــــواب: د ولایتونواو ولسوالیو په مر کزونو کې چې کومې تعلیمي اداري دي زمونږ د ولایتي او ولسوالیو د تعلیمي مسئولینو لخوا د هغوی سره د ځانګړو مقرراتو په چوکاټ کې رابطې او اړیکې شتون لري ، د استاذانو او شاګردانو سره لیدل او کتل کیږي ، د هغوی پروګرامونه تر نظارت لاندې نیول کیږي او زمونږ لخوا خپل اصلاحي پر ګرامونه هغوی ته ور کول کېږي اوهغوی یې دوخت اوځای د شرائطو سره سم عملي کویې حتی که څوک سرغړونه وکړي اوضرورت ولیدل شي هغه اداره بندولی هم شو.

اتمه پوښتنه: د لوړو زده کړو په برخه کې چې مسئولیت یې ستاسو اداري پورې اړه لري تاسو کوم کارونه ترسره کړي او دراتلونکي لپاره ور ته کوم پلان لرئ ؟

ځــــواب: د دې موضوع په اړه مو د لومړۍ پوښتنې په ځواب کې په پنځمه (٥) ګڼه کې څه توضیحات در کړل خو بیا هم د یادونې وړ بولو چې لوړې زده کړې هم په موجوده شرائطو کې زمونږ د کمیسیون په کاري استقامتونو کې راځي نو لهذا کمیسیون خپله دنده بولي چې د لوړو زده کړو د اصلاح او پر مختګ لپاره جدي قدمونه واخلي او وده ور کړي خو څرنګه چې له یوې خوا جهادي شرائط دي او له بلې خوا دغه اداري په غټو ښارونو او د دښمن تر واک لاندې سیمو کې دي نو د هغوی سره زمونږ روابط تر ځانګړو اصولواو مقرراتولاندې تنظیم او پر مخ بیول کیږي ، د دغو ادارو سره د روابطو او یکې د کار کولو لپاره اوس پر یوه تګ لاره او طرز العمل باندې هم کار کیږي تر څو د هغې په رڼاکې د لوړو زده کړوسره ټولې تړلې چارې نورې هم په اسلامي او اصولي معیارونو تنظیم او برابرې شي ، د اوس لپاره د دغو ادارو د مسئولینو ، استاذانو او محصلینو سره زمونږ اړیکې شته او د بیلابیلو وسائلو او طریقو له لارې د هغوی د چارو نظارت کوو او په مناسبو او ضروري حالاتو کې د خپلو ټاکلو مسئولینو له لارې ورسره لیدل او کتل کوو ، داسلامي امارت تعلیمي

پالیسي د خپلوځانګړو لاروڅخه وخت په وخت ور ته رسوو. د دوی ضرور تونه لکه د اړیکو وسائل او نور د دوی په واک کې ور کوواو د دغو تحصیلي مؤسساتو او ادارو محترم استاذان او مجاهدشاګردان زمونږ سره پوره همکاري لري اوخپل تصامیم او مشورې مونږ سره شریکوي.

نهمه پوښتنه: د اشغال په تیرو دیارلسو (۱۳) کلونو کې چې کوم مجاهدین شهیدان شوي او بچیان یې بې سرپرسته پاته شوي دهغوی د تعلیم او تربیې او زده کړو د ترلاسه کولو لپاره مو تر اوسه پورې څه کړي؟

ځــــــواب: دغولو بې سرپرسته او بې وزله یتیمانو لپاره لکه چې خبر یاست مونږ مخکې دوه دارالایتامونه درلودل چې د دوه سوه او پنځوسو (۲۵۰) په شاوخوا کې یتیمانو پکې زده کړه کوله خو څرنګه چې د یتیمانو شمیر زیات وو او د ملک جهادي شرائطو ته په پام سره ورځ په ورځ دغه شمیره مخ په زیاتیدو وه نو ځکه د نورو دارالایتامونو د جوړیدو ضرورت ولیدل شو. زمونږ کمیسیون د اسلامي امارت د هدایت سره سم دوه نور دارالایتامونه په سږ کال کې د نوي تعلیمي کال د پیل څخه افتتاح کړل د دغو دارالایتامونو د تعلیمي کیفیت او څرنګوالي په اړه به ستاسو د معلوماتو لپاره څه توضیحات درکړم :

۱ : د دوی ټوله تعلیمي او دزده کړې دوره پنځه کاله ده دړې کاله ابتدائي او تمهیدي صنفونه دي څلورم کال کې ابتدائیه او په پنځم کال کې متوسطه درجه ور ته ویل کیږي.

۲ : د درې کالو ابتدائي صنفونو لپاره یو په زړه پورې معیاري نصاب د کمیسیون د علمي کمیټې د علماؤ او مسلکي کسانو لخوا جوړ شوی دی هغه ور ته په دغه درې کلونو کې تدریس کیږي . په دغه نصاب کې قاعده ، قرآن کریم ، تعلیم الاسلام ، سیرت النبی صلی الله علیه وسلم ، ریاضي ، نبوي احادیث ، پښتو او خط شامل دي.

۳ : دوی ته هره ورځ په منظم ډول په ټاکلو وختونو کې د ورځني مهال ویش سره سم تربیه او د اخلاقو په اړه توصیه کیږي.

۴ : د نظافت او پاکۍ اهتمام یې په پوره ډول سره کیږي.

۵ : د شپې د تیرولو ټول سهولتونه او اسانتیاوې لکه اعاشه ، بستره او نور لوازم ور ته برابر دي.

۶ : ښه تقوی داره ، مُشفق ، مهربانه او مسلکي استاذان ور ته ټاکل شوي دي چې په درسي پروګرامونو برسیره یې په شپه او ورځ کې نظارت او څارنه کوي.

۷ : د جامو ، لباس او پایزار اهتمام یې په داوړو اخترونو او نورو وختونو کې د کمیسیون لخوا کیږي.

۸ : په رخصتیو کې د کور د تګ لپاره ترانسپورتي کرایه او خرچه ور کول کیږي او هم کله کله ورسره په کافي مقدار کې کومک هم کیږي.

لسمه پوښتنه: زمونږ د معلوماتو له مخې د هیواد په اکثرو اطرافي سیمو کې چې د تعلیم او تربیې کومې ښوونځۍ فعالې دي استاذان یې ډیری د مساجدو امامان دي ، چې یوازې دیني مضامین شاګردانو ته وایي د نورو عصري مضامینو لپاره په ښوونځیو کې مسلکي استاذان نلري . ددې تشې د ډکولو لپاره څه پلان لرئ؟

ځــــــواب: په دې اړه باید ووایم چې په ټولو هغو ولایاتو کې چې ښوونځي موجود دي په هغو کې په کافي شمیر کې مسلکي استاذان موجود دي البته یو شمیر دیني علماء مونږ په دغو ادارو کې د ځینو دیني مضامینو لپاره لکه قرآن کریم ، دینیات ، تعلیم الاسلام ، تفسیر ، حدیث ، میراث ، عقائد او فقهې لپاره چې د نصاب مهمه برخه جوړوي د ضرورت په اندازه ټاکلي دي او نور مضامین د مسلکي استاذانو لخوا تدریس کیږي ، بیا هم که د کمیت یا کیفیت په لحاظ په ځینو ځایونو کې کومه نیمګړتیا موجوده وي په راتلونکي کې غواړو زمونږ د هغو نویو ځوانانو په ټاکلو سره چې له خپلو زده کړو فراغت تر لاسه کوي د مسلک سره سم د اسلامي معیارونو په نظر کې نیولو سره دغه تشه ډکه کړو.

یوولسمه پوښتنه: د تعلیم او تربیې د کمیسیون له لوري د کلیوالي ښوونځیو لپاره په یوه خاص نصاب کار روان ؤ. چې کار یې اوس په کوم پړاو کې ده او که راته وواياست څه وخت به د استفادې وړ وګرځي؟

ځــــــواب: د کلیوالي مدارسو او ښوونځیو لپاره چې په کوم نصاب کار روان ؤ الحمدلله د هغه کار پای ته رسیدلی د مضامینو کمپوز او ترتیب یې بشپړ شوی دی خو سمدستي د وروستي کتنې لپاره علماؤ او شیوخو ته سپارل شوی دی تر څو د دوی له کتنې او پوره سمونې وروسته چاپ شي امید لرو چې د راتلونکي ۱۳۹۴هـ ش کال لپاره به کتې اخیستلو ته تیار شي.

دولسمه پوښتنه: د ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو کمیسیون لخوا د مدارسو لپاره یو نصاب ترتیب شوی دی چې ټول مدارس یې په عملي کولو مکلف شوي دي د ځینو په باور اوس هم په دغه نصاب کې د پخوانیو مروجو فنونو لکه حکمت ، فلسفې او منطق د کتابونو غوښنه ونده شته په داسې حال کې چې د وخت ضرورت اوس دیني او عقیدوي مسائلو او هم د نوي حکمت ، ساینس ، ټکنالوجۍ او طب خوا ته ډیر دی چې باید حالاتو ته په کتو سره طالبان د نوي شرائطو او ستونزو په مقابل کې ورزل شي نو په دغه نصاب کې دغو ضرورتونو ته څومره توجه شوې او د پخوا په پرتله څومره نوښت پکې راغلی دی ؟

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

ځـــواب: په دې اړه باید ووایم چې په حقیقت کې د مدارسو لپاره د یومنظم نصاب د ترتیبولو او جوړولو اصلي سبب او علت همدغه د وخت ضرور تونه وو او ورسره په څنګ کې د ټولو مدارسو په درسي نظام کې توحید، یو والی او نظم راوستل هم وو. ځینې هغه نوښتونه او ځانګړ تیاوې چې په دغه نصاب کې رعایت شوي دي غواړم په لنډ ډول یې تاسې ته وړاندې کړم:

۱: د قرآن کریم دمشق، تجوید، ترجمې او تفسیر لپاره په منظم ډول په تدریج سره درجې ټاکل شوي دي مثلاً: په ابتدائیه، متوسطه، اولیٰ او ثانیه درجو کې مشق، او تجوید او په خامسه، سادسه او سابعه درجو کې یې ترجمه پای ته رسیږي او په تاسعه او عاشره درجو کې یې تفسیر ویل کیږي.

۲: حدیث شریف په اولی درجه کې پیل کیږي او بیا د څلورمې درجې څخه تر یوولسمې درجې پورې په هره درجه کې د اصول الحدیث سره یو ځای پرلپسې ویل کیږي.

۳: فقه او اصول الفقه د ابتدائیه درجې څخه پیل بیا تر ثامنه درجې پورې مسلسل په هره درجه کې ویل کیږي او بیا په عاشره درجه کې د ورې دورې په لړ کې پای ته رسیږي.

۴: عقائد په ثالثه درجه کې، وروسته بیا په سابعه او تاسعه درجو کې ویل کیږي.

۵: د طب د زده کړې لپاره په تاسعه درجه کې اهتمام شوی تر څو ضروري علم الطب هم حاصل کړي.

۶: تاریخ په ځانګړي ډول د اسلامي تاریخ کتابونه هم په نصاب کې په مسلسل ډول په درجو کې ویشل شوي دي لکه په څلورمه، پنځمه او اوومه درجه کې.

په همدې ترتیب د علم ادب، اخلاق، عروض او خط او انشاء اهتمام په نصاب کې شوی چې دغه د نصاب او درجو ترتیب د کمیت او کیفیت په لحاظ د پخوا په پرتله ډیر برابر او مؤثر دی او د حکمت او منطق کوم کتابونه چې په نصاب کې ځای شوي دي یو خو د علمي اصطلاحاتو لپاره ګټور دي او د استعداد لوړوالی او د استدلال قوت ورسره پیدا کیږي او بل د دغو کتابونو سره له پخوا څخه زموږ علماء او طالبان د خپلې علمي سلسلې د پرمخ بیولو لپاره عادت شوي دي او تر اوسه یې دغه لړۍ په بریالیتوب سره تر دې ځایه رارسولې ده.

خو بیا هم دغه نصاب ته وخت په وخت کتنه کیږي سږ کال موږ د علماؤ، د مدارسو د شیوخو او استاذانو نظریات راټول کړي دي پر هغو کار روان دی چې سره توحید او تنظیم شي بیا به په پای کې د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو علمي بورډ ته وړاندې کیږي، چې د دغه تجدید نظر په نتیجه کې به په نصاب کې مناسب تعدیل او تغییر رامنځ ته شي او دغه د بیا بیا کتنې سلسله به وخت پر وخت روانه وي تر څو د کمیت او کیفیت په لحاظ د وخت د غوښتنو سره سم لا ښه ګټور او په زړه پورې نصاب ولرو ان شاءالله.

د یارلسمه پوښتنه: په پای کې که تاسو د اسلامي امارت د تعلیم، تربیې او لوړو زده کړو د کمیسیون د مشر په حیث خپل ولس، د مدارسو، مکاتبو استاذانو او زده کوونکو ته څه پیغام لرۍ مهرباني وکړئ.

ځـــواب: لومړی ستاسو څخه مننه کوم چې ما ته مو دا فرصت راکړ تر څو د خپل ولس، د ټولو تعلیمي ادارو مسؤلینو، منسوبینو، استاذانو او شاګردانو سره خپلې هیلې شریکې کړم: د افغانستان اسلامي امارت د تعلیمي ارګان د مشر او مسؤل په توګه مې لومړی له خپل ولس څخه دا هیله ده چې خپلو اولادونو، ورونو او د ملت ټولو بچیانو ته په ځانګړې توګه هغو ټولو بې سرپرسته یتیمانو ته چې پالنه یې د هر مسلمان فریضه ده د تعلیم زمینه برابره او خپلو نږدې تعلیمي ادارو ته واستوي، په دې اړه دې غفلت او بې پروایي نکوي، د مربوطه تعلیمي ادارو څارنه دې کوي، په ځانګړې توګه د هغو تعلیمي ادارو چې د پرغلګرو او دهغوی د لاسپوڅي ادارې تر واک لاندې سیمو کې دي تر څو خپل اولادونه له عقیدوي او اخلاقي انحراف څخه وساتي.

د تعلیمي اداراتو له استاذانو او مسؤلینو څخه هیله لرم تر څو خپل اسلامي، جهادي او افغاني مسؤلیت په سمه توګه اداء کړي، دغه د ملت بچیان چې ستاسو په اداراتو کې زده کړې کوي یو لوی اسلامي امانت وګڼئ، د دوی سالمه ښوونه او روزنه او د هر ډول عقیدوي او اخلاقي انحراف او بې لارې توب څخه د دوی ساتنه ستاسو مسؤلیت دی، تاسو د استاذانو په حیث په اسلام کې د یو لوی مقام څښتن یاست هیله ده چې خپل مقام ته د درناوي په خاطر اسلامي ټولنې ته د ستر خدمت مصدر وګرځئ.

او زده کوونکو ته زما دا پیغام دی چې خپلو زده کړو ته متوجه ووسي، د مسلمانو نیکو استاذانو څخه خپلې زده کړې وکړي، پر مسلکي زده کړو سربیره خپلې عقیدې او اخلاقو ته ډیره پاملرنه وکړي، د راتلونکي یوې پاکې اسلامي ټولنې د جوړولو په فکر کې ووسي، بې ځایه هوسونه او غوښتنې پریږدي او هیڅکله خپل قیمتي وختونه ضائع نکړي.

عراق ته دامریکایي پوځیانو دبیا راتګ موخې

شهید زوی

داسلامي دولت یا داعش دنویو پرمختګونو په لړ کې تېره اوونۍ یاني دروانې نومبر په وروستۍ نیمایي کې دځایي اوسېدونکو په مرسته موصل ؛ دصدام حسین پلارنۍ ښار تکریت او دشمال ځنې نور کوچني ښارونه او قریې ترخپل کنټرول لاندې راوستي؛ یادو ښارونو او سیمو کې یو تعداد دولتي فوځیان وژل شوي او ژوندي هم نیول شوېدي نور ټول د ورو او سترو مرکزونو نه په شخصي جامو کې تښتېدلي دي او ټول فوځي وسایل او مهمات آن ترخپلو فوځي یونیفورمونو پورې هر څه یې په خپلو مرکزونو کې پرېښي چې ټول داسلامي دولت جنګیالو لاسته ورغلي دي؛ دیادو ښارونو او نورو سیمو دنیولو نه

پس دنومبر په ۲۳ مې نېټې داسلامي دولت جنګیالو د(تل عفر) نومې یو بل شمالي ښار دنیولو هڅې وکړې خو په نیولو یې ونه توانېدل؛ دبغداد ادارې ویلي چې دداعش جنګیالو دفوځ نه دوسلو یو ستر ډیپو نیولی و چې په همدې ډیپو کې ددوئ لاس ته ورغلې سپکې او درنې وسلې یې دتل عفر دنیولو لپاره ددولتي فوځ پرضد کارولي دي ؛ دښار مرکزي روغتون له ټپیانو ډک شویدی او پکې دنورو ټپیانو دداخلولو ځای نشته

دبغداد ادارې دعوی کړېده چې دیادو شمالي ښارونو په تازه نښتو کې یې په سونو مخالیفین وژلي دي خو ددې دعوې پخلی دازادو رسنیو له لورې ندی شوی او نه هم دولت دخپل یو مخالف دوژلو ثبوت وړاندې کړېدی.

هو ! برعکس داسلامي دولت جنګیالو پدې جنګونو کې دژوندي نیول شویو ګنو فوځیانو دډله ایزو وژنو عکسونه خپاره کړیدي؛ پدې عکسونو کې لیدل کېږي چې دګنو نیول شویو دولتي فوځیانو لاسونه شاته تړل شویدي ؛دیوې کندې په غاړه په قطار ودرول شویدي او داسلامي دولت نقاب پوشو جنګیالو ورته دخپلوټوپکونو شپېلۍ راړولې دي.

داعش بغداد ته ورو ورو ځان ورنېږدې کوي دبغداد نیول به یې په عراق کې یو ستر هدف وي او دنیولو حوصله یې هم لري؛حالاتو ته په پام سره په لنډ وخت کې دبغداد نیول ګران ښکاري خو وېره یې شته ؛ په بغداد کې ډېر دبې اطمینانۍ کیفیت دی؛ دخوراکي او اړتیا وړ نورو توکیو نرخونه ډېر پورته شویدي؛بغدادیان په

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دولتي فوځيانو بې اعتماده دي ؛ يکې د مجاهدينو د مقابلې توان نهويني او دولته دا وېره په ډېر قوت مخ په خپرېدو ده چې يوه نه يوه ورځ به د اسلامي دولت جنګيالي په بغداد داسې درنده حمله کوي چې له امله به يې د دې ښار او سېدونکو ته ډېر ستر ځاني او مالي تاوانونه ورسېږي

داسلامي دولت د نويو پرمختګونو ترڅنګ د دښمن له لوري هم نوي اقدامات ترسره شويدي؛ د داعش په مقابل کې د امريکا په مشرۍ کې جوړ شوي اتحاد ته کاناډا هم عملاً ورګډه شوه؛ رسنيو دا خبر خپور کړ چې د کاناډا جنګي طيارو په رومبي ځل په عراق کې د داعش په مرکزونو بمباري وکړه ؛ وروسته بيا د کاناډا د دفاع وزير راب نکلسن هم ومنله چې جنګي طيارو يې د داعش مرکزونه بمبار کړيدي ؛ هغه وويل چې د کاناډا د هوائي ځواکونو سي ايف ۱۸ ډوله جنګي طيارو د خپلو اتحاديانو سره د تماس نه پس په فلوجي کې د داعش پر مرکزونو ليزرګايډ ډ دراندہ بمونه وغورځول خو د ځاني تلفاتو په اړه معلومات ندي ترلاسه شوي.

مياشت د مخه چې د کاناډا پارلمان د داعش پرضد جوړ شوي نوي اتحاد کې د شاملېدو منظوري ورکړې وه او س پدې جنګ کې د دې هيواد دعملي ګډون خبر څه ډېر لوی او د اهميت وړ خبر نه ګڼل کېږي ؛ کوم خبر چې د ټولې نړۍ توجو يې ځانته راجلب کړي هغه عراق ته د امريکايي فوځونو د بيا راتللو خبر دی.

امريکا چې د داعش په مقابل کې عراقي فوځ ته د سلا مشورو ورکولو په پلمه يې لاوارد مخه په بغداد او الانبار کې ۱۵۰۰ فوځيان ځای پرځای کړيدي او س يې دعراق لومړی وزير حيدر العبادي باندې فشار راوړيدی چې ګڼ شمېر نورو امريکايي ځواکونو ته دې عراق ته د ورتللو اجازه ورکړي؛ د نوم د نه څرګندولو په شرط دعراق د پارلمان يو غړي ((اليوم الثاني)) نومې عربي رسنۍ ته ويلي دي چې دعراق لومړی وزير حيدر العبادي د امريکا تر سخت فشار لاندې دی ترڅو د مشاورينو په نوم عراق ته د ګڼو نورو امريکايي فوځيانو د ورتللو اجازه ورکړي.

پوښتنه دا ده چې هغه امريکا چې په عراق کې ديو اوږد ، سترې کونکي او له ځاني او مالي تاوانونو ډک جنګ کې د شرمونکې ناکامۍ نه پس يې د دې جنګ ودرول او د دې هيواد نه د خپلو فوځيانو ويستل اعلان کړي او س بيا ولې دې هېواد ته د فوځيانو د رالېږدولو او احتمالاً دلته په ځمکني جنګ کې د خپلو فوځيانو راښکېلولو ته بيا ولې زړه ښه کوي؟

د دې جواب څه جوړه فلسفه نه لري؛ نه داسې ګران دی چې ډېر سوچ فکر وغواړي او نه هم داسې دی چې شوک دې ورسره خپل مخالفت ښکاره کړي ؛ بس سيده ساده خبره دا ده چې امريکا د نړۍ تر ټولو ستر خودغرضه، ښکېلاکګر او اشغالګر هيواد دی؛ هر اقدام او هره پرېکړه يې ښکېلاکي اهدافو ته د رسېدلو لپاره وي ؛ د دې ترڅنګ امريکا په نړۍ کې تر بل هر هيواد زيات تېل مصرفونکی او تېل واردونکی هيواد دی؛ د امريکا فوځ د نړۍ د بل هر هيواد د فوځ نه زيات تېل کاروي؛ که د امريکا د دفاع وزارت د تېلو مصارف د نړۍ د هېوادونو د تېلو مصارفو سره پرتله شي نو د دفاع وزارت په ۳۵م ځای کې قرار لري يانې د نړۍ د ۳۴ سترو هېوادونو نه پرته د نړۍ د بل يو هېواد د تېلو ټول مصارف هم يوائې د امريکا د دفاع وزارت د تېلو مصارفو ته نه رسېږي؛ يوائې په ۲۰۰۳ کال کې امريکا ته ۱۱۰ مليارډو ډالرو تېل راوارد شوي وو.

د دې ترڅنګ چې تېل د امريکا ډېره لويه ارتيا ده د ټولې نړۍ په صنعت او تجارت کې هم مرکزي ونډه د تېلو ده او د ډالر ارزښت هم په نړۍ کې له همدې امله دی چې د تېلو پېرل او پلورل پرې کېږي نو ځکه د امريکا په تجارت او خارجه پاليسۍ کې تېل مرکزي رول لوبوي او په نړۍ کې د امريکا جنګونه هم د همدې تېلو او غازو په ټولو زېرمو د قبضې لپاره دي ؛ د نړۍ د تېلو په زېرمو چې د امريکا قبضه څومره

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

کمزوري کېږي هغومره به دامریکا حیثیت ته تاوان رسېږي، ډالر قدر به کمېږي او دیورو او دچین دکرنسۍ یوآن سره به دتېلو دنرخ دترل کېدو خطر ډېرېږي نو ځکه امریکا جنګونه هم په هماغو سیمو مسلط کړيدي چرته چې دتېلو او غازو پراخه زېرمې دي؛ په افغانستان دیرغل دنورو اهدافو ترڅنګ یو ستر هدف دا و چې پخپله دافغانستان او منځنۍ آسیا دتېلو او غازو سترې زېرمې دامریکا ترقبضې لاندې راشي خو چې عراق دنړۍ په سطحه دوهم هغه هېواد و چې دتېلو سترې زېرمې یې لرلې؛دزېرمو نه یې په ډېر کم مصرف تېل راویستل کېدل او دمنځنۍ آسیا په نسبت نړیوال مارکیټ ته ډېر نږدې و نو په افغانستان کې دجنګ پایلو ته له انتظار وراندې امریکا پدې هېواد هم یرغل وکړ او دصدام حسین اداره یې ددې لپاره ړنګه کړه چې دلتهد خپلې خوښې اداره رامنځته کړي ؛خپل فوځ د تل لپاره دلته مېشت کړي او نه یواځې دعراق بلکې دټول منځنۍ ختیځ دتېلو په زېرمو یې قبضه راشي چې همدا به یې بیا په ټولې نړۍ دغلبې سبب وي؛په عراق کې دسترو اډو جوړول دهمدې خبرې ډېر ستر دلیل دی.

خو دا چې په عراق کې امریکا او متحدین یې دمجاهدینو دډېر ستر مقاومت سره مخامخ او پدې هېواد کې یې ډېر ځاني او مالي تلفات ولېدل نو خپل ټول پلانونه یې تطبیق نه کړای شول خو په عراق کې په تمامو معنو دلاسپوڅې اداري او دې اداري ته د۵ سوه زرو نه دزیات فوځ په جوړولو بریالی شوه.

امریکا ګومان کاوه چې دمجاهدینو مقابله به په ډېرې اسانۍ ددوئ په لاس جوړه شوې هغه اردو وکړای شي چې قاطع اکثریت یې دشیعه ګانو دی نو ځکه یې خپل فوځونه دعراق له ښارونو وویستل؛دامریکایانو په وینا دعراق دښارونو نه ویستل شوي ټول فوځیان یې خپل هېواد ته ستانه شویدي یواځې ۱۲ زره فوځیان یې په عراق کې دخپل سفارت او دامریکایې قراردادیانو دحفاظت لپاره په عراق کې په خپلو اډو کې ساتلي دي.

امریکا دا کار ددې لپاره وکړ چې شوم اهداف یې پوره شي او دځاني تلفاتو لړۍ یې بنده شي ؛داچې ګوډاګۍ اداره او دامریکا په لاس جوړه شوې اردو دامریکا ګټو ته وفاداره وه نو امریکا په خپل پلان کې تر ډېره حده بریالی وه خو دامریکا او لاسپوڅو له بده مرغه چې په عراق کې هغه داعش سر راپورته کړ چې په مقابل کې یې دعراق فوځ شکست وخوړ، ستر ښارونه ګڼ فوځي تأسیسات او دتېلو دتصفې مرکزونه یې ترې ونیول او دادو په جوړولو دامریکا ټوله خواري او مصارف په سیند لاهو شول.

په عراق کې دامریکا ټوله پانګونه دخطر سره مخامخ شوه نو ځکه یې دداعش پرضد دیو شمېر غربي او عربي هېوادونو اتحاد رامنځته کړ او هوایي درندې حملې یې پرې پیل کړې خو چې هوایي بریدونو دداعش دپرمختګ لارونه نیوله نو امریکا اوس دداعش دپرمختګ دمخنیوي یو بل ناکام کوښښ کوي؛غواړي چې دعراق مورال بایللي فوځ ته نوې حوصله ورکړي او په هر قیمت چې وي دداعش مقابلې ته یې ودروي نو ځکه دجنګ نږدې ساحو ته ځې ترڅو ګوډاګۍ اردو ترشا دامریکایې فوځیانو دوجود ډاډ ترلاسه او تریو حده په ډاډه زړه دمجاهدینو په مقابل کې وجنګېږي چې دا دامریکا ناکامه هڅه ده ،لاسپوڅې اردو به هیڅ حوصله ونه مومي خو برعکس به دمجاهدینو حوصلې نورې هم لوړې شي ؛په ولس کې به یې تائید او دهېواد نه بهر مسلمانانو کې به یې محبوبیت زیات شي چې ورسره به یې دفتحو بهیر نور هم ګړندی شي ؛نړۍ ته به دامریکا دپالیسیو ناکامي ښه روښانه شي او داخبره به یې یقین ته ورسوي چې دامریکا حرص وړی خوی او داشغال فکر هغه دخطا دپاسه خطا ته اړباسي نوځکه له یوې سوړې څوځلې چیچل کېږي.

لیکنه: ملا احمدالله وثیق

د شهید ملا روزي خان عاکف

ژوند او کارنامو ته کتنه

د اداري یادونه:

د ملا احمدالله وثیق لخوا ترتیب شوي د شهید ملاروزي خان عاکف سوانح خورا اوږده او مفصل و، چې د مجلې محدود حجم یې د بشپړ نشر توان نه درلوده، له همدې امله مو سوانح تر یوه حده مختصر کړ چې اوس یې هماغه مختصر شوی متن چاپ ته سپارو.

زوکړه او زده کړې یې

شهید ملا روزي خان عاکف په کال (۱۳۵۴ هـ ش) کې د زابل ولایت دنوبهار ولسوالی دمشیزو په کلي کې دحاجي صالح محمد په دینداره او جهادي کورنی کې دي فاني نړۍ ته سترګې پرانیستې، لومړنی زده کړې یې په خپله سیمه کې دکلي پر ملا امام پیل کړې وروسته د زابل دشاه جوی ولسوالي دموسی زو او کاګری په سیمو کې په زده کړو بوخت شو، دنورو زده کړو لپاره یې د پاکستان دبلوچستان ایالت دکوټې ښار ته سفر وکړ هلته یې په مختلفو دیني مدرسو کې له جیدو علماء کرامو څخه زده کړې ترلاسه کړې

په ۱۹۹۴ کال کې چې دشراو فساد په ضد دطالبانو اسلامي تحریک پیل شو، ملا روزي خان چې لا له وړکتوبه یې له جهاد سره مینه درلوده، له طالبانو سره ملګری شو له همدې امله یې زده کړې نیمګړې پاته شوې، نوموړی دشهادت تر وخته په جهادي فعالیتونو کې مصروف پاته شو او تر اخره یې فرصت ونه موند چې خپلې ناتمامې زده کړې تمامې کړي.

دطالبانو په اسلامي تحریک کې شمولیت او مبارزه یې :

په ۱۹۹۴ میلادي کال کې هغه مهال چې په افغانستان کې د ټولنیز هرج و مرج او فساد د ورکولو په موخه دطالبانو اسلامي تحریک قیام وکړ، شهید ملا رزوي خان عاکف دغه مهال تازه ځوانی ته رسیدلی وو. چې له جهاد او خدمت سره دزیاتې مینې له امله دطالبانو له یوه ګروپ سره ملګری شو، لومړی دکندهار مرکز ته لاړ اوله هغه ځایه دطالبانو په تشکیل کې دشاولیکوټ ولسوالی ته ولاړ او هلته یې دملا عبدالرحمن تر مشری لاندې په وسلوال جهاد پیل وکړ، دکندهار ولایت دبشپړ فتحې وروسته نوموړی په مختلفو وختونو کې له مجاهدینو سره یوځای دګرشک، دلارام، فراه رود او همداسې د فراه ولایت د آب خورما سیمې په سختو جګړو کې یې برخه واخیسته، نوموړي په یادو جګړو کې دخپل شهامت او ددښمن په وړاندې دمیړانې او دلاورۍ په ښودلو سره دمجاهدینو ترمنځ د یوه زړور او مدبر مجاهد په حیث مطرح شو او دهغه مهال دجنګ دلومړیو کرښود قومندانانو شهید ملا محمد اخند، شهید ملا رحمت الله اخند او نورو د اعتماد او توجه وړ وګرځید.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دجنوب لویدځو ولایاتو په استقامت کې دجنګ په لومړیو کرښو کې له خدمت ترسره کولو بعد نوموړی له اوږدې مسافرۍ وروسته په زابل ولایت کې خپل کور ته راستون شو له خپلو قریبانو سره دلږ وخت تیرولو وروسته نوموړی دخپلې ولسوالۍ (نوبهار) له مجاهدینو سره یوځای په تشکیل کې دمیدان ښار پر لوردجنګ لومړیو لیکوته ولاړ.

هغه مهال چې طالبان دمیدان وردګ ولایت په مرکز میدان ښار کې دشر او فساد له ټوپکیانو سره په جګړه بوخت وو دجګړې په لومړۍ دفاعي کرښه کې ترټولو ستراتیژیکه نقطه او مهمه امنیتي پوسته د(کوه کرغ)سنګروو چې ساتل یې ډیرمشکل او خطرناک وو،د کوه کرغ پوسته به همیشه ددښمن ترسختو ګذارونو او مخامخ تعرضونو لاندې وه،شهید ملا روزي خان دخپلو ملګرو په شمول ددې مهم سنګر په ساتلو کې ډیر دپام وړ رول درلود، دکوه کرغ پوسته په داسې یوه موقعیت کې قرار درلود چې کله به مجاهدینو دې پوستې ته اکمالات کول دښمن په ډیره اسانۍ سره په رسا توکه ویشتلای شوای، له همدې امله دورځې ډیر کم له دې لارې دموادو انتقال ترسره کیده،خو ملا روزي خان په جرأت او میړانه رنا ورځ یادې پوستې ته دباییور(ډاټسن) په مټ اکمالات کول نوموړي دمیدان ښار په کوه کرغ،جلریز او ارغندي،سیموپه سختو جګړو کې برخه واخیسته،او کله چې په ۱۳۷۵هـ ش کال په مني کې د کابل دنیو لو لپاره له دوو استقامتونو(جلال اباد او میدان ښار) څخه عملیات پیل شول شهید ملا روزي خان عاکف دهغو مجاهدینو په تشکیل کې وو چې دارغندۍ له لارې دکابل ښار ته ننوتل.

دکابل له سترې فتحې وروسته مجاهدین دپروان ولایت په لور وخوځیدل،شهید عاکف چې څو میاشتې مسلسل یې د جهاد په لومړنیو کرښو کې تېرې وې، دڅه وخت استراحت کولو لپاره خپل کور ته دتللو اراده وکړه ،دشهید عاکف نژدې ملګری ملا عبد الاحد جهانګیر وال وایي ،شهید عاکف له کابله لومړۍ کندهار ته راغی، په دې وخت کې په پروان کې دمخالفینو له لوري شدید تعرضونه پیل شول طالبانو له پروان نه عقب نشیني وکړه، او دکابل ښار حدودو ته جګړه راورسیده،دشهید عاکف چې کله په کندهار کې له دې وضعیت څخه خبر شو د مسؤلیت داحساس له مخې یې کور ته تګ پرېښود ،په کندهار کې له یوې شپې تیرولو وروسته بیرته دکابل په لور حرکت وکړ او دجنګ لومړۍ کرښې ته ولاړ.

دکابل له فتحې څه موده وروسته نوموړی دقرغې داتمې فرقې په تشکیلاتو کې چې قومنداني یې د ملا امیرخان حقاني په غاړه وه جهادي خدمت پیل کړ چې ډیر وخت به په شمالي کې دبګرام په استقامت دجنګ دلومړۍ کرښې دمهمو نقطو دساتلو او نیولو په عملیاتو کې بوخت و.

په ۱۹۹۷ میلادي کال چې کله د طالبانو یو ستر لښکر د سالنګ په تونل د شمال خواته ووت، بغلان او کندز یې ونیول، ملاروزي خان عاکف په همدې عملیاتو کې هم برخوال و، وروسته چې کله همدغه مجاهدین په پلخمري اوکندز کې محاصره شول نوموړي په ډیر متانت له خپلو نورو ملګرو سره یوځای ددښمن په وړاندې مقاومت وکړ، په دې وخت کې ۱۷ ځله یو په بل پسې ددښمن له لوري قوي تعرضونه وشول چې د ټولو په دفاع کې ملا روزي خان له نورو مجاهدینو سره یوځای برخه درلوده او مهم رول یې لوباوه. سلیمان اغا بهیر کیسه کوي، دپلخمري درباتک په سیمه کې دښمن قوي تعرض وکړ، یوشمیر مجاهدین ددښمن په منځ کې محاصره پاته شول.ملا روزي خان چې دا حالت ولید .د مرمیو په باران کې یې خپل بایفور موټر مخامخ ددښمن په عسکروروزغلاوه او ددښمن په منځ کې یې جګړه پیل کړه،محاصره ماته شوه دجګړې په میدان ددښمن د۱۸ تنو جسدونه پاته شول او وسلې یې غنیمت شوې.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

د شمال له فتحې وروسته نوموړي په بلخ کې د یوې ۸۰۰ کسیزې ضربتي قطعې د مشر په حیث دنده اجراء کوله چې د مخالفینو دغلچکي بریدونه مخنیوی یې کاوه، ملا اسدالله واسر وایي: مخالفینو د بلخ او سمنګانو له جنوبي غرنیو سیمو غلچکي بریدونه کول، خو مجاهدینو به په ډیر سرعت سره دفع کول، د همدې ساحې په شولګره، دره صوف، آق کوپرک او نورو سیمو په په دفاعي جګړو کې د امریکایي یرغل او بمبارونو دپیل ترمهاله ملا روزي خان اخند د یوه فعال مسؤل په حیث برخه درلوده.

د امریکایانو یرغل او په وړاندې یې مسلح جهاد

د ۲۰۰۱ میلادي کال د روژې په میاشت کې د اسلامي امارت دمجاهدینو ترعقب نشینۍ وروسته چې له اکثرو سیمو مجاهدین ووتل ملا روزي خان عاکف هغه مهال هم په خپله سیمه کې فعال پاته شو له خپلو مسلحو مجاهدینو سره یوځای په جهادي فعالیتونو اودخپلو اسلحو او پوځي وسایطو په خوندي کولو او ساتلو بوخت وو، هغه مهال مې شهید ملا روزي خان عاکف ولیددخپلو وسایلو په اړه یې راته

داسې وویل: ((په دې وروستیو کې مې لوی ملاصاحب (امیرالمومنین ملا محمدعمرمجاهد) ولید هدایت یې راته وکړ چې وس دې کیږي یو ټوپک لا هم چاته ورنکړې نور ته پوه شه او کار دې)، دملا صاحب دامر مطابق مې الحمدالله ټول پوځي وسایل اووسایط خوندي کړي او دوخت انتظار کوم)). راقم الحروف

۲۰۰۲م کال په افغانستان د امریکایي یرغل لومړنی کال و، دا کال د سختو مایوسیو، خپګانونو او مصائبو کال و، امریکایي یرغل په اوج او موج کې و، په ځمکې آن تر کلیو او اطرافي سیمو پورې دیرغلګرو ازادانه ګزمې ګرځیدې او د اسمان مخ د امریکایي الوتکو ګشت و ګزار نیولی و. کفري ایتلاف خپل ټول پوځي زور نمایش ته وړاندې کړی و، او اولس د سخت هیجان، مایوسۍ او حیرانتیا سره مخامخ و.

خو په هماغو امتحاني شیبو کې د هیواد په ګوټ ګوټ کې یو شمیر باعزمه زلمیو د حوادثو له سیلاب سره مقابله وکړه، عزم یې متزلزل نه شو او د خپل جهادي مسیر دتعقیب او بیا سمبالتیا لپاره لاس په کار شول، په دې زلمیو کې په زابل ولایت کې ملا روزي خان عاکف هم و، چې دامریکایي یرغل په وړاندې له مقدمو جهادي مخکښانو څخه شمیرل کیږي.

ملا سلیمان اغا بهیر چې د اشغال په وړاندې د وسلوالې مبارزې په پیل کې له ملا روزي خان سره ملګری وو وایي، دامریکایانو لخوا دافغانستان داشغال په لومړیو کې یوه ورځ حاجي ملا رزوي خان یو شمیر مخور او بانفوذه کسان راغونډ کړل او له خپلې جهادي ارادې یې خبر کړل وروسته یې له مجلس نه وغوښتل چې په دې اړه ستاسو څه نظر دی، دمجلس له یوه سر نه نظرونه پیل شول او تر پایه ورسیدل اکثریت په دې نظر وو چې اوس دستي دوسلوال جهاد لپاره زمینه نه ده مساعده دمجلس د وروستي کس دنظر تر اوریدلو وروسته ملا روزي خان ماته مخ را واړاوه چې ستا څه نظر دی، زه چې دمجلس دبرخوالو مایوس کن نظرونو زړه نازړه کړی وم چندان مثبت جواب مې ورنکړ، ملاروزي خان کرار وخندل او راته یې وویل، پوښتنه کوم، چې نور هیڅ څوک نه وي راسره او زه په یوازې تن راولاړ شم زموږ وطن ته دراغلو غاصبو کفارو په مقابل کې دا خپل سر قرباني کړم شهید بلل کیږم؟ زما مرګ خو به نه خرابیږي؟ ما ورته وویل نه هیڅ کله نه نوموړي سم دستي خپل ټوپک اوږې ته کړ له مجلس نه یې اجازه راواخیسته او ماته یې ویل راځه، په موټر سایکل سپاره شولو ترښه ډیره مو هیڅ ږغ نه وو وروسته نوموړي دراتلونکو پلانونو په اړه بحث پیل کړ.

ملا روزي خان عاکف ترټولو لومړی وسلوال برید د۲۰۰۳م کال په اوایلو کې دزابل ولایت دنوبهار ولسوالۍ په مرکز ترسره کړ، ولسوالي یې په بشپړه توګه فتح

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

کړه ګڼ شمیر وسایل یې په غنیمت ونیول، له دې کامیاب برید وروسته دښمن غوښتل چې دنوبهار ولسوالي بېرته ونیسي په سهاریې دزابل له مرکزقلات او کندهار ولایت نه ستره قوه دنوبهار ولسوالۍ په لور راغله، مجاهدینو دسپیره سنګ په سیمه کې ورته کمین ونیو، ټوله قوه یې بېرته په شاه کړه او دولسوالۍ مرکز ته ونه رسیدل دا په زابل او ګاونډیو ولایتونو کې ترټول لومړی وسلوال برید او بریا وه چې مجاهدینو ترلاسه کړه.دوهم برید دسپیرسنګ په سیمه کې دګوډاګۍ اداري په عسکرو ترسره شو ، څو ورځې وروسته دسرخکان دلودینو په سیمه کې د زابل دامنیه قومندانۍ پر عسکرو وسلوال برید ترسره شو چې په نتیجه کې یې یو عسکرووژل شو دعبدالخالق په نوم یو قومندان ژوندی ونیول شو.دې بریدونو په خپل وخت کې دحالاتو نامساعدتیا ته په کتو خورا ډیر اهمیت درلود ،ځکه په دې سره په سیمه کې دمجاهدینو موجودیت ثابت شو او ددښمن غرور یې ختم کړ هغه ډار او دهشت چې په سیمه خپور وو دخلکو له زړونو ووتی.دې غیرمتوقعه پېښو ددښمن پښې ولړزولې، هغو سیمو ته چې به عسکر په ډیر اطمنان تلل مخه یې ونیول شوه.

په ۲۰۰۳ میلادي کال کې دکابل کندهار په لویه لار دتازي په سیمه دګوډاګیو عسکرو په قوي پوسته دشپې لمخې پراخ وسلوال برید ترسره شو ، په دې حمله کې دشهید ملا روزي خان ترڅنګ دزابل یو شمیر جهادي قومندانو (شهید ملا محمدګل بشیر ،شهید ملا نذیراخند او ملا احمدالله منصور)هم برخه درلوده دبرید عمومي قومنده دشهید ملا روزي خان په غاړه وه .اسدالله واسر چې په دې حمله کې له ملا روزي خان سره ملګری وو وایي ، هغه شپه حاجي صاحب(ملاروزي خان) مجاهدین په دریو برخو تشکیل کړل یوه ډله مجاهدین په کمین کې وه دوهمه ډله د وسائطو او شاته دوتلو دلارې دحفاظت لپاره وګمارل شوه دریمه ډله پر پوسته باندې دتعرض لپاره تعین شوه چې ددې وروستي ډلې مشري د ملا روزيخان په غاړه ، لومړی څو ملګري پوستې ته ډیر نژدې ورغلل او د بي ایم یک مرمۍ یې پوستې ته نصب او فیر کړه مرمۍ په خپل هدف رسا ولګیده ، له دې سره سم مجاهدینو پر پوسته تعرض پیل کړ، کله چې موږ پوستې ته ورسیدو ملا روزي خان عاکف تر موږ مخکې پوستې ته رسیدلی و وروسته دکمین ملګري پوستې ته پر راروانو کومکي عسکرو هم برید وکړ په دې کامیابو عملیاتو کې ۱۴ عسکر ووژل شول،۷ تنه ژوندي ونیول شول،دوه موټر تخریب شول یو مو غنیمت کړ.

دا عملیات دکابل کندهار په لویه لار دسړک پر سر ترسره شول نو ځکه یې له جزیاتو عام خلک هم خبر شول او پیښې هغه مهال ډیر مطبوعاتي کوریج درلود.

د ۲۰۰۳ میلادي کال په وروستیو کې د زابل د شاه جوی ولسوالۍ په مرکز او امنیه قومندانۍ پراخ وسلوال او پروګرامي حمله ترسره شوه ،دشاه جوی ولسوالۍ په ولایت کې ترټولو مهمه او ستراتیژیکه ولسوالۍ ده چې دکابل کندهار په لویه لار پرته ده ، دښمن یې همیشه د ساتلو ډیر زیات کوشش کوي.په ولسوالي له دوو لوریو برید ترسره شو ،دحسن کاریز له خوا قومنده دملا روزي خان په غاړه وه او دارغنداب سړک له لوري قومنده دمولوي محمدعالم مسولیت وو.په دې حمله کې ددښمن ګڼ شمیر عسکر ووژل شول دمحمدجمعه په نوم یو قومندان ژوندی ونیول شو.

په ۲۰۰۴ میلادی کال کې دکابل کندهار په لویه لار قلات ته څیرمه دکابل اداري د زابل د والي خیال محمد حسیني په موټریز کاروان مخامخ برید ترسره شو چې له امله یې ګڼ شمیر امنیتي پولیس مړه او ژوبل شول او یو شمیر یې ژوندي ونیول شول خپله والي له بریده روغ ووتي. له دې برید وروسته دښمن سخت تعقیب پیل کړ امریکایي ځواکونو دملا روزي خان او ملګرو دنیولو لپاره سختي چاپې پیل کړې.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

ګلورينې پاڼې

مناجات

عبدالاحد حماد

ستا په ښایست پسې مې وران کړې -لویه خدایه
زړګی مې ستا په عشق ودان کړې -لویه خدایه

چې خلاص د ځان له بندګۍ شم
بس لاس په سر له دنیاګۍ شم
او جوړ دښمن د بدرنګۍ شم
مل د ښایست د شهزادګۍ شم
یار د خمارې زندګۍ شم
او پوه په خوند د ملنګۍ شم
په رنګ مین د بې رنګۍ شم
در پسې ټول سلګۍ سلګۍ شم
سمبول د درد د دنیاګۍ شم
او خلاص په دار له بې ننګۍ شم

ته مې در خپل ته مې د ځان کړې - لویه خدایه
زړګی مې ستا په عشق ودان کړې -لویه خدایه

ستا عَظمَت ته آسمانونه
سر په سجده دي لوی لوی غرونه
درنه ځاریږي ښایستونه
زخمي غاټول او ګلابونه
د رڼو ستورو سترګکونه
اوړي په تا پسې موجونه

لوی دریابونه ولونه ولونه
ستایي دي مست مست آبشارونه
لولي دي نهر نوي نومونه
په سرکو شونډو سره لالونه

ما مازدیګر ما درقربان کړې - لویه خد
زړګی مې ستا په عشق ودان کړې -لویه خد

په حقیقت او په مجاز کې
د هرې شمعې په ګداز کې
د تجلا په بیل انداز کې
د کوه طور په امتیاز کې
د ښکلو سترګو په اعجاز کې
د زخمي زړه په هر آواز کې
د صوفیانه رقص په راز کې
د هر غزل په سر آغاز کې
پ'یزیب، کتاب او په شهباز کې
بس ستا ښایست دی په هر ناز کې

د لمر په خیر مې سرګردان کړې -لویه خد
زړګی مې ستا په عشق ودان کړې -لویه خد

که خال او خط او که صنم دی
سیتار، رباب که زیر او بم دی
سر په ثنا دې ټول عالم دی
سهار، ماښام که صبحدم دی
په تا زیبا اسم اعظم دی
ګل که ګلدان او که شبنم دی
په تا بسیا لوح و قلم دی
بیت المعمور او که حرم دی
له ښایستونو په ملا خم دی
د بودۍ تال او که صنم دی
ستا د رحمت یو لوی عالم دی
وریځې ،باران او که زمزم دی

بس په تا ګران په حماد ګران کړې -لویه خدایه
زړګی مې ستا یه عشق ودان کری -لویه خدایه

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

تکبیر

حاجي محمد اواب

د هیواد غازي هوا وایي تکبیر
د احمد بابا اروا وایي تکبیر

د توحید په میو مست د جام مینار
د ننګ ولاړ له ډیر پخوا وایي تکبیر

څوړ جګیږي له ارغنده د تهلیل
اتل رود د هریوا وایي تکبیر

تل خزه دي او دښمن ولي پر تپک
هسک پامیر کاندي غزا وایي تکبیر

ملا اوابه ونې زانګي د درست روه
دا غازیان په جنګ لګیا وایي تکبیر

غزاوې

حمد الله حلمیار

موږ یو ازاد خو پنجرې دي رانه تاوې فقط
هرڅه لرو دلته بس نه لرو رڼاوې فقط
دادحیات پر چینه بل څوک دژوند حق نه لري
که حق لري نو دي یو څو توري بلاوې فقط
زما دخوبونو تفسیر زه په خپله ښه کومه
شیخه راوښیه وما ته یې معناوې فقط
دغرونو خلک دي دغرو په احاطه کې اوسي
دښار له خلکو نه چار پېره دي کلاوې فقط
نن چې پر دین او وطن ننګ ته راوتلي یمه
موري په کار مې دي نن ستا د خولې دعاوې فقط
نو حلمیاره زموږ مرګ دی شهادت شهادت
چې په نصیب کې مو لیکلي دي غزاوې فقط

آمین

محمد قیس زهیب

بیا طالب دښمن ته ناست دی په کمین کې
دبري نښې یې ښکاري په جبین کې

انتقام اخلي دهغو مظلومانو
چې کباب شول په برما او فلسطین کې

د جهاد او د واغلظ قول راغلی
سستي نشته زموږ پاک اسلامي دین کې

چې ددین وطن ناموس دفاع څوک نه کړي
وي مسکن به یې اسفل السافلین کې

چې جهاد نه کړي منکر وي هغه نه دی
په امت د رحمة اللعالمین کې

مجاهد جانان سنګرکي یاسین وایي
ستر تاثیر ایښی الله په هر مبین کې

زه زهیب موحاکمان غوارم غازیانو
لاس کړئ پورته اې ملګرو په آمین کې



PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

شهید ملا روزي خان د ۲۰۰۲ نه بیا تر ۲۰۰۴ م کال پورې د جهاد په هماغو لومړنیو امتحاني شیبو کې د خپلو حیرانوونکو کارنامو او کامیابو جګړو له امله دیوه پیاوړي ،منلي او بانفوذه طالب قومندان په حیث شهرت وموند ،د زابل ولایت په ګڼو ولسوالیو او دورځیرمه ولایتونو غزني او کندهار په یو شمیر ولسوالیو کې یې ډیر زیات نفوذ پیدا کړ ، نوموړي وخت ناوخت په زابل سربیره د غزني په ناوه ، مقر، او جنډه ولسوالیو کې هم عملیات ترسره کول ،د غزني ولایت د عسکر کوټ په امریکایي مرکز یې په لومړي ځل توغندیز برید ترسره کړ ، ملا داد ګل مسلم چې هغه مهال د شهید عاکف دسنګر ملګری وو وایي، په دې عملیاتو کې شهید ملا محمد ګل بشیر شهید ملا روزي خان او څو نور ملګری راسره ووچې د عسکرکوټ په کمپنۍ مو توغندي ورفیر کړې.

دیادو کلونو په موده کې دجهاد ساحې پراخې شوې او دجنوب په زیاترو ولایتونو کې داشغال په ضد جهاد او مقاومت ګرم شو، د زابل ،کندهار، ارزګان او غزني مجاهدینو په همغږۍ او له یو بل سره په همکارۍ خپل جهادي فعالیتونه مخ ته وړل، ددې جهادي فضاء په رامنځته کیدو او سیمو په ازادۍ کې د ملا روزي خان اخند اساسي نقش و چې په لومړنیو سختو حالاتو کې یې جهادي مقاومت جاري وساتي، او د جهاد ولوله یې سرېدا ته پرېنښوده.

دشهادت واقعه یې

شهید ملا روزي خان په زابل او ورځیرمه جنوبي ولایاتو کې د اشغال په وړاندې دوسلوال جهاد له مخکښانو بلل کیده، دنوموړي په نوښت او جهادي فعالیتونو په یادو سیمو کې دجهاد ساحې پراخې شوې له همغه پیله لا نوموړی ددښمن دسترګو اغزی وو دهغه دله منځه وړلو ،شهادت او یا ژوندي نیولو لپاره یې ډیر زیات کوششونه او هڅې کولې، دنوموړي دکشف لپاره یې زیات شمیر جاسوسان ګمارلي و ترڅو دقیق موقعیت یې معلوم کړي.

کله چې په ۲۰۰۴ م میلادي کال کې د سیوري ولسوالۍ په مربوطاتو کې دامریکایي ځواکونو په قطار چاودنه وشوه په دې چاودنه کې دنورو پوځیانو ترڅنګ یو لوړ پوړي امریکایي آفسر چې (ډان) نومیده هم ووژل شو، له پیښې وروسته له مطبوعاتو سره په خبرو کې ملا روزي خان دیادې حملې مسولیت ومانه، ملا سلیمان اغا بهیر وایي چې له دې پیښې وروسته حاجي روزي خان ته امریکایي ځواکونه ډیر زیات متوجه شول او دهغه دلمنځه وړلو لپاره یې مسلسلې چاپې ووهلې ، له څلورو سختو یرغلیزو چاپو نوموړی ژوندي ووت، ملګرو مشوره ورکړه چې د څه وخت لپاره سیمه بدله کړي او لږ ځان ګوښه کړي.

دخدای دلارې د سپیڅلي او پاک زړي مجاهد ملا روزي خان چې دجهاد په لار کې شهادت یې دژوند ترټولو ستر ارمان وو بالاخره د ۲۰۰۴ م کال داګست په ۲۹ نیټه غرمه مهال دشاه جوي ولسوالۍ مربوط د(خړ دوزي)په نوم کلي کې په یوه کور کې له یوه بل ملګري سره ناست وو ، امریکایي ځواکونو یو ناڅاپه دهوایي او زمیني ځواک په مټ پرې چاپه ووهله او نوموړی یې محاصره کړ. دخړدوزي دکلي یو کلیوال دخپلو سترګو لیدلی حال داسي بیانوي. کله چې دالوتکو ږغ شو او په لرې فاصله کې یې دورې وهلې، ملا روزي خان په خپل کله کوف ماشین غوټه کړه او چانټه یې وتړله. ملګري ته یې وویل ته توپک وغورځوه په کلي کې چیرته ځان پټ کړه ما په خپله مخه پرېږده، کلي ته نژدې غره ته یې مخه کړه، دکلي په منځ کې کلیوالو را ایسار کړ او مشوره یې ورکړه چې د ابو دکاریز خاه ته باید شوه شي، ملا روزي خان وویل چې زه امریکایانو ته ځان ژوندي په لاس نه ورکوم تاسو ځانونه خوندي کړي ما او کار سره پرېږدئ، دغره خواته په ختلې نرۍ لار باندې رهي شو او ډیر په اطمنان باندې روان وو ، امریکایي الوتکو زیات شور جوړ کړی وو او په نوموړي یې دګازي ګرنیټونو ګزارونه کول، کله چې نوموړی دغونډۍ سره ته پورته

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

شو هلته یې ددو لویو ډبرو په منځ کې سنګر ونیو، دده لورته په ځلور تیره موټر سایکلونو کې په ور روانو امریکایي عسکرو یې ډزې کولې دي متقابلو ډزو تر ډیره پورې دوام وکړ د نوموړي په ډزو باندې یو شمیر امریکایي عسکر ولګیدل چې نورو عسکرو د کلي په سر کې یوې کنډوالې ته په ځولې کې راوړل. وروسته د محاصرې کړۍ وروورو پرې راتنګیدله یو شمیر عسکر دشا طرف ته ورسره راوګرځیدل او په شهادت یې ورساوه.

انا لله وانا الیه راجعون.

وروسته امریکایي عسکرو دنوموړي جسد له غره نه را کښته کړاو په هلیکوپتر الوتکه کې یې له ځانه سره انتقال کړ.دنوموړي جسد ترشلو ورځو پورې امریکایي ځواکونو په باګرام هوایي اډه کې ساتلی وو له شلو ورځو بعد یې د سیمې دخلکو دډیر اصرار له امله سپین ږیرو ته وسپارل شو اونوبهار ولسوالۍ ته خیرمه دمشیزو په کلي کې خاورته وسپارل شول.

د شهید ملاروزي خان د شخصیت په اړه

د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور او معارف پخوانی وزیر ملا امیرخان متقي چې په ۱۹۹۷م کال کې د سالنګ له لارې شمال ته د اوښتو طالبانو سره یوځای او دکندز د محاصرې عیني شاهد و، د ملا روزي خان جهادي فعالیتونه او له جهاد سره شوق یې له نیږدې په خپلو سترګو لیدلي او ځارلي، ددښمن په وړاندې د هغه مهال په تعرضونو کې دنوموړي، دپوره میړانې، پوځي نبوغ او هوښیارۍ یادونه کوي، همدا راز د امریکایي اشغال په وړاندې دجهاد په شروع کولو کې د شهید ملا روزي خان عمده رول د قدر وړ بولي، نوموړی دشهید عاکف دشخصیت په اړه خپل نظر په لنډو ټکو کې داسې څرګندوي:

په پلخمرۍ او کندز کې دمحاصرې او مقاومت شپې ورځې واقعا دتکلیف، سترپیا او فشار له اړخه کم ساري وې چې هرچاېي دبرداشتولو توان نه درلود، ملاروزي خان اخند چې په هغه وخت کې په عمر هم کشرو خو ثبات او لوړ مورال یې دیوه ډیرپاخه او تجربه کاره شخصیت په ډول و، نوموړي له دې سختو حالاتو سره خورا په ورین تندي برخورد کاوه هغه دا تکالیف اصلا تکلیفونه نه بلل زما یې دا ورتیا ډیره خوښیده چې په کوم طرف به سختي وه، ددښمن فشار به وا و په ده به موږ غږ وکړ خورا په چټکۍ او خوښۍ به فورا هغه لوري ته روان شو او دخطرپروایې نه کوله بل داچې دالله دلارې دیوه مجاهد ترټولو ممتازه خاصه باید ښه اخلاق وي شهید ملا روزي خان له دې امله هم الله تعالی په لوړ انعام نازولی و.

تکړه لیکوال او شنونکی مولوي عبدالرحیم ثاقب چې له ملا روزي خان سره یې ډیرځله لیده کاته شوي، د نوموړي په اند شهید ملا روزي خان دامریکا یی اشغال په ضد دجهاد او مقاومت مشهوره او تاریخ سازه څهره ده نوموړی زیاتوي:
شهید ملاروزي خان یو ځوان نوښتګر شخصیت وه چې په ښکلې جهادي څیره کې یې تربل هرڅه زیات دپوځي نبوغ او زکاوت نښې څرګندوې، مـ چې به کله هم نوموړی شهید لیدو، د ده په لیدو به مې په زړه کې جهادي عزم او همت را تازه کیدو. هغه مهال چې د غربي میډیا د تبلیغاتو په مټ صلیبي ځواکونه د نړۍ بې سیاله فاتحین بلل کیدل او د دوی په مقابل کې دریدل یو اخېي له خپل ژوند سره دلوبو کولو په معناوه شهید ملاروزي خان په خپل جهادي همت او شجاعت سره عملا وکړای شول چې افغان ولس ته د یرغلګرو په مقابل کې دبریمنې مقابلې روحیه ورکړي. د صلیبي یرغلګرو په خلاف د جهاد ابتدایي مراحل ډیر تاریخ جوړوونکې حساسې شیبې وې چې اساس یې د شهید عاکف په څیر د غیرتي سربښندونکو غازیانو په فداکاریو او قربانیو ښودل شوی دی.

زمونږ د جهاد اوسنی تولې پوځي او سیاسي لاسته راوړنې هم دهماغې تاریخ جوړوونکې مرحلې د تاریخي قهرمانانو د قربانیو او سربښندنو محصول دي.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

شهید ملا روزيخان (عاكف)
د خپل عصر د جهادي سرخيلانو په جمله كي يو ځوان ،مبتكر او ويښ قائد وه چې د بهرنيو يرغلګرو په مقابل كي د جهادي پلانونو په طراحي كي خپل ځانګړی مهارت درلود..

د اسلامي امارت وياند ښاغلي ذبيح الله مجاهد وايي:

دشهيد ملا روزي خان له نامه سره هغه مهال آشنا شوم چې دطالبانو داسلامي تحريك ځواكونه په ميدان ښار كي دشر او فسادله مليشو سره په جګړه بوخت وو ، د كوهي كورغ په استقامت به اكثره وخت دي ته اړتيا پيدا كيدله چې مجاهدين د دښمن په مركزونو او پوستو تعروضي بريدونه وكړي ، ددغو بريدونو په جريان كي به د ميدان ښار د خط ټولو مجاهدينو خپله ونډه اداكوله په دغو جګړوكي به ځينې مجاهدين چې خورا زړور ، باتور او ميړني معلوميدل له يو بل سره اوږه په اوږه دتعرض په هيله روان وو ، تور او نوي ثقيلان (پيكا ماشينګن) به ورسره وو او دبريد په لوربه يي قدم واهه ، په دغو كسانو كي يو هم دزابل ولايت مشهور قومندان ملا روزي خان ، ورسره بل مشهور دلګی مشر ملابسم الله سحر او دپكتيا ولايت دزرمت اوسيدونكي (جګ) ملا نذير اخند وو ، دغو دريو ملګرو به په خپل منځ كي خورا مينه او صميميت لاره ، له ملا روزي خان سره دلږ اوږدې زمانې لپاره هغه زمانه شناخته پاتې شوم چې دكندز په ولايت كي دلومړي ځل لپاره طالبان محاصره شوي وو ، په دې مهال شهيد ملا روزي خان اخند دكندز په بالاحصار او ورنه لاندې نيږدې مركزونو كي له خپلو ګڼ شمير طالب ملګرو سره اوسيده او وخت په وخت به يي د محاصرې به زمانه كي كله يو خوا او كله هم بله خوا ددښمن دتعرضونو مخنيوي ته دانګل . او په ډير اخلاص يي جهادي خدمت كاوو. كله چې خبره امريكايي يرغل ته ورسيده نو د دوهم ځلي جهاد په پيل كي مې بيا دملا روزي خان اخند نوم د زابل په ولايت كي واوريده چې دميړانې ملايې تړلې او له يرغلګرو سره په جګړه بوخت ده ، نورهغه صفات چې دده د لاډير متانت او لا قهرمانۍ په اړه اوريدل شوي ښيخي زيات دي كوم شی چې زه زيات متاثر كړم هغه دا وو چې يوه مخلص ملګري راته دشهيد ملا رزوی خان كيسه كوله، چې يو چاترينه پوښتنه وكړه چې ډيره ښه ځواني دې ده نو كه جهادكوي شهيد نشي ؟ وايي ده ورته په ځواب كي وويل چې(زما هم دا خوښه ده چې خداي راكړې ښه ځواني بيرته دالله په لاره كي قرباني كړم).

له پورته وينا ځخه دده نيت ، خلوص او له الله تعالي سره مينه ځرګنديږي .

شاعر او ليكوال ملا راز محمد ساقيار چې له شهيد عاكف سره ډير وخت پاته شوی، په سنګر او يو شمير سفرونو كي ورسره ملګری شوی، دنوموړي په اړه وايي، ملا روزي خان دجنګ په ميدان كي دقهرمانۍ او فداكاري ترځنګ دنورو ګڼو عالي صفاتو درلودونكی وو ،دښايسته صورت او سيرت،لوړو اخلاقو او متواضع طبيعت د درلودلو له امله يې دخلګو په زړونو كي ځاي پيدا كړی وو ، دمختلفو قومونو او مختلفو ژبو مجاهدين(عرب،ترک، او ازبک) ورسره ملګري وو چې ترځپله وسه يي كوشش كاوه چې له ټولو سره په شناخت او علاقه كي مساوي ګوزاره وكړي په وروستي ځل چې بيا په هغه موده كي پسې شهيد هم شو ترشپږ مياشتې زيات وخت مسلسل له مجاهدينو سره په سنګر كي پاته وواو دشهادت په شوق يې وخت تيراوه.نوموړی دجهاد په كارونو كي خورا زيات جدي سړي وو.

ملا عبدالاحد جهانګيروال، داسلامي امارت دحكومت په مهال دامير المؤمنين كاتب او سكرتر دشهيد عاكف په اړه خپل نظر داسي ځرګندوي:

شهيد ملا روزي خان له ښايسته ځواني او نيكو صفتونو سره سره يو استثنايي شخصيت ، دلوړ فكر او عالي تدبير خښتن وو ، ټول فعاليتونه او تحركات يې د اسلام، وطن او د اولس دخلګو په ګټه وو او داسلامي نظام برپا كيدل او دهيواد ازادي

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

یې تر ټولو غټ ارمان وو، او په دې لار کې شهادت یې ارزو وه، ددې له شهادت وروسته را منځ ته شوې خلا تر اوسه پورې موږ ډکه نکړای شوه.

لیکوال او مبصر قاري حبیب وایي: ملا روزي خان په ۲۰۰۳م کال کې په جهادي ډګر خورا مطرح شو، دا دمایوسیو او امتحاناتو سخت شرایط وو، دامریکایانو یرغل په زور کې و، خو داسې ویل کیدل چې په زابل ولایت کې د ملا روزي خان اخند په مشرۍ مجاهدین علني جهاد کوي، له دې وروسته مې په یوه ویډیوي فلم کې د نوموړي د جهادي فعالیتونو ژوندۍ صحنې ولیدې چې خورا روح پارونکې او مورال بښونکې وې، نوموړی د نړیوال یرغلګر کفر ستر دښمن و، چې بالاخره دامریکایانو سره په مخامخ جګړه کې د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

د نوموړي جهادي مرتبت له دې هم اټکلولای شو، چې امریکایانو یې د شهادت خبر ډیر مطبوعاتي کړ، د نوموړي دشهادت په پېښه یې مستند فلم جوړ او نشر کړ، او د نوموړي جسد یې د دریو اونیو لپاره د بګرام په اډه کې ساتلی و، په هر حال شهید ملا روزي خان اخند د سختیو او ناهیلیو په تورتم کې هغه ځلنده ستوري وچې د ځوان جهادي نسل امیدونه یې تاند ساتل، په پای کې دا ستوری د شهاب غوندې د وخت په شیطان را پریوت او دخپل تن په بیه یې د وخت فرعون ته عبرتناک ګوزار ورکړ.

ددښمن اعترافات

کله چې د زابل په لیرو پرتو ولسوالیو کې د اشغالګرو او کابل اداري فعالیتونه محدود شول. مجاهدینو ډیره توجه دکابل کندهار لویې لارې ته واړوله په دغه لاره د اشغالګرو ځواکونو په پوځي او اکمالاتي کاروانونو یې حملو ته زور ورکړ په عمومي سړک یې پوره کنټرول او واک پیدا کړ ډیر وخت به دکابل کندهار عمومي لار دساعتونو لپاره دمجاهدینو دعملیاتو له امله بند وه. دې حالت دکابل اداري چارواکي سخت په تنګ کړل له مجاهدینو سره د ځه تیرې بیرې دخبرو کولو کوششونه یې پیل کړل په دې موده کې یوځل علی احمد جلالي چې هغه مهال دکابل رژیم دکورنیو چارو وزیر وو، له ملا روزي خان سره یې تلیفوني اړیکه ونیوه او داسې یې ورته وویل، ته یو زړور افغان یې او ددې خاورې غیرت من بچی یې زه ستاسو په میړانه ویاړ کوم. ته دافغانستان یوه هستي یې په دې بې ځایه مقاومت کې خپل ژوند له لاسه مه ورکوه، که تاسو غواړئ چې له مقاومت نه لاس واخلئ ستاسو هر ډول شرایط به ومنل شي او هر ځه امتیاز به درکړل شي.

ملا روزي خان په ځواب کې ورته وویل، زه ستاسو ددې حسن نظر چې زما په اړه یې لرې ستاینه کوم. باید ووایم افغانستان اشغال شوی دی، وطن ته مو په حساب په زرګونو کفري لښکرې راغلې، اوس وخت په موږ او تاسو ټولو جهاد فرض دی، دخپل ځان په اړه به درته ووایم تر ځو چې یو اشغالګر خارجي عسکر په افغانستان کې موجود وي زه به له جهاده لاس وانخلم

د کابل کندهار په لویه لار نژدې هره ورځ ددښمن اکمالاتي تیلر او ټانکر تر برید لاندې راتلل او درون مالي زیان ور اوښت، ملا داد ګل مسلم وایي، یوځل دکابل اداري دغزني والي اسدالله خالد ملا روزي خان ته ټلیفون راوکړ او ورته یې وویل، په اکمالاتي ټانکرو او لاریو بریدونه پریږدئ هره میاشت به یې په مقابل کې تاسو ته یو لک ډالر درکوو. خو حاجي ملا روزي خان ورسره ونه منله

رحمه الله تعالی

د ۱۴۳۲ ه ق کال دمحرم الحرام دمیاشتې ۲۷ نیټه

په افغانستان دامریکا یرغل د معاصر وخت یو کمساری جنګ و. د نړۍ تر ټولو ستر جنګي ایتلاف له خپلو غرور او تکبر سره په یوه تر ټولو مظلوم، تش لاسي او

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

حبیب مجاهد

مغرورانه یرغل او عبرتناک شکست

ځپل شوي اولس باندې هجوم وروور، د کفر هغه جنګي ایتلاف چې په افغانستان یې برید وکړ، ۴۴ هیوادونو په کې پوځي ګډون درلود او ۵۴ نورو د سیمې او نړۍ هیوادونو ورسره استخباراتي ملګرتیا درلوده، دومره ستر جنګي ایتلاف حتی د تیرو نړیوالو جګړو په مهال هم نه و لیدل شوی، دغه جنګ هغه مهال خلکو د فیل او غوماشي جګړه بلله، چې یوې خوا ته یې عالمګیر جنګي ایتلاف او بلې خوا ته یې محدود خو دعقیدې په وسله سمبال مجاهدین و.

امریکایانو دخپل پوځي غرور او ظاهربینۍ له امله خپل جنګ ته د دتلپاتي ازادۍ نوم ورکړ، دوی فکر کاوو چې دغه جنګ یې ګټلی دی او مجاهدین به بیا کله هم ونه توانیږي چې ددوی جنګي قواوو ته خنډ شي، یا یې په وړاندې کوم مقاومت وکړي.

خو الله تعالی هرڅه سرچپه ثابت کړل، الله تعالی د افغانستان د جګړې په ډګر کې یوځل بیا ناخبره انسانانو ته عملا وښودل، چې دجګړې د ګټلو معیار یوازې ظاهري وسائل او اسباب نه دي، بلکې قوي ایمان او په الهي نصرت باور هغه څه دی، چې کمزوري خلک د بریا تر منزله رسوي، او الله تعالی په هره زمانه کې کولای شي، چې د کمزورو مؤمنانو په لاس د زورورو فرعونیانو په راچپه کولو سره بندګانو ته خپل قدرت وښیي. په افغانستان کې همداسې وشول، هغه امریکایي، برتانوي، فرانسوي، ایټالوي، کانادایي، هسپانوي، هالنډي او دنورو کفري هیوادونو یرغلګر چې د غرور په مستۍ کې راغلي وو او غوښتل یې دا هیواد په خپلو همیشنیو مستعمراتو کې داخل کړي، دمجاهدینو درسا ګوزارونو په پیل کې مجبور شول، چې یو یو د تیښتې لاره ونیسي.

د استرالیا، هالند، پولینډ، ډنمارک، ایټالیا، هسپانیا، کاناډا، فرانسې، چک، ناروې، سویډن، نیوزیلانډ او تر یو لک زیاتو امریکایي عسکرو له تیښتې وروسته تیره میاشت برتانوي یرغلګرو هم په افغانستان کې رسما خپل بیرغ راکوز او له دې هیواد څخه یې دتیښتې لار ونیوله.

برتانیا هغه هیواد و چې له امریکا وروسته یې د افغانستان په جګړه کې تر ټولو دیر نقش درلود، او په جنګي دریځ یې پرلپسې ټینګار کاوو، خو د ۲۰۱۴ م کال د اکتوبر په ۲۷ ددې هیواد عسکرو د هلمند په شوراب کې په خپله مرکزي قرارګاه کې

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

د يو لړ مراسمو په ترڅ کې رسما خپله ناکامي ومنله او د خپل بيرغ له راټيټولو وروسته يې خپل ټول پوځيان له افغانستان وايستل.

د برتانوي عسکرو له وتلو دوه اونۍ وروسته د برتانيې ددفاع وزير مايکل فالون اعلان وکړ، چې له افغانستان څخه يې خپلې ټولې جنګي او استطلاعي الوتکې هم ايستلي دي، نوموړي وويل چې په دې هيواد کې د برتانيې ګڼ شمير استطلاعي الوتکې تيره لسيزه کې په دنده بوختې وې، دغه راز د تورنادو الوتکو په شمول ګڼ شمير بې غورځوونکي جنګي الوتکو هم تير څو کاله په افغانستان کې دنده درلوده، خو داکتوبر مياشتې په لومړيو کې دغه ټولې الوتکې له افغانستان څخه ايستل شوي او اوس برتانويان په دې هيواد کې هيڅ زميني يا هوايي جنګي ځواک نلري.

بايد وويل شي چې همدا اوس له امريکايانو پرته نورو زياتره هيوادونو خپل ټول عسکر له افغانستانه ايستلي دي، دجهادي عملياتو په نتيجه کې له مزارشريف پرته ټول شمالي ولاياتونه او له ننګرهار پرته ټول ختيځ او شمال ختيځ ولايات د يرغلګرو له بدمرغه شتون څخه پاک شوي دي ، يرغلګر اوس يوازې د پلازمينې په شمول لږو سيمو کې کم حضور لري، چې هغه هم دتيښتې په حال کې دي.

د يرغلګرو هغه پخې قرارګاوې چې چا يې د تښتيدلو او تخريب تصور نه کاوو او دوی خپلې تلپاتې اډې بللې ، په دې وروستيو کې داسې انځورونه خپاره شول چې يرغلګر يې په خپلو لاسونو تخريبوي او له منځه وړي، دا جريان د کفري يرغلګرو پروني غرور ته په پام سره يو له عبرته ډکه واقعه ده چې د الله تعالی هغه وعده يو ځل بيا رښتيا کوي، چې د مدينې منورو د يهودو په اړه يې ويلې وو.

هُوَ الَّذِي أَخْرَجَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِن دِيَارِهِمْ لِأَوَّلِ الْحَشْرِ مَا ظَنَنتُمْ أَن يَخْرُجُوا وَظَنُّوا أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمْ حُصُونُهُم مِّنَ اللَّهِ فَأَتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِي الْمُؤْمِنِينَ فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ

الله تعالی هغه ذات دی چې داهل کتابو له ډلې هغه چې کافران شوي وو ، دلومړني تبعيد په وخت يې له خپلو کورونو وايستل ، تاسو ګمان نه کاوو چې دوی به ووزي ، او دوی (يهودو) هم يقين درلود ، چې کلاګانې يې دالله تعالی د عذاب دفعه کوونکې دي ، الله تعالی دوی ته په داسې توګه ورسيد چې دوی يې ګمان نه کاوو ، ددوی په زړونو کې يې دار واچاوو ، دوی خپل کورونه په خپلو لاسونو ورانول . او همدارنګه دمسلمانانو په لاسونو ، نو (له دې څخه) عبرت واخلئ اې دسترګو خاوندانو. سوره الحشر ۲ آيت

بې له شکه په افغانستان کې د څو تنو مؤمنو مجاهدينو په لاس د غربي کفري ايتلاف ماتې او بيا د يرغلګرو لخوا په خپلو لاسونو ددوی د قرارګاوو ورانول او وارخطاء تښتيدلی يو له تصور څخه لرې حقيقت او دالهي نصرت څرګنده مصداق و.

همدا اوس که له یوې خوا د کفري یرغلگرو عبرتناکه تیښته جریان لري له بلې خوا ددوی دداخلي گوډاگیانو تغر هم په تولیدو دی، مجاهدین هره شیبه تري سیمې نیسي، ددوی مراکز له منځه وړي او دمحاصرې کړۍ وربان دي تنگوي، داچې دیرغلگرو دداخلي پاتي شونو په خلاف جهادي عملیات څنگه روان دي، راځئ دلته د سږکال د خیبر عملیاتو په اوږدو کې یوازې دهلمند په شمالي سیمو کې د مجاهدینو دفتوحاتو جاج واخلو چې په تیرو څو میاشتو کې بې صورت موندلی.

د هلمند ولایت مرستیال والي ملا محمد داود مزمل الاماره ویب پاڼې ته په خپله مرکه کې ویلي: د تیرو څو میاشتو په عملیاتو کې د سنگین ولسوالۍ د خاروان کلا سیمه چې د سنگین له دریو دوه برخې تشکیلوي، مجادینو مکمله فتحه کړه په دې سربیره مجاهدینو په موسی کلا ولسوالۍ کې هم لوی فتوحات درلودل، ددې ولسوالۍ شیخ علي، ده غوچک او د اسمانیانو پراخې علاقې فتحه او د دشمن له شتون څخه پاکې شوې په موسی کلا کې هم دښمن یوازې په مرکز کې محصور پاته دی، په نوزاد ولسوالۍ کې دباغو سیمه چې دنوزاد اصلي او مهمه علاقه ده، سږ کال مجاهدینو فتحه کړه، په دې سیمه کې ددښمن ۹ غتې پوستې او قرارگاوې له منځه یوړل شوې او مجاهدینو په سیمه کنترول ترلاسه کړ، د گرشک په ولسوالۍ کې هم سږ کال دښمن سخت وتکول شو، ددې ولسوالۍ په کومو سیمو کې چې دښمن پاته و، لمن یې ورټوله شوه او د مرکز په خوا مجاهدینو پرمختگ وکړ، د گرشک په نهرسراج کې ۱۵، په حیدراباد کې ۱۳ او په ده ادم خان کې ۱۰ پوستې مجاهدینو فتحه کړې، د اولس میشته سیمو له جملې دگرشک لسمه برخه سیمه چې دمرکز شاوخوا سیمې دی ددشمن ترولکه لاندې پاته ده نورې سیمې ازادې شوې دي. له دې علاوه د هلمند په نورو سیمو کې هم سخت مجاهدینو د پام ورلاسته راوړنې درلودې، په مارجه کې د تریخ ناور، سیستاني او ځینې نورې سیمې چې امریکایانو د مارجې دلویو عملیاتو په لړ کې اشغال کړې وې بیرته مجاهدینو ونیولې.

په هلمند او نورو سیمو کې دمجاهدینو دفتحو لړۍ په داسې حال کې په مخ روانه ده، چې بهرني یرغلگر له هیواده په تیښته دي، هره ورځ د یوې نوې قرارگاه د پرېښودلو او د یوه بل بیرغ د راکوزولو خبرونه خپریږي، دا په داسې حال کې چې پوره دیارلس کاله وړاندې په همدې شپو ورځو کې یرغلگر په خورا مستۍ کې وو، په ډیر غرور یې څرگندونې کولې او د افغانستان د دایمي اشغال لاپې یې وهلې.

خو د الله تعالی د لارې سپیڅلي مجاهدین چې په الهي نصرت یې باور درلود په خپلو ناپایه قربانیو وتوانیدل چې د نړیوال جنگي ایتلاف مغرورانه دریځ په شرمینده تیښته بدل کړي، او سرټیټي شاګرځ ته یې مجبور کړي

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

د اسلام جنګي قانون:

م. رفیع الدین حنیف قاسمي

اسلام خپل جنګي قانون. په "جهاد فی سبیل الله" نومولی، څه زمونږ د خپلو کمزوریو، بدو کړنو، بې ځایه خوځښتونو او له حده ډېر جذباتیت شودو او بل د اسلام دښمنو سازشونو، افواهاتو، غلط پروپاګند، او دهغوئ د غلطو تعبیراتو او ناسمو تشریحاتو د جهاد حقیقي مفهوم مخدوش کړی، دټولنې په اصلاح، دعامه امنیت په پلې کولو، دظلم، فساد او انارشیزم په مخنیوي کې دجهاد په بامعنی کردار یې پرده غوړولې.

د میډیا اورسنیو د پروپاګند په دې وخت کې، هر مسلمان مسؤلیت لري، چې هغه د تشهیر دبېلا بېلو زریعو د لارې داسلامي حکمونو روښان او ځلاند اړخونه بیرون ته ښکاره او منعکس کړي، څو دزماني واټن غځیدا او دمسلمانانو دغفلت

، لاپرواهی اوناپوهی په نتیجه کې په اسلامي لارښوونو پریوتي ګردونه او دوړې لیرې او داسلامي لارښوونو حقیقي روښانه او ځلاند څېره دخلکو په وړاندې وځلېږي.

ددې خدمت، یوه نغده ګټه داده، چې داغیارو اوپردیو ټول ناسم نظریات اوتشریحات به ځواب اوبې معنی پاتې شي، بل به هغوئ ته په اسلام د پوهیدو لپاره لارې بیرته شي، دالیکنه په همدې لړلید لیکل کېږي، څو داسلامي جنګ بېلا بېل محاسن را ښکاره، اوداغیارو باطل نظریات اومفروضات ردشي، داسمه ده چې داسلام مبارک دین یومخ ټول د خیر او رحمت دین دی، خو ځینو دهوس مینانو، دخیټوغلامانو، دعدل او انصاف قاتلانو تل کوښښ کړی، چې دتغیر او تحریف له لارې دیو عبادت حقیقي مفهوم دخلکو له نظره پټ کړي او له خپله ځانه دهغه لپاره یوه معنی او مطلوب وتراشي! چې په دې کار کې هغوئ خورا زیات مهارت هم لري!

داچې نن سبا، داسلام جنګي نظریه، دکفري ملیتونو په ستر ګو کې ازغی ده، هغوئ پخپلو ستر ګو دتعصب او عقدې جشمې کړې، قصدُ داسلام جنګي نظریاتو ته دبدل رنګ خیژولو کوښښونه کوي، ولې هغوئ دا ښه درک کړي، که داسلام اصلي او روښانه څېره دنړۍ خلکو ولیده، بیا ددوئ باداري له ګواښ سره مخ کېږي، دیته په پام هغوئ لګیا دي په مختلفو عنوانونو اوپلمو داسلام روښانه، ځلیدونکي اولوړ لمر ته دلاړو ور تف کولو حماقت کوي!!

دجهاد حقیقي مفهوم

ددې بحث نه به تېر شو، چې علی الا طلاق جنګ ممنوع ندی، داسلام نه مخکنیو امتونو اوپیغمبرانو ته، هم دکفارو سره دقتال او جهاد احکام ورکړل شوي وو، مطلب داچې قتال اوجهاد کوم نوی حکم ندی، رازو داسلام په مبارک دین کې دجهاد د حقیقي مفهوم موضوع ته، دجهاد په اړه یوه تیروتنه داده، چې دجنګ په معنی اخستل کېږي، عربي کې د"حرب"لفظ یې مرادف بلل کیږي، چې دتباهۍ او بربادۍ په معنی دی، المعجم الوسیط: ۱۴۲)

خو عظیم الشان قرآن داسلام جنګي نظریې لپاره "حرب"لفظ ندی کارولی، دپام وړ خبره داده چې دکوم ملت او دین په نامه کې دامن او سلامتیا مفهوم ځای لري، ایا هغه دبې ځایه، وینو تویولو او د فساد خورولو ته دعوت ورکولی شي؟ بلکې داسلام مبارک دین نړۍ ته ددې لپاره راغلی چې دظلم اوفساد

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

جګړې پای ته ورسوي، په ځای يې نړيوالو ته په امن،عدل اومساوات بناء جنګي نظريه په مخکي کيږدي، چې دجنګ په تودو شيبو کې هم دهيڅ انسان حق تلف نشي! پرې ظلم ونشي، ځکه په ياد لغت کې دجهاد دلفظ تشريح داسې شوې: قتال من ليس لهم ذمة من الکفار... يعنى له غير ذميانو سره قتال. (المعجم الوسيط)

داسلامي جنګ هدف: دفتنې اوفساد دربيښو ربيل:

په اسلام کې جنګ يو ښه مبارک عمل دی، له دې وجې مونږ ته يې په اړه د معذرت روېې غوره کولو اړتيا نشته، ددېنه وروسته په دې پوهيدل پکار دي چې اسلام افاقي اونړيوال دين دی، لارښوونې يې دنورو اديانو پشان يواځې دځو رسمونواو عقايدو پورې تړلې ندي، اونه دانسانانو په لاس ليکلی قانون او دستوردی ،بلکې دکايناتو دخالق لخوا دژوندانه لپاره راليږل شوی نظام دی،چې دژوند دهرې برخې په اړه يې بشريت ته روښانه اصول تاکلي،هم دا وجه ده، چې هر شخص لپاره اسانه ده، چې هغه په اسلامي لارښوونو عمل وکړي،هر کس کولی شي د اسلامي اصولو پخپلولو داسلام دامن، رحمت اوعافيت لمن کې ځان ځای کړي . داسلام دجنګي (جهاد) نظام موخه همداده چې اسلامي لارښوونې په هر لور خورې شي،دزمکې له مخ نه د ظلم،نا انصافى ،بي امنى،جبر او فساد تغرتول شي. څو هر شخص په ازاده توګه دخدايي نظام دسيوري لاندې په امن اوډاډ سره ژوند وکړي،داسلام دپراخيتيا غرض داندی، چې اسلام ته په نتوتو به خلک مجبوره ولي شي،دالله (ﷻ) ارشاد دی: لا اکراه فى الدين... په دين کې زرور او جبر نشته... که څوک دجزيه ورکولو په مشروعيت غور وکړي، دا حقيقت به ورته روښانه شي. چې داسلامي جنګ هدف داسلام غلبه ده، که هغه ديومخالف انسان په اسلام قبلولو سره راځي،اوکه ديوچا په رعيت جوړيدو ؛ چون جزيه ورکول ،داسلامي سلطنت دننه د ژوندانه اسلامي اصولو منلو ته غاړه ايښودل په حقيقت کې داسلام برتري منل دي،هر کله چې اسلام ته غلبه په برخه شي،فتنه او فساد به ورک شي. جنګ به موقوف شي ،او همدې "ذمي "ته به په اسلامي سلطنت کې هغه ټول حقوق په برخه وي، کوم چې يو مسلمان ته په برخه وي،په قرآن پاک کې الله (ﷻ) فرمايلي «او هغوئ سره ترهغه وجنګيږئ !چې فسا دپاتې نشي، او دين (غلبه) دالله شي اوکه هغه خلک (دفسادنه) راوګرځيدل نو سختي به له هيچا سره نه کيږي،پرته دبې انصافي کوونکو سره »البقره: ۱۹۳ايت) پ دې ايت کې دجنګ بندی انتهاء ،د فتنې اوفسادپای ته رسيدل په ګوته شوي.

درسول الله (ﷺ) په وخت کې غزوات او سرايا ټول ۸۲دي، که دغه جنګونه اقدامي اومنل شي، بياهم دمقتولينو جمله شمېر۱۰۱۸ يوزر اتلس دی، چې بيا دا په ۸۲ وويشل شي، يوجنګ کې ۱۲.۱۴۱۴ (دولس اعشاريه څلورسوه څوارلس) اوسط راوځي ،درسول الله (ﷺ) په وخت کې د ټولو بنديانو شمېر ۶۵۲۴(شپږزره پنځه سوه څلورشپيته) دی، چې دجزيره ډول عربي سيمې پراخيتيا ته په نسبت هيڅ دی ،بيا په دې کې لوی شمېر دحنين د ۶۰۰۰ (شپږزره) بنديانو دی، کوم چې ټول ازاد شول، له دې وجې په پاتې نورو جنګونو کې دبنديانو اوسط اووه راوزي،ددې په مقابل کې دتيري زمانې ددوه لويو نړيوالو جنګونو دبربادۍ اومرګونو پرتلنه اومقايسه که وکړو، کوم چې دځو کوچنيو هېوادونو دازادولو لپاره شوي، او پکې دوژلوشويو او ټپي شويو انسانانو شمېر له اوبا لکه نه اوړي،نوره نړۍ شاته کړه د "مقدسين" جنګ راواخله د "مهابهارت " دوژل شويو شمېر له لس مليونه څخه کم ندی، اروپا کې دمقدسو جنګونو په نوم چې څومره خلک وژل شوي دهغوئ شمېر له لکونو څخه اوړي (ددې لپاره وګورئ :رحمةللعالمين ۲ټوک ۴۲۴مخ)

جزيه ورکول ،په اصل کې داسلامي لارښوونو دبرترۍ او دزمکې په مخ دفتنې اوفساد په مخنيوي اعتراف دی ،ديته هم دجنګ بندی انتهاء ويل شوي، دالله (ﷻ) ارشا ددی اهل کتاب هغه چې نه په خدای (پوره) ايمان لري ،اونه دقيامت په ورځ اونه هغه څېزونه حرام بولي کوم چې خدای (ﷻ) او دهغه رسول حرام کړي ،او نه رښتينی دين (اسلام) قبلوي ،دهغوئ سره ترهغه وجنګيږئ ،چې هغوئ ځملي او جزيه اومني. (التوبه ۲۹)

جزيه هغه مال ته ويل کيږي،چې داسلامي سلطنت لاندې کوم کافران اوسي ،دهغوئ دځان، مال او ابرو ساتنې په غرض د هغوئ نه اخستل کيږي ،دا معمولي مال وي،جزيه ورکونکو ته ذميان ويل کيږي،داسلامي سلطنت درعاياوو په حيث دهغوئ دځان ، مال او ابرو ساتنه داسلامي سلطنت دنده اومسوليت دی ،دهغوئ په ديني امورو کې لاسوهنه اسلام منع کړي ،د هغوئ له ماشومانو، بوډاګانو ميرمنو، اومعلولينونه جزيه نه اخستل کيږي، په همدې توګه په "مکاتب، مدبر ،ام الولد" هم جزيه نشته ،مذهبي پيشوايان چې ګوشه نشين وي، په هغوئ هم جزيه ورکول نشته (اصح السير ۴۷۴مخ)

په غير جنګيانو د تعرض ممانعت:

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

داسلام د جنګي قانون، ښکلی او رانښکونکی اړخ دا دی، چې دجنګ دوران کې دبې قصوره، بې وسلې، او کمزوروخلکو له وژلو په کلکه منع کوي، کوم خلک چې عملاً په جنګ کې ګډون لري، یا کوم چې دمشورو او خدمتونو له لارې کومکونه کوي. هغوئ دوژلومستحق بولي، په پاتې نورو لکه ماشومانو، میرمنو، سپین ګیرو اوخلوت کې ناستو عابدانواوزاهدانو سروکار نلري. دجنګ په دوران کې دبې قصوره خلکو وژل، خو لیرې خبره ده، اسلام دشنو ونو، فصلونو، میوه لرونکوبڼو اوباغونو تـه دزیان رسولو نـه پـه کلکه منع کړي، پـه یـو روایت کې دي، چې رسول الله (ﷺ) وفرمایل: کمزوري سپین ږیري، کوچني ماشومان، اومیرمنې دي و نه وژل شي (ابوداودباب دعوة المشركين الى الاسلام، حدیث: ۸۴۹)

په بل روایت کې راځي، حضرت ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) شام ته یولښکر واستاو، هغوئ ته یې دالارښوونې وکړې: ماشومان و نه وژنئ، په هیڅ میرمن لاس پورته نکړئ، سپین ږیري قتل نکړئ، میوه لرونکې ونې قطع نکړئ، باغونو ته اور وا نه چوئ (موطاء امام مالک: ۱۶۸مخ)

داخبره دپام وړده، په نبوي دور کې رسول الله (ﷺ) په هره کومه سیمه یا علاقه کلا بند کړه، دهغې دننه ټول میشت قبایلو او خلکو مخامخ په جنګ کې ګډون کاو. البته دصحابه وو په وخت کې عموماً دمسلمانانو مقابله دخلکو سره نه، بلکې دحکومتونو اومنظمو پوځونو سره وه، په دې وجه مجاهدینو هیوادو نو ته په فاتحانه ډول ننوتو وروسته، هلته دعاموخلکو په مالونو، ملکیتونو، یا دهغه ځای دخلکو په مال او ځان لاس نه پورته کاوه، تردې پورې دهغو هیوادونو خلکو دمسلمانانو په زیات عدالت او انصاف لیدلو خوځله دهغوسیمو خلکو دخپلو عیسایانو، اوپارسیانو پرضد له مسلمانانو سره کومکونه و کړل، هغوئ ته یې دجاسوسۍ خبرو په رسولو کې مرسته کوله. هم دا وجه وه چې کله دیرموک جنګ پیښ شو اوله امله یې مسلمانان د "حمص" ښارنه وتل، یهودان ورته تورات په لاس راغلل، وې ویل: په دې تورات سوګند، څو چې مونږ ژوندي یو، هیڅکله به رومیان دلته راپرینږدو. مه ځئ! عیسایانو په ډیر زیات حسرت وویل: په خدای سوګند دررومیانو په نسبت له تاسو سره زمونږ محبت څو واره ډیر دی (الفاروق ۲ټوک ۱۲۰مخ)

دغور کولو ځای دی، چې دجنګ نه داسلام غرض بې امنې او انارشیزم له منځه وړل دي، په عدل انصاف د برابر حکومت جوړول دي، که دا نه وای، نو دهغه ځای خلکو به دخپل دین او مذهب خلکو پرضد له مسلمانانو سره ملګرتیا نه کوله؟ یا ولې به یې د دومره مینې او جذبو نه دډک محبت اظهار کاوه؟

دوعدو! پوره کولو تاکید:

اسلام په جنګ کې دکومو څیزونو په اړه کلک تاکید کوي، له هغو نه یو دوعدو پوره کول دي، بلکې په عامو حالاتو کې هم دوعدو سرته رسول د مسلمان دایمان لازمي جزء او نښه ده، وعده خلافي یا عهد ماتول دمنافق خاصه ده (ریاض الصالحین: ۲۹۳مخ)

دوعدې او عهد لحاظلو او په کلکه توګه پوره کولو په اړه الله (جل جلاله) فرمایي:

وعدې سرته رسوئ، ولې په اړه یې پوښتنه کیږي!

چې په عامو حالاتو کې اسلام دوعدې پوره کولو په اړه دومره کلکه غوښتنه اوحکم کوي، نودجنګ حالت کې یې اهمیت دوه واره زیات دی، له دې وجې په خاصه توګه دجنګ په دوران کې اسلام تاکید کوي، چې که دښمن دوعدې نه سرغړونه وکړه او که نه، دمسلمان لپاره روانده چې هغه دخبر ور کولونه مخکې، ددښمن په لور پرمختګ پیل کړي، یا دوعدې او عهد ماتولو داطلاع ور کولو نه وړاندې پرهغه برید وکړي، بلکې ددښمن له لوري دوعدې ماتولو سربیره هم دمسلمانانو لپاره ضروري ده، چې اول په صفا او ښکاره الفاظو کې دوعدې دپای ته رسولو اعلان وکړي، بیا دهغه وروسته د جنګ اجازه لري!!

الله (جل جلاله) فرمایي: او که ویریږې (اې محمده) له کوم قوم (چې وعده یې کړیده له تاسره) دخیانت نو وغورځوه دوئ ته (دغه عهد) په (داسې ډول اوطریقه) چې شئ تاسې او هغوئ برابر؛ بیشکه الله نه خوښوي خیانت کوونکي (الانفال: ۵۸)

په دې ایت کې دقانون یوه اهمه ماده راوړل شوې، په کومه کې چې دعهد او وعدې خاص اهمیت ښودلو ترڅنګ دا ښوونه هم شوې، چې که کوم وخت دمعاهدې په وخت کې بل فریق له اړخه دخیانت اندیښنه وه، بیا ضروري نده چې مونږ به په هغه عهد ټینګ ولاړ یو! خو داهم روانده چې په پوره

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

توګه دعهد او لوظنامې دپای ته رسیدو وړاندې مونږ پرهغوئ هجوم وکړو ،بلکې صحیح صورت دادی چې د اطمینان او فرصت په حالت کې هغوئ دې خبر کړای شي ،چې مونږ ستاسو د بدنیت او ارادې څخه خبر لرو! یا داچې ستاسي معاملات مونږ ته مشتبه ښکاري! لـه دې وجې پـه راتلونکي کې مونږ دشوي لوظنامې یا موافقې په لحاظولو مکلف نه یو! او تاسو ته هم هرډول اختیار دی چې زمونږ پرخلاف هر څه کول غواړئ! وې کړئ!

دې لړ کې مفتي محمد شفیع (ﷺ) یوه ښه په زړه پوري واقعه راوړي چې :حضرت معاویه (ﷺ) له یو قوم سره ترېوې مودې دجنګ بندیز موافقه کړې وه، معاویه (ﷺ) اراده وکړه، چې په منځ کې دشته فرصت نه په ګټه خپل لښکر او جنګي توکي، دهغه قوم په لور نیږدې یوسي، څو دټاکلي وخت په پای ته سیدو پردښمن سملاسي حمله وکړي،خو په عین هغه وخت کې چې معاویه (ﷺ) لښکر هغه لور ته روان کړی و، په اس باندې یو سپور سړی له لیرې نه په لوړ غږ دا ناره وهله : الله اکبر الله اکبر وفاءً لاغدراً یعني دتکبیر د ناري ترڅنګ وایي: مونږ باید کړي وعده ماته نکړو،رسول الله (ﷻ) فرمایلي:چې کوم قوم سره دصلحې او جنګ بندیز موافقه یا وعده و شي، دهغه پرخلاف دې نه کومه ګنده خلاصیږي او نه دې تړل کیږي، حضرت معاویه (ﷺ) چې خبر شو او وې لیدل چې وینا کوونکی مشر صحابي حضرت عمروبن عنبسه (ﷺ) دی،ژرېې دلیږل شوي لښکر دبیرته ګرځولو حکم ورکړ! څو دشوې وعدې په موده کې دلښکر لیږل په خیانت کې شمار نشي (معارف القرآن ۴ټوک ۲۷۰مخ)

جنګي بندیانو سره درحم و کرم معامله:

نړۍ کې چې څومره قومونه او سلطنتونه تیر دي، دجنګي بندیانو په اړه ټول دېر وحشیانه او ظالمانه تاریخ لري، نن غربي هېوادونه هم دجنګي قیدیانو سره نهایتي ظالمانه رویه او وحشیانه سلوک کوي، دهغوئ د اوسنو ظلمونو ښکاره مثال ګوانتانامو بې او دابو غریب بدنام زندانونه دي، چې هلته یې په بندیانو دومره وحشیانه ظلمونه کړي، چې په لیدلو یې د هر لیدونکي لـه زړه وینې څاڅي، خو ددې ترڅنګ راځئ دجنګي بندیانو سره داسلام عادلانه سلوک ،لږ پرتله کړو:

په بدر جنګ کې ۷۲ بندیان، رسول الله (ﷺ) ته په لاس ورغلل، چې د۷۰ بندیانو دپریښودو بدل کې رسول الله (ﷺ) فدیه قبوله کړه او ازاد یې کړل، هغوئ سره دبند په موده کې دمیلمنو پشان رویه کېده، دمدینې خلکو دهغوئ ښه میلمه پالنه وکړه ، دخپلو ماشومانو یې هم زیات دهغوئ مدارات وکړ ،یوځل رسول الله (ﷺ) دبدر بندیانو څخه دکوم یو دتکلیف نه ډک غږ ترغوږ شو،له امله یې ټوله شپه خوب ورنغلو، کله چې درسول الله په حکم ټول بندیان ازادشول، هیله په راحت شو،دبدر له نورو ټولو بندیانو فدیه اومنل شوه،یواځې دوه تنه (عقبه بن معیط اونضربن حارث دخپلو نه بښونکو جرمونو په وجه ووژل شول) دبدر وروسته "بني مصطلق" غزوه کې له سلو زیات نارینه اوښځینه بندیان راغلل،رسول الله هغوئ پرته له کوم شرط اوجرماني ازاد کړل،په حنین جنګ کې شپږزره نارینه او ښځینه بندیان شول، ټول یې پرتـه د کوم شرط اوعوض نه ازاد کړل، تردې چې دځینو بندیانو په بدل کې خپله رسول الله (ﷺ) دبندیانو نیوونکو ته فدیه ورکړه،آن تردې چې ځینو بندیانوته یې تحفې او انعامونه ورکړل، ، پر مسلمانانو یرغل کوونکي دښمنان پخپل ټول تاریخ کې دبندیانو سره دداسې سلوک ،رحم او عاطفې مثالونه نشي وړاندې کولی ، درسول الله دهمداسې سپېڅلو لارښوونو تنیجه وه چې دراشدینو خلفاوو دوره کې چې کله عراق، مصر ، شام، ایران اوخراسان (افغانستان) پشان لوی اومتمدن هېوادنه فتحه شول، په هیڅ یو ښار دکوم جنګیالي له لوري دیو چا غلامولو یا وینزه ګرځولو ذکرندی راغلی، بلکې مغلوب دښمن څخه دجنګ دتاوان په نوم هم دڅه اخستلو ذکر نشته (رحمة للعالمین ۱ټوک ۲۱۲مخ)

دیورته لیکنې ددلایلو په رڼا کې داخبره روښانه شوه، چې داسلام جنګي قانون دربشتیني امنیت او سولې ضامن دی، دردیدلي اوزوریدلي بشر لپاره که په نړۍ کې کوم ځای دپناه نیولو اونجات دی، هغه داسلامي لارښوونو لاندې ژوند تیرول دي، کنه داټولې رواني ناخوالې او بدمرغی به هم داسي دهر چا ترشا رواني وي او په نړۍ به دجنګونو، فتنو اوفسادونو راج خور وي!

(ددارلعلوم دیوبند دمیاشتنۍ مجلې نه په منته)

د فارياب جهادي مسؤل قاري صلاح الدين :

د شرعي قانون د تطبيق، تعليم او تربيې او نورو خدمتونو لپاره ځانګړي اداري لرو

درنو لوستونکو !

فارياب دافغانستان په شمال کې موقعيت لري چې له جوزجان سرپل غوراوبادغيس ولايتونو سره ګډه پوله لري دفارياب شمالي سيمي دمنځنۍ اسياله ترکمنستان جمهوريت سره نښتې دی دفارياب ولايت مرکز دميمني ښار دی اونوري ولسوالۍ په لاندي ډول دي .پښتون کوټ ،خواجه سبزپوش (جمعه بازار)شرين تګاب ،دولت اباد،اندخوی،شاخ ،قرم قل ،خان چارباغ ،المار ،قيصار ، قرغان ، بندر،ګورزوان ،بلچراغ ،خواجه موسی ،لولاش .

سږ کال د خيبر عملياتو په لړ کې مجاهدينو دفارياب په ولايت کې هم د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې ، په دې ولايت کې ګڼ شمير سيمي ددښمن له شتون څخه پاکې شوي دي او داسلامي امارت تر تسلط لاندې راغلي دي .

قاري صلاح الدين چې دفارياب ولايت د المار ولسوالۍ اوسيدونکی دی او له څو کلونو راپديخوا د فارياب ولايت مسؤليت په غاړه لري په دې ولايت کې د سږنيو پرمختګونو په اړه مو ورسره مرکه کړې چې ستاسو توجه ورته راګرځوو.

پوښتنه

محترم قاري صاحب ! هر کلی درته وايو ، که لومړی د خيبر د سږنيو عملياتو په لړ کې په فارياب کې دترلاسه شويو فتوحاتو او بريااوو په اړه معلومات راکړئ ؟

ځواب

الحمد لله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذين اصطفی امابعد ، تاسو او ټولو لوستونکو ته سلام او نيکې هيلې وړاندې کوم، بايد ووايم چې د پخوا غوندې سږ کال هم په فارياب کې د جهادي عملياتو نتائج خورا په زړه پورې و، په نظامي برخه کې که د ټولو لاسته راوړنو په اړه خبرې کوو، شايد دا مرکه يې حوصله ونلري، خو په لنډو به د ورو ستيو لاسته راوړنو يادونه داسې وکړم .

د شاخ په ولسوالۍ کې مجاهدينو سږ کال څو د پام وړ عمليات ترسره کړل، د تهاجمي عملياتو په لړ کې ددې ولسوالۍ دوه مهم بازارونه چې پخوا ددښمن په سلطه کې وه د مجاهدينو تر واک لاندې راغلل، دښمن ددې ولسوالۍ د بيا نيولو لپاره بيا بيا کوښښ وکړ چې هر ځل يې عمليات له ناکامي سره مخامخ شول، په دې ولسوالۍ کې اوس مجاهدين قوي حضور لري،او حتی نورو سيمو ته ترې عمليات رهبري کوي .

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

د بندر په ولسوالۍ کې مجاهدینو د اربکیانو او محلي ملیشې د شړلو لپاره ستر عملیات وکړل، په دې عملیاتو کې شپږ سوه مجاهدینو برخه درلوده چې په نتیجه کې یې ددې ولسوالۍ پنځه نوي فیصده سیمه ددښمن له شتون څخه پاکه شوه، ددې ولسوالۍ څخه داربکیانو تیغر مکمل ټول شو، او ټولې اطرافي سیمو د مجاهدینو تر تسلط لاندې راغلې چې اوس لله الحمد له ښه امنیت څخه برخمني دي .

د کوهستاناتو د سیمې مربوط په المار ، قیصار او پشتون کوټ ولسوالیو کې هم ستر عملیات وشول، باید ووایم چې ددې سیمو هم ۹۵ فیصده سیمې دمجاهدینو تر تسلط لاندې راغلې دي، او ددښمن ګڼ شمیر پوستې فتحه شوي دي.

دغه راز په ګورزیوان ، خواجه موسی او چهلګزي ولسوالیو کې هم مجاهدینو د پام وړ عملیات ترسره کړي دي، ددې عملیاتو هم ډیری سیمې له محلي ملیشو او اربکیانو څخه تصفیه شوي دي ، په دې ټولو عملیاتو کې لله الحمد زموږ تلفات خورا کم و، سره له دې چې دښمن د خپل شکست د پټولو لپاره همیشه د ډیرو تلفاتو آوازې خپروله و خو واقعیت هغسې نه و چې دښمن یې په میډیا کې په اړه ویل ، مثلا د چهلګزي په ولسوالۍ کې په یوه اوږده جنګ کې چې دښمن ته ډیر تلفات ورسیدل زموږ یوازې یو تن شهید او څلور تنه نور زخمیان وو خو دښمن په راډیو ګانو کې د ۱۴۰ تنو مجاهدینو د له منځه وړلو تبلیغات خپرول .

پوښتنه

په فاریاب ولایت کې له مجاهدینو سره د ولسي خلکو خواخوږي او ملاتړ څرنګه دی که په دې اړه معلومات راکړئ ؟

ځواب

د نور افغانستان غوندې په فاریاب ولایت کې هم ولس د مجاهدینو تر څنګ ولاړ دی، په لومړنیو کلونو کې ځینې خلک ددښمن دتبلیغاتو تر اثر لاندې راغلي وو اما اوس ټول اولس په ډیر اخلاص د مجاهدینو ملګری دی، سږ کال چې موږ کوم ستر فتوحات درلودل ، ټول داولس د همکارۍ نغد ثبوت دی.

په دې سربیره چې په ولسوالیو کې خلک د مجاهدینو ملګري دي حتی په مرکز میمنه ښار او نور مرکزي سیمو کې ۹۰ فیصده خلک دمجاهدینو خواته میلان لري، دښارونو خلک دحکومت له ظالمانه کړنو، بې انصافي، اداري فساد غصب او نورو بدو کړنو څخه تر پوزې رسیدلي دي، بیا بیا یې دحکومت په ضد مظاهرې کړې دي، خلک د حکومت له کړنو په تنګ شوي دي او دمجاهدینو او شرعي نظام په اړه ډیر خوشبینه دي .

پوښتنه

له نظامي عملیاتو پرته که په فاریاب ولایت کې داسلامي امارت د مجاهدینو د نورو فعالیتونو په اړه معلومات راکړئ چې آیا نور فعالیتونه شتون لري ؟

ځواب

بلې لکه څنګه چې خبریاست اسلامي امارت په ټولو هغو سیمو کې چې تر تسلط لاندې یې لري، د شرعي قانون دتطبیق ،تعلیم او تربیې او نورو خدمتونو لپاره ځانګړې ادارې لري، په فاریاب ولایت کې هم په ټولو مفتوحه سیمو کې د همدې اداراتو فعالیتونه جریان لري، مثلا د محاکمو، جلب و جذب ،تعلیم و تربیې او نورو ټولو برخو اړوند فعالیتونه جریان لري.

د معارف په برخه کې په فاریاب کې په ټولو سیمو کې مدارس، مکاتب ، دارالحفاظونه او نور تعلیمي مراکز فعال دي، اسلامي امارت د دې مراکزو اصلاح ته زیاته توجه کوي ترڅو مو نوی نسل په دیني فکر وروزل شي ،د دعوت او ارشاد په برخه کې خلکو ته په رهنمایي سربیره ددښمن په صف کې ولاړو کسانو ته هم دعوت جریان لري په تیرو څو میاشتو کې په فاریاب کې ترسلو زیات اربکیان او نور ټوپکوال چې مخکې ددښمن سره په صف کې ولاړ و د مجاهدینو خواته راغلي او له مخالفت څخه یې لاس اخیستی دی .

دغه راز د اطلاعاتو او خبررسانۍ په برخه کې زموږ فرهنګي ملګري په ډیر دقت سره د جهادي جبهاتو خبرونه راټولوي او بیا یې د نشر لپاره داسلامي امارت خبري مراجعو ته استوي ،د بندیانو دچارو په برخه کې دپام وړ نظم او ترتیب رامنځته شوی دی، د مجاهدینو لخوا چې ددښمن

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

کوم بندیان نیول کیږي دهغو لپاره ځانګړي محبسونه جوړ شوي دي، پرته له سختئ او ظلم له هغوی سره شرعي چلند کیږي، قضایا یې شرعي محکمې ته راجع کیږي او دشریعت په رڼا کې ورسره تعامل ترسره کیږي .

تراوسه پورې چې داسلامي امارت د مشرتابه لخوا کوم هیئتونه فاریاب ولایت ته راغلي دي او د مجاهدینو بیلابیل فعالیتونه یې لیدلي دي، هغه یې بریالي بللي او د خوشالئ اظهار یې کړی دی، چې له همدې ځایه موږ په فاریاب کې دمجاهدینو فعالیتونه مثبت او بریالي بللی شو.

پوښتنه

په فاریاب کې له څو کلونو راهیسې ددښمن ملیشې یا اربکیان فعال وو دغه راز دښمن په اطرافي سیمو کې ځیني عملیات هم ترسره کړل، داسې ویل کیدل چې دښمن په دې عملیاتو کې ولسي خلکو ته سخت زیانونه اړولي دي که ددښمن ددې مظالمو او وحشیانه چلند په اړه معلومات راکړئ ؟

ځواب

لکه تاسو چې یادونه وکړه ، په فاریاب ولایت کې رښتیا هم په تیرو څو کلونو کې دښمن د مؤمن مظلوم اولس پـه وړاندې سخت مظالم سرته رسولي دی، خو په لومړیو کې یوازې خودسره ملیشو، بهرنیو عسکرو او داخلي پولیسو خلک ځورول ، کورونه یې تلاشي کول او خلک یې وژل ، پـه وروستیو څو کلونو کې د اربکیانو د فتنې په راپیدا کیدلو سره د خلکو د ځور او اذیت لړۍ ډیره چټکه شوه، اربکیانو داسې ظلمونه سرته ورسول چې له خلکو یې دپخوانیو ملیشو مظالم هیر کړل، دوی نه یوازې خلک ووژل، لوټ یې کړل بلکې سلامت کلي یې داور په لمبو کې وسوزول .

دبیلګې په توګه دوی د پښتونکوټ په ولسوالۍ کې ګڼ شمیر کورونه وسوزول ، حتی د ښځو او ماشومانو په شمول بې وسلې ولسي خلک یې پـه ډزو ووژل ،د پښتون کوټ ولسوالۍ په قره وایلي، چوبکي او نورو سیمو کې دوی دخلکو شاوخوا ۸۰ کورونه له چورتالان څخه وروسته وسوزول چې ددښمن ددې ظلم ځیني مستند شواهد د الاماره سټوډیو لخوا په نشر شوي ویډیو کاروان خیبر کې چې د فاریاب ولایت په اړه ده راغلي دي .

ددښمن بې جلبه عسکرو او اربکیانو نه یوازې خلکو ته د سر او مال زیانونه رسولي بلکې ډیر ځله خو دې وحشیانو دخلکو پـه عـزت او نـاموس هـم تیری کړی دی، چې ددوی لخوا د جنسي تیریو د شنیعو افعالو خبرونه بیا بیا په رسنیو کې هـم راغلـل، ددښـمن هـمدا وحشـیانه اعمـال ددې سبب شوي چې عام اولس ته ددښمن اصلي ماهیت بربنډ شي او اولس له حکومت څخه متنفر شي .

پوښتنه

لکه تاسو چې خبریاست په افغانستان کې د امریکایانو تر اشغال لاندې نوې حکومت په دنده شروع کړې ده، او په سیاسي ډګر کې لوی تحول راغلی دی غربي مطبوعات ددې نوي تحول لپاره ډیر تبلیغات کوي او مثبت یې ارزوي تاسو دغه نوي تغیر ته په کوم نظر ګورئ ؟

ځواب

په کابل کې چې کوم حکومت راغلی، زما پـه نظـر هسې پـه ظـاهره بـه یې د سر کـوم خلـک تبـدیل شـوي وي خـو پـه حقیقـت کـې دهمـاغـه زاړه حکومت دوام دی، په دې سیاسي تغیر کې د پام وړ نقطه دا وه چې دامریکایي اشغال ماهیت ډیر ښه په کې روښانه شو.

هیوادوالو ولیدل چې له تیر یوه کال راهیسې د انتخاباتو اوازې خپرې وې، په سلګونو ملیونو ډالر مصرف شول، خلکو تـه سخت ډیـر مشـکلات ایجاد شول، دښمن هڅه کوله چې افغانان وغولوي او ظاهرا د یوه قانوني حکومت درامنځتـه کولـو پروسـه تمثیـل کـړي، خـو پـه اخر کې الله تعالی دښمن وشرماوو او ټولو هیوادوالو ولیدل چې حکومت دامریکا دبهرنیو چارو د وزیـر جان کیري لخوا وټاکل شو، دیر غلګرو هغـه ګوډاګیـان چې د خپلواکۍ دعوه یې لرله ، غلام ماهیت او ګوډاګیتوب یې ډیر ښه راښکاره شو، موږ ولیدل چې دوی د ناټو څکو غونډې امریکایانو راوستل او پـه زوریـې په ګډ حکومت کې سره یوځای کړل .

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

له امریکایي انتصاب وروسته ددې نوي ګوډاګي حکومت ترټولو بد اقدامات له امریکا سره د ستراتیژیک تړون لاسلیک او ځینې نور دین دښمنه اقدامات و، دې ته په پام سره باید دافغانستان خلک نوي حکومت ته هم دپخواني رژیم په سترګه وګوري چې یوازې دیرغلګرو د ګټو لپاره انتصاب شوی دی، په نوي حکومت کې جنرال دوستم چې ځان د شمال دخلکو استازی بولي، ددوهم مرستیال په حیث ټاکل شوی دی، دافغانستان خلک باید دنوموړي پخوانیو جنایاتو ته په پام سره دخیر تمه ترې ونکړي، چا چې په ټول ژوند کې له چور چپاول، قتل، ظلم او دکفارو له غلامي پرته بل څه نه وي کړي له هغه به څه دخیر تمه وشي.

دافغانستان خلک باید خپل دین ته په ژمنتیا سره خپل یووالی وساتي، دیرغلګرو په بې بنیاده تبلیغاتو ونه غولیږي، دکفر په وړاندې باید د جهاد ډګر ته راووځي تر څو دالله تعالی دنصرت او خپل منځي یووالي په برکت کفري یرغلګرو ته شکست ورکړي او له افغانستان یې وباسي.

پوښتنه

داسلامي امارت دفرهنګي کمیسیون دچارو او نشراتو په اړه مو نظر دی، که خپل تأثر او مشورې راسره شریکې کړئ؟

ځواب

ډیر د شکر او دویاړ ځای دی چې لله الحمد دافغانستان اسلامي امارت د مبارزې په ټولو برخو کې ښه ځلیدلی دی او ددښمن مقابله یې په احسنه طریقه ترسره کړې ده، په دې لړ کې دفرهنګ او مطبوعاتو په برخه کې کارونه ډیر ښه روان دي، زه خپله داسلامي امارت نشرات لکه الاماره ویب پاڼه چې په ګڼو ژبو نشرات کوي، دغه راز الصمود، څرک، حقیقت، شهامت، شریعت او مورچل مجلات ګورمه چې ډیر ښه مضامین او دجهاد په اړه تازه خبرونه او مطالب په کې نشریږي.

زما ټولو مجاهدینو وروڼو ته داتوصیه ده چې له مطبوعاتو سره علاقه وساتي، مجلات مطالعه کړي، اوله پر محتوا مطالبو یې استفاده وکړي، هغه مجاهدین چې په فرهنګي برخه کې په خدمت بوخت دي او زحمات تیروي له الله تعالی څخه ورته پوره پوره اجرونه غواړم.

پوښتنه

محترم قاري صاحب که په پای کې دفاریاب ولایت داوسیدونکو یا عام مؤمن اولس په نامه څه پیغام لرئ هیله ده راسره شریک یې کړئ.

ځواب

دفاریاب ولایت اوسیدونکو او خپل ټول مؤمن اولس ته مې پیغام دادی چې لله الحمد دالله تعالی د نصرت او مجاهدینو دقربانیو په برکت د جهاد قافله دفتحې منزل ته نږدې شوې ده، له دوی څخه مې غوښتنه ده چې له مجاهدینو سره مرستې او ملاتړ ته ادامه ورکړي او هغه چې په جهاد کې یې شرکت نه دی کړی باید له مجاهدینو سره یوځای شي.

هغه کسان چې ددښمن د زهرجنو تبلیغاتو له امله غولیدلي او ددښمن صف ته ورغلي، دوی باید له وطن فروشي او خیانت نه لاس واخلي، دوی باید مجاهدین وپیژني چې دهمدې مؤمن اولس زامن دي. نوځکه باید کافرو دښمنانو تبلیغات ونه مني، دغه کسان باید په خپل ځان رحم وکړي د خپلې دنیا او عقبی د نجات لپاره باید هڅه وکړي، دکفر له مزدورۍ لاس واخلي، د مجاهدینو غیږه ددوی په مخ خلاصه ده او همیشه ورته هرکلی وایي.

دفاریاب خلک شاهدان دي چې مجاهدینو بیا بیا هغه عسکر چې په جګړه کې نیولي له لازمو هدایاتو وروسته یې بیرته پرې ایښي دي له دې څخه باید دوی وفهموي چې مجاهدین یوازې دخلکو دوژلو لپاره نه دي راپورته شوي، بلکې د خلکو اصلاح غواړي د کفر له صف څخه یې راګرځوي او د خلکو دنیا او اخرت د سعادت لپاره هڅه کوي.

اسلامي هېوادو کې داسلاميت اومغربيت ترمنځ کشمکش

هندوستان کې دمشرقيت اومغربيت...

ليکوال داسلامي نړۍ مفکر عالم مولانا سيد ابوالحسن علی ندوی رح

داسلامي تجربې نوی ځای

ژباړه : ابو ظهير ۱۳برخه

ددیني رهبرۍ نازکه مسوليت!

اوس چې پاکستان د کوم ډول افسوس ناک حالت سره مخ دی، کابو کېدای شو، يالږ ترلږه په اغېز کې يې کمښت راتلی شو،په نوي باسواده نسل او واکمنو کړيو کې داسلامي دعوت اوفکرلپاره لوی شمېر ملاتړ پيدا کول اسان و، هم د پخوانۍ اونوې ډلې ترمنځ کوم واټن يا خليج پيدا شوی هغه ليري کېدای شو، د دواړو ډلو په يو ځای ملتيا سره هغه لويه ازموينه ترسره کېدای شوه! دکومې لپاره چې پاکستان جوړشوی و !! که داسلامي فکر علمبردار انو دخپل هوښيارتوب اوژورې پوهې په جوهر ښودو دهېواد دېيلابېلو قشرونو د باور ترلاسه کولو او دهغه ذهني اوفکري خلاء په ډکولو برياڼي شوي وای،دکومې په وجه چې نوی نسل ورخطاء او انديښمن ښکاري !! دا هغه مهال شوني و، چې داسلامي فکر علمبردارانو او دعيانو په کامل صبر او استقامت خپل شته استعدادونه او صلاحيتونه په شريکه داسلامي ژوند قبلوونکو زړونو او ذهنيتونو روزلو او د ځوان نسل ذهني او روحاني تسکين لپاره وقف کړي وای، له نورو ګردو ميدانو بيرون دخپلو هڅو او کوښښونو لپاره يې فقط همدايو ميدان ټاکلی وای!! واقعاً په دې کار سره پاکستان ته يوه داسې ديني رهبرۍ اوقيادت په نصيب شوی و، چې دهغه په قايدانه شخصيت کې به دزړونو اړونو له ځان سره يوځای کولو هنر سربېره دعلمي تفوق، لوړ ذهني استعداد، زړه سواندحرارت، ژور او اغيزناک روحانيت پشان صفات وای !! چې له هرې شبهې ، شک او د ګردو سياسي اختلافاتو بيري وای، غرض دا که پاکستان ته هغسې رهبر په برخه وای دکوم تعريف چې اقبال پخپل شاعرانه ليد داسې کړی:

نګاه بلند،سخن دلنواز، جان پرسوز   يهی رخت سفر مير کاروان کيلی.

نودشک پرته به دغه اسلامي هېواد دنورې اسلامي نړۍ لپاره يوه غوره نمونه او يومثال و....

څېرنه:

اروانباد ندوي صاحب (ﷺ) پورته مضمون په ۱۹۷۰ز کال کې ليکلی ،هغه مهال د پاکستان واکمن جنرال محمدايوب خان و. دهغه وروسته پکې ځينې مهم بدلونونه راغلل، ايوب خان د واک نه لاس په سر شو، پاکستان په دوه برخو وويشل شو، ختيځ پاکستان دبنګله ديش په نوم خپلواکه ازادۍ اعلان کړه، مجيب الرحمن دهغه ملي مشر غوره شو، د ذولفقار علي بوټو په حکومت کې کورني جنجالونه او اداري فسادونه پراخ شول، پارلماني ټاکنې وشوې، خو په کې دټګيو ،برګيو او جعل کاريو تورونه پوري شول، د مولانا مفتي محمودرح اونور سياستوالو لخوا دقومي اتحاد په نوم تحريک پيل شو، په هغه کې خلکو لوې قرباني ورکړې،بالاخر جنرال ضياء الحق د پوځي کودتا د لارې بوټو حکومت ړنګ کړ، هغه خپله په واک مونګلي ښخې کړې،په دې سره يوه نوی دور

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

پیل شو، ځیني اسلامي قوانین پلی شول، قضائیه خپلواکه شوه، په حکومت اوټولنه کې یوشمیر بدلونو نه رامنځته شول، دهغو له امله دیني ګوندونه هم لږ ډېر تقویه شول.

جماعت اسلامي :

جماعت اسلامي په نوم ګوند پاکستان کې اسلامي قانون او اسلامي نظام پلی کول غواړي، په پیل کې ډېر و تمه درلوده، چې دغه ګوند به داسلامي نظام لپاره دېام وړ خدمتونه وکړي، د ګوند بنسټ ایښودونکی مولانا سید ابو الاعلی مودودي د ځینو صفاتوخاوند و، نوموړي په دي سربیره چې د ځواکمن قلم او قوي اسلوب څښتن و، دلویدیځ د نویو فلسفو اوعلومو نه هم خبرو، هم یې د اسلامي لاربښوونوسره سم په اسلامي ژوندانه عقیده وه، هغه په غربي تهذیب او افکارو د تنقید لړ کې چې کومې نیوکې کړي هغه بامعنی دي، هم یې دلیکلو اسلوب د مدافعانه لهجې اوطرز نه لیري و، کوم چې ددې دور دمسلمانو قلموالو ځانګړ تیا ګرځیدلې ، هغه په ځینو مسایلو او متکلمانه سیاسي مباحثوداسې مضامین ولیکل،چې دهغو په وجه یې د هندوستان په اسلام پالو کړیو کې مقبولیت ترلاسه کړ، او له امله یې ډېر خلک دهغه دشخصیت په لور متوجه کړل، دهمدې تاثر په نتیجه کې دجماعت اسلامي په نوم د ګوند بنسټ کیښودل شو، هغه خلک چې دهغه دقلم نه متاثر وو، ورسره یوځای شول، دپاکستان جوړیدو نه وروسته دجماعت اسلامي ټول قیادت له هند نه پاکستان ته منتقل شو، کوم چې داسلامي فکر لپاره دهند په نسبت موزون ډګر و، خو په ځینو فقهي او کلامي مسایلو کې دهند اوپاکستان دسترې اوموثرې دیني حلقې سره په تحقیق او تعبیر کې دټکرراتلو په وجه او هم دجماعت لخوا عملي سیاست ته د ورانګلو په وجه او څه دهغه پر ضد دهغو عناصرو په یوځای کیدو چاته چې په اسلامي نظام او اسلامي دستور کې دخپلو ګټو او سیاست زیان ښکاریده، بل جماعت اسلامي ډېر ځلي دکورنیو او بهرنیو انتشارونو سره مخ شو، دجماعت دلومړي صف مشرانو ترمنځ دنظرو نو جلا والي او اختلاف په وجه هغه ګڼ شمیرخلک چې دجماعت په معمارانو اوفکري استادانو کې شمار ول ګوښه کېدو ته اړیستل شول ،هم دوختي حکومتونو لخوا د ځنډونوجوړولو جماعت اسلامي دخپل دعوت پراخولو په کار کې ټکنی او د سختو ستونزو سره مخ کړ.

جماعت اسلامي د سیاسي کړنو اوتنظیمي چارو له امله هغه علمي او تحقیقي کارونو ته دوام ورنکړای شو، کوم چې په اصل کې ددې ګوند دشهرت لامل شوی و، په نړۍ کې دځینو فلسفو اونظامونو په اړه دنویو محققانه کتابونو لیکلوته اړتیاوه، کوم ته چې ځوان نسل تږی ناست و، خودپاکستان کورنیو حالاتو او دجماعت سیاسي کړنو مهلت ورنکړ چې دیادو موضوعاتو په برخه کې کوم علمي ګام پورته کړي.

په هر صورت لاملونه چې هرڅه وو، واقعه داده چې ددې ګوند په وړاندې دخالص دیني او داعي کردار اداء کولو په وړاندې ګڼ موانع پیدا شول، اوس هم دبې غرضه دیني دعوت اوخدمت سرته رسولو په وړاندې ستونزې شتون لري، دهغونه دوتلو لپاره دیو دیني داعي او مصلح مشرتابه لپاره قوي عزم، قرباني او انقلابي ګام پورته کولو اړتیاده.ولعل الله یحدث بعد ذلک امرا.

ځېرنه:

دمولانا مودودي او دهغه دګوند په اړه اروانباد مولاناندوي (رحمه الله) پورته لیکلي اندونه د۱۹۷۰کال په پای کې لیکلي، دیادونې وړده پیل کې پخپله ندوي صاحب رح نه یواځې دمولانا مودودي په لور مایل و، بلکې له هغه سره دجماعت اسلامي په مخکښو بنسټ ایښودونکو کې و،خو پېښه داوه چې دواړه دمزاج، ذوق او مسلک له پلوه دیوبل نه په واټن کې ول، څنګه چې دشام اوعربي نړۍ محقق عالم شیخ مصطفی السباعی پر دواړو دتبصرې لړ کې فرمایل: "المودودی رجل عقلي والشیخ الندوی رجل روحانی" په مودودي عقلیت غالب دی اوپه ندوي روحانیت! ددي حساس نزاکت په وجه مولاناندوي خپل مسیر له هغه نه بدل کړ او هم یې د مولانا له هغو ټولوڅېړنو اولیکنو څخه چې داهلسنت والجماعت دجمهورو مسلک سره په ټکر کې راځي، نه یواځې پخپل برأت اعلانولو اکتفاء وکړه، بلکې دمولانا په هغو څېړنو اونظریاتویې ښه جامع ،مدلل ، عالمانه اوفاضلانه نقد ونه هم ولیکل،چې د ذوق خاوندان یې دنوموړي د ستر علمي میراث په کتابتون (کتابونو) کې کتلی شي

نوربیا

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دلوګر اربکیانو، په تابوت، ورستی میخ ټک وهل شو

خسر احمد مجاهد

مهلت او یا استدراج ، هغه الهي سنت دی ، چې دظالمانو اومستکبرینو په زندګي کې مقرر کړل شوی اودهمدغه الهي سنت اوحکمت له مخې، هغوئ تریوې مودې پورې په دې دنیاکې له ښې دبدبې ، وسعت او مالا مالو امکاناتوسره پریښودل کیږي ، ترڅو په کفراوګمراهی کې په تدریج سره ورستی پوړی ته ورسیږي اوبیایې په اخیرکې الله تعالی کلک اوسخت رانیسي او عبرتناکه سزا ورکوي

الله تعالی په عظیم الشان قران کې فرمایي : «ولایحسبن الذین کفروا انما نملی لهم خیر لانفسهم انما نملی لهم لیزدادوا اثما و لهم عذاب مهین؛» (۱۷۸) آل عمران(یعني ـ ګمان دې نکوي ، هغه کسان چې کفرېې کړی په الله تعالی ، چې دوی مونږ پرې ایښي اومهلت مو ورکړی ، ددې لپاره چې داکار ګواکې دهغوی لپاره خیردی ، بلکې مهلت اووخت مو ورکړی ، ددې لپاره چې ددغو کفارو اوظالمانو طغیان اوسرکشي ، ډیره شي اواستدراج ته ورسیږي اودوی لره بیا شته عذاب اوانجام دردناک !

خبره مو ، دلوګر ولایت داربکیانو کوله ! که څه هم دهیواد په یوشمیر نورو سیمو اوولایتونوکې هم دغه ظالمان او دالله ددین دښمنان ،چې عام ولس یې اربکیان بولي ، له څو نیږدې کلونو راهیسي راښکاره شوي ، اوامریکایانو فکر کړی وو چې دخپلې ناولې کمپلې له تولیدو ورسته به له افغاني عفت او حرمت څخه دهمدغو کرغیړنو اولوغړنو په توسط انتقام واخلي ، نوځکه یې په هرولایت کې هغه مختورې اوناترسه خیرې چې ضمیرونه یې له اسلام اوافغاني غرور څخه خالي اومینځل شوي وو اوپه ډول ډول اخلاقي جرمونو ملوث وو ، سره راټول اوداربکیانو ډلې اوباندونه یې ترینه جوړ کړل.

امریکایانو، هغوئ ته ، نوې وسلې ، رنجنر موټر ، لوړ معاشونه اونور استخباراتي تجهیزات په لاس ورکړل ، په هغو برسیره یې دهرراز بې بندوباریو اووحشي کړنو صلاحیت هم ورکړ ، چې ، نه څوک پوښتنه درنه کولای شي او نه موڅوک مخه نیولای شي !

ترکومه ځایه چې امریکایي فکر اوسوچ وو ، چې په اربکیانو به ، لکه دعراقي ملیشو او کردي باندونو، دافغانانو ترمنځ نوی اوربل کړي اومتدین افغانان به پرې وټکوي ، دالله تعالی په خاص نصرت اولورینې ، داربکیزم امریکایي پروژه ، په افغانستان کې له ډیرو سیمو اوولایتونو څخه ډیر ژر ټوله ، ورکه اویاهم ښه وځپل شوه ، لامل یې داوه چې له یوې خوا داربکیانو په لیکو کې ټول هغه کسان اوافراد راټول شوي وو چې هرچا له خپل کور اوچارپیریال څخه دبدو اعمالو اوکثیفو اخلاقو له وجې شړلي او تجرید کړي وو ، له بل لوري داربکیانو ، کردار او چلند ، یو یو ، هیوادوالو دسرپه سترګو ولید ، ماخپله له ډیرو خلکو اوریدلي ، چې له اربکیانو څخه دغه شنه سترګي کفار هم شرف لري !

نوځکه الله تعالی داربکیانو ناولي ټولي هرځای نابود ، دړې وړې او سرکرده مشران یې دمجاهدینو دډول ډول حیرانونکو تکتیکي ګوزارونو او عملیاتو په ترڅ کې ښېنه وګرځېدل ، څوک له منځه ولاړل او څوک په دې دنیاکې له عبرتناکو عذابونو اورنځونو سره لاس او ګریوان شول !؟

په لوګر ولایت کې هم ، داربکیانو یو ډیرپلید او وحشي باند موجود وو ، چې مشري یې څوتنو معلوم الحاله ، مفسدینو ، لکه بابه قو ، سبزعلی ، غفران ، فرهاد اکبری ، غیاث اونورو .....ترسره کوله ، بابه قو دری کاله وړاندې ختم شو ، غفران داځو میاشتې دمخه په یوه تکتیکي عمل کې له منځه ولاړ ، سبزعلی اوقومندان غیاث سره له نورو ملګروړمه ورځ دلوګر ولایت په امنیه قومندانی دترسره شوي فدایي برید په نتیجه کې ووژل شول.

دوی هریو دخپلو ګمراهیو اوله اسلام او مسلمانو سره ددښمنی ، ځانګړي یادونه او نوموونه لري ، په خاص ډول (سبزعلي او قومندان غیاث)

سبزعلي ، چې دلوګر په سطحه داربکیانو قومندان وو ، په هغه باندې ، څو ځله مجاهدینو کارنده بریدونه اوعملیات ترسره کړل ، خو یابه بچ اویابه یې کلک ټپونه واخیستل . الله تعالی هغه په خپل ظلم او کفرکې اخیري استدارج ته ورساوه . اوبیایې په خپل ګرفت سره داسې نیست اونابود کړ ، چې قبربه یې هم څوک ونه بینې.

سبزعلي په دې سربېره چې دلویو لارو غل او شوکمار وو ، دلوګر دمرکز اړوند په ګڼو سیمو اوکلیو کې ، لکه کمال خیل ، ناصر ، کجی ، علی خان کلا ، پورک اوله کونجک تنګی نیولی ، ترکلنګار ه پورې لوی غزیدلی سرک ،دخپل وحشت په زور ، سره تبی ګرځولی اوراج یې پرې چلاوه ، له خلکو به یې په زوره ، پیسې ، میلمستیاوي غوښتلې ، خلکو ته به یې سختې سزا وي ورکولې ، مرګونه به یې کول ، تالاشیاني به یې کولې او په خاص ډول هغه خلک به هیڅکله نه پریښودل چې مجاهدینو ته به یې ډوډی اوڅښاک ورکړی وو ، هغوبه یې ترمرګ پورې وهل !

کله به چې عامو خلکو ورته وویل چې سبزعلی داته ولې داسې کړنې کوي اومسلمانان ځوروي ، نو هغه به ورته وویل زه خو کافریم اوکافرخو له مسلمانانو سره همداسې کوي !!

سبزعلي ، دوه کاله وړاندې ، دیوه جومات دوه تنه حافظان په رمضان المبارک میاشت کې پرته له دې چې وسله ورسره وي اویادمجاهدینو له یوه ګروپ سره ښکاره تړاو ولري اول شهیدان اوبیایې مړي دابو په کوهي کې وغورځول ، همدارنګه یې خپل خوریې ، یعني دخور ځوی ، په دې نوم چې ته طالب یې په رڼا ورځ په خپل لاس شهید کړ ،دغه راز دوه تنه مجاهدین یې له نیولو ورسته په ماینونه کینول اووایې لوزول ، یو دکاندار یې په دې جرم ! چې ولې په طالبانو سودا خرڅوي ، وویشت اوشهید یې کړ ، اویومشهور دلګی مشر ، مولوي بشیر یې شهید کړ اوداسې نور .....

دغه راز ، قومندان غیاث ، چې هغه هم له سبزعلي سره یوځای جهنم ته ولاړاو دهغه معاون وو ، خلکو ته به یې ویل چې ماته شوروی وایي ، هغه دومره پلید وو چې چیرته به یې بدفعلي وکړه ، نو ویډیو به یې هم ورنه ډکوله او خپلو افرادو ته به یې ورښووله،

له کوم لوري به چې پرې پیر اوډز وشو ،شوروي به هماغه لوری ، چې کلي او کورونه به هم وو له یوې مخې تر هوانو لاندې نیول ، دغه بې حیا او یوبل قومندان یې دذبیح په نامه ، تیر کال یو حافظ چې ښه نوراني ښیره یې وه اومبارکه ږیره یې په مخ وه په کلنګار سیمه کې ونیوه ، دښځو جامې یې ورواغوستلې ، اودولایت په چوکو اومارکیټویې وګرځاوه چې دغه طالب دی ، دښځو په جامه کې راغلی وو اوفدایي حمله یې کوله !

خلاصه : ددې هریوه اربکي ، بې شمیره داستانونه اوناولي کیسې دي ، چې په لیکلو یې سړی شرمیږي ، اوقلم ورنه حیا کوي ، دعا کوو چې الله تعالی دې هغه فدایي اتل ته چې دخپلې پاکې ککرې په نذرانه یې ، داسلام اوافغاني غیرت شمله ، ددغو مفسدینو اومرتدینو په له منځه وړلو اوچته کړه او دلوګر داربکیانو په تابوت یې ورستی میخ ټک واه ، او هم یې دلوګر مسلمان اومتدین ولس ته دارام ساه وروبښله ، اعلی جنتونه اولوړ لوړ مقامونه ورکړي . امین

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

داسلام تشريعي اساسات

اووينه

مفتي شاهد (حقاني)

نړۍ کې دفقهي مذاهبو بقاء او خپراوی

لکه مخکې چې مو ورته نغوته وکړه، چې يوازې دمطلق اجتهاد او يا مقيد يا شخصي اجتهاد په دوره کې نه ،بلکې داسې به وو ايو چې دتقليد په وختونو کې فقهاوو او اهل الفقه علماوو دتل لپاره دمسئلې د استنباط لپاره شرعي دليل وړاندې کړي او پدې شرعي دليل يې دفقه جزئيه ثابته کړي، چې دا دی نن يې خلک دفقهي ضخيمو کتابونو په بنو لولي او ګوري ،داسې کله ندې شوي چې ګوندې فقهاوو دې دفقهي مسئلې داثبات لپاره په روماني قانون او يا دمفتوحه هيوادونو خورو ورو قوانينو او يا نوروو ضعي قواعدو استدلال کړی وي ،بلکې دهرې جزئيې لپاره يې شرعي دلايل ارائه کړي دي ،نو که څوک داسې کوم وهم کوي ،چې دفقه کومه مسئله دروماني قانون سره مشابهت لري ، وجه به يې دا نوي، چې ثبوت بې لدې رومانيت نه شوی ،بلکې کله داسې هم شوي ،چې شرعي مسئله پداسې شکل استنباط شوي، چې روماني قانون ورسره مشابهت بنودلی ،يعني روماني قانون له شرعي مسئلې سره برابر راغلی او دا کوم قباحت شرعي نلري.

داسلام په لومړيو کې د(امام اوزاعي رح ،سفيان ثوري رح او ابن جرير رح)غوندې دمطلق امامانو مذاهب دځينې وجهاتو په بناء له منځه لاړل او دا څلور مشهور مذاهب(دامام ابوحنيفه رح ،امام شافعي رح ،امام مالک رح او دامام احمد بن حنبل رح)په شان دمنل شويو امامانو مذاهبو انتشار وموند چې تر شرق او غربه يې دپيروانو لړۍ خپوره شوه ،ددې مندرس شويو(له منځه تلليو) مذاهبو لاملونه ځينې تاريخ پوهان دابنيي، چې داځکه دا اوسني څلور مذاهب پاتې او نور و رشد ونکړ،چې ددې مذاهبو دخپراوي شاته دوخت سلطان او حکومتي ملاتړ موجودو ، چې له امله يې دې مذاهبو په نړيوال کچ شهرت وموند او نن يې پيروان په نړۍ کې په کثير تعداد سره شتون لري.

خو په(الموسوعة الفقهية الكويتية) کې دا نظر په مطلق ډول ردشوی او ددې لپاره يې ځينې داسې بيلګې هم وړاندې کړي، چې دوخت حکومت خپل رسمي مذهب دنورو سيمو مذهب پدې وجه ندی شوی، چې دواکمنو فشار او اغيز پرې دا چاره شونې کړې وي، لکه چې ليکي: (... إِذْ إِنَّ الدَّوْلَةَ العَبَّاسِيَّةَ - وَكَانَ نُفُوذُهَا مُمْتَدًّا عَلَى جَمِيعِ الأَقْطَارِ الإِسْلَامِيَّةِ - كَانَ القَضَاءُ بِيَدِ الفُقَهَاءِ الحَنَفِيِّينَ ، وَمَعَ هَذَا فَإِنَّنَا نَجِدُ أَنَّ مَذْهَبَ الحَنَفِيَّةِ لَمْ يَجِدْ لَهُ أَتْبَاعًا فِي الشَّمَالِ الإِفْرِيقِيِّ أَوْ فِي مِصْرَ إِلَّا قِلَّةً قَلِيلَةً ، بَلْ إِنَّ الكَثْرَةَ الكَثِيرَةَ مِنْ بِلَادِ فَارِسَ كَانَ مَذْهَبُ الشَّافِعِيَّةِ هُوَ الغَالِبَ عَلَى أَهْلِهَا يَوْمَئِذٍ ، وَكَانَ مَذْهَبُ الحَنَفِيَّةِ إِبَّانَ هَذِهِ الدَّوْلَةِ قَاصِرًا عَلَى العِرَاقِ وَبِلَادِ مَا وَرَاءَ النَّهْرِ وَبَعْضِ بِلَادِ فَارِسَ.....) خلص ژباړه: دعباسي خلافت دواکمنی جال

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

چې په ټوله اسلامي خپورو . او حکومتي نظام يې هرمسلمان مانه ،ددې خلافت دمحاکمو اوقضاءچارې هم حنفي فقهاوو سنبالولې ،خو بيا هم دحنفي مذهب پيروان په شمالي افريقا او مصر کې کم کتل کيږي ،بلکې دفارس په سيمو کې دامهال(هغه وخت) دامام شافعي رح دمذهب غلبه ډيره تر سترګو کيږي او ددومره حاکميت سربيره دحنفي مذهب پيروان او اتباع د عباسي خلافت په پير کې دعراق ،دماوراءالنهر هيوادونه اوځينې فارسي ښارونو او سيمو کې شتون لري ،همداسې الموسوعي ليکونکي وايې: چې دعثماني خلافت واکمنې چې داسلامي نړۍ په اکثريت هيوادونو او مناطقو بې دحاکميت او حکومتولۍ راج چليده او ددې عثماني خلافت رسمي مذهب هم حنفي وه، او هم يې دخلافت اړوند په ټولو هيوادونوکې دمحاکمو او قضاء چارې نيغ په نيغه حنفي فقهاووسنبالولې ،نو دا کيدلای شوه، چې طوعا اوکرها دنړۍ مسلمانانو باندې حنفي فقه ومنې، خو دا دې ګوروچې بيا هم شمالي افريقا په زياته اندازه دامام مالک رح دمذهب پيروان دي، او دتونس غوندې هيوادونوکې يې احناف هم په يوه اندازه شته ،په مصرکې مالکيان او شافعيان زيات دي او احناف هم ورسره شته، همداسې خليجي او عربي ځينې سيمې !

(دلته دالموسوعة الفقية الکويتية)ليکونکيو څخه (والله اعلم) زما په آند د انصاف تله يوې خواته درنده شوې ده ،ځکه چې په مصر ،شام ،افريقا او نورو هيوادونوکې دحنفي مذهب داسې لوی لوی علماء تير شوي، چې تن يې هم مونږ سره ليکنيز آثار او علمي کتابونه په لاس کې شته او خورا په لويه پيمانه داسې تحقيقاتي او څيړنيز کتابونه يې مونږ ته په ميراث کې پاتې دي، چې آن پخپله به ترې په عربي دنيا ،منځني ختيځ هيوادونو اوشمالي افريقايي ملکونوکې هم استفاده کيږي ،نوکه دا سې لويې علمي شتې په شمالي افريقا ،منځني ختيځ سيمو اودپخواني شام په هيوادونو او فارس کې لرو ،نو ولې بيادې اماکنوکې داحنافو له شتون څخه انکار کوو ،او داقليت داغ پرې لګوو ،دعلماوو له نظره همدا نن سبا غوڅ اکثريت په نړۍ کې دحنفي فقه له اتباعو او پيروانو څخه تشکيل دی، نو انصاف داو ،چې (عربي فقهي موسوعاتو) کې ددې حقيقت څخه سترګې پټې شوی نه وای !

چې دبيلګې په ډول به دې هيوادونوکې دحنفي مذهب اړوند دنړۍ دمشاهيرو څوعلماوو نومونه راوړو ،چې له امله به يې دا په زباد ورسيږي، چې رښتيا هم داحنافو مذهب کومه عجمي پديده نده (لکه ځينې خلک چې اوس هم داسې ګمان کوي) بلکې داسلام دمبارک دين دښه شرحې سره له عربي سيمو څخه دخپل عصر له نوميالیو فقهاوو څخه راته په توارث کې پاتې دی ،او همدا چې ددې کره علماوو شتون به دحنفي مذهب جامعيت ،هم عربو او عجمو کې جوت کړي.

۱-د(ردالمحتارعلی الدرالمختار)دحاشيې (شاميه فتاوی)نړيوال نوماندفقيه ليکوال علامه محمد آمين مشهورپه (ابن عابدين شامی رح (۱۱۹۸-۱۲۸۳)چې دشام په پايتخت دمشق کې زيږيدلی او په مختلفو علوموا و فنونو کې د يوه ستر محقق او څيړندوی په حيث د(۲۰) ضخيمو او مشهورو کتابونو څښتن دی.

۲-علامه محمدبن علی بن محمد الحصکفی رح (۱۰۲۵هـ -۱۰۸۸هـ)چې دشام په دمشق کې زوکړی دی او د(الدر المختار)مشهورې فتاوې په شمول يې په تفسير او نورو علوموکې د(۲)ضخيمو اوډيرو جلدونو تصنيفاتو ليکوال دی ،چې هلته په دمشق کې دمفتي په حيث يې هم دنده تر سره کړې ده.

۳-علامه محمدبن عبدالله بن احمدبن محمدبن ابراهيم بن محمد الخطيب التمرتاشی ،الغزي الحنفی)دا نوموړی دحنفي مذهب نامتو عالم دفلسطين دهاشم په غزه کې په (۳۰۳۹هـ -۱۵۳۳م)زيږيدلی او په همدې غزه هاشم کې په (۱۰۰۴هـ-۱۵۹۲م) کال کې وفات شوی دی ،دمشهورې شاميه فتاوی دمتن (تنويرالابصار)په شمول (۳۲)ستر ستر علمي تصنيفات لري او دعلم لويه پانګه يې مونږ ته په توارث پريښې ده ،حنفي عالم خو دفلسطين دغزې اوسيدونکی دی.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

۴-د(حاشية الطحطاوي على المراقى)محشي ليكوال علامه احمد بن محمد بن اسمعيل الطحطاوى رح چي دحنفي مذهب نامتو عالم او ستر محدث او فقيه دى ،نوموړى دمصر د(اسيوط) په(طهطا)نومي سيمي کې زيږيدلى دى او په (الدر المختار) او(مراقى الفلاح) يې نامتو شرحي کښلي دي.

۵-د هدايي شارح او صاحب د(فتح القدير) كمال بن الهمام السيواسي الرومي ثم السكندري الحنفي)نوم يې محمد بن عبد الواحد بن عبد الحميد بن مسعود .. متوفي سنه(۸۷۱ هـ) فقيه حنفي مشهور ، ډير تصنيفات لري چې مشهور يې همدا فتح القدير او(زاد الفقير) دي.

٦-علامه قاسم بن قطلوبغا بن عبد الله الجمال المصرى الحنفى دى چې دمصر په قاهره کې په کال(۸۰۲)کې پيدا شوى دى ډيرى تصانيف لري او دعلامه ابن الهمام شاګرد اوحنفى المسلک دى.

۷-علامه شمس الدين محمد بن محمد بن محمد چې په ابن امير حاج مشهور دى دشام په حلب کې بالاخره وفات شوى ،دډيرو تصنيفاتو خاوند اوحنفى عالم و.

۸-مشهور فقيه او حنفي عالم علامه زين الدين بن ابراهيم چې په ابن نجيم (متوفى سنه ۹۷۰هـ)شهرت لري او دكنز الدقايق شرح (البحر الرايق)غوندې الاشباه والنظاير)هم په حنفي فقه کې ليکلي دي ، نوموړى مصرى دى اوهلته يې خورا ښه علمي شهرت خپل کړى وو. او داسې نور......چې دتولو ليکل دې کوچنۍ ليکنه کې داسي دي ،لکه يو لوى سمندر چې په کوچنۍ کوزه کې ځايوي !

سره ددې پدې فقهي موسوعة کې ليکي چې همدې عصر کې د(الازهرجامعې په تدريسي حلقاتو کې)په عام ډول دحنفي طالبانو موجوديت ډير دى، خو بيا يې په ښارونو کې شتون کم ښيي ،زما په آند ددې نه يوه همدا توجيه كيداى شي، چې دغه فوق الذكر سيمو کې به اكثريت دا نور مذاهب وو او احناف به هم ورسره وو ،خو غلبه به يې نه وه.

په هر صورت داخبره بالكل ترديد شوه. چې دمذاهبو په نفوذ کې دوخت سلطان او خلافت اغيز و ،بلکې داحنافو ددومره حكمروايي سربيره ،چې عثماني خلافت کې يې مذهب رسمي او دقضاء دقوانينو ماخذ همدا مذهب و، خو بيا هم ډيرې سيمي لا هاغه وي ،چې وګړي يې احناف نه ،بلکې دنورو مذاهبو معتقدين وو.

مګر يو حقيقت چې ورسره په ډاګه شو ، هغه دادى چې داحنافو ددومره ستړې واكمنۍ سربيره ،چې په نړيواله سطحه يې کړې ده، بيا يې هم دنورو مذاهبو پيروان خپل مذهب ته په راړولو ندې مجبور کړي ،بلکې كتل كيږي چې په نړۍ کې نن هم دپيروانو له حيثه لوى مذهب حنفي دى ،چې په پراخه پيمانه مسلمانان پکې راغونډ شوي او بس !

حق داده چې ووايو چې ديوه مذهب اوږده بقاء او انتشار ، لومړى په اعتماد سره او بيا په صاحب مذهب باندې دخلكو دتوثيق او اطمينان په صورت کې منځ ته راځي ،همداسې دصاحب مذهب په تکړه او پياوړيو شاګردانو او ملګرو او هم دمذهب دنشر په هکله ددوئ د دأب او احسن اسلوب سره اړه لري ،پدې توګه دمسايلو په تحقيق او همداسې ددې مسايلو په فهم کې داسانۍ او تيسرلارې چارې خپلولو پورې تعلق لري.

نو کله چې دمذهب امام باندې داستنباط او استخراج سربيره په ورع او ديانت کې پوره باور وموندل شي ،ملګرې يې غښتلي وي ،تحقيقات يې كشش آميزه وي او مسايل په احسنه وجه عرضه کوي او په ساده او عام الفهمه لهجه وي ،نو له امله به يې دا مذهب متباقي او تلپاتي او ډير پيروان به ولري !

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دامریکا دزوال وړاندوینه!

فــــــرهـــــــاد ' اتل '

تر ۲۰۲۰ز کال به امریکا په اوسني شکل پاتې نه وي!!! دا وړاندوینه دغرب ترټولو ممتاز سیاسي څېړونکي "جان ګالتنګ" پخپل نوي کتاب The Fall Of us EMPIRE کې کړې، "جان ګالتنګ" د نړۍ اوپه خاصه توګه غرب کې دیو مفکر، هوښیارلیکوال او د نړیوال اهمیت درلودونکو کتابونو دمصنف په توګه شهرت لري!

دکوم څېز له امله چې هغه نړیوال شهرت مندلی، دنوموړي هغه څو وړاندوینې دي، چې رښتیا ثابتې شوې، په اتیایمه لسېزه کې دشوروي اتحادپه اړه یې وړاندوینه کړې وه،چې په نویيمه لسېزه کې به شوروي وویشل شي او څو جلا ملکونه به ترې وزېږي. نړۍ ولیدل چې شوروي اتحاد رښتیا ړنګ او دهغه نه ګڼ هېوادونه ازاد شول. هغه بله وړاندوینه دا کړېوه ، چې دیویشتمې پېړۍ په لومړیو لسیزو کې به دعربوآمرانه حکومتونه وپرځول شي، نن سبا دعربي هېوادونو حالت زمونږ په وړاندې دی، "جان ګالتنګ" د"برلن دیوال"په باب هم وړاندوینه کې ویلي و،چې شرقي او غربي برلن به بېرته سره یو شي او هم به د برلن دیوال ړنګ شي، وروسته شرقي او غربي برلن دواړه یوشول! په دې وروستیو کې "جان ګالتنګ" یوه بله وړاندوینه کړې، هغه لیکي: د ۲۰۲۰ کال پورې به امریکا په اوسني شکل پاتې نشي!! دنړۍ هوښیار خلک دنوموړي دا وړاندوینه له پامه نه غورځوي،ورته دحیرانتیا په نظر ګوري! او دنړیوالو چارو کارپوهان او څېړونکي، دجان ګالتنګ ددې نظریې دمحرکاتو اودلایلو په لټه بوخت دي،هغوئ دې لړ کې دامریکا ظالمانه جنګي پالیسیو اوخپله دامریکا دننه دسپین پوستو اوتورپوستو ټکر راتلو ته، دقوي اوجدي محرکاتو په بڼه ګوري، ورته په پام دجان ګالتنګ نظریه له پامه نه غورځوي.او ورته په عور ځیر دي.

امریکا چې د ډېرې مودې نه، دټولې نړۍ فتحه کولو خوب ویني، اوس د دې لپاره په عملي جنګ هم لګیاده،وړاندې یې هم دنړۍ په ګڼو هېوادولکه جاپان، ویت نام، روسیه، لیبیا، فلسطین، اردن، چین، صومالیه، سوریه، شمالي کوریا، مصر، سوډان اندونیزیا عراق او افغانستان شول، چې یا مخامخ د امریکاد ظالمانه یرغل ښکار شوي.په "خلیج ټایمز" کې د چاپ راپور سره سم دامریکا د پراختیا غوښتونې عزایمو له امله دنړۍ دنفوسو څلور برخې دامریکایانو د پالیسیو نه کرکه او شدید نفرت لري،دامریکا دننه دخلکو لویه سلنه دامریکا ظالمانه کړو وړو ته په ښه نظر نه ګوري.

دامریکا دننه په دا وروستیو کې دبیلتون غوښتنې خوځښتونه اوپاڅونونه هم دامریکا دپالیسیو په وړاندې خبرګون دی، دجان ګالتنګ دوړاندینې سره سم داپاڅونونه به تر ۲۰۲۰ز کال پورې دامریکا دجغرافیې په بدلون کې اهم رول ولوبوي،په ۲۰۱۲ کې د اوباما په بیا ولسمشر کېدو د"لوزیانا" ایالت ۱۳زره خلکو دامریکا نه دبیلتون لپاره محکمې ته دبیلتون غوښتنې عریضه وړاندې کړې وه، هغوئ له امریکا نه د جلا هېواد په توګه دخپل ایالت غوښتنه لري، د"لوزیانا" خلکود غوښتنې زیات وخت نه وشوی، چې په څو نورو ایالتونو کې هم له امریکا څخه دازادۍ ترلاسه کولو منظم غږونه پورته شول، محاکمو ته یې په اړه عرایض او وړاندیز لیکونه وسپارل،تردې مهاله د سپینې

ماڼی نه، دازادۍ غوښتونکو ایالتونو شمېر ۲۷ ایالتو ته رسیدلی، دامریکایي اساسي قانون له مخې که هر ایالت له امریکا نه ازادۍ وغواړي،
دامریکا یې قانون له مخې که دیوې میاشتې دننه دکوم ایالت ۲۵زره کسان دازادۍ غوښتو لپاره لاسلیکونه وکړي، دامریکا ولسمشر مکلف
دی چې دهغوئ په غوښتنه غور وکړي!! ددې شرط پوره کولو لپاره هڅې او کوښښونه روان دي، په کومو ایالتونو کې چې دازادۍ غوښتو
تحریکونه راپورته شوي، هلته دلاسلیکونو کمپاین بشپړیدو ته نیږدې دی، په لوی شمېر کې خلک دامریکا نه دخپلو ایالتونو دازادولو لپاره
دیوبل سره ژمنې کوي، څوپه راتلونکې کومه میاشت کې دلاسلیک پروسه پیل کړي، دا کار ددې خبرې ثبوت دی، چې دامریکا زیات شمېر
خلک دامریکا حکومت له پالیسیانو سره مخالفت لري، ازادۍ غوښتونکي نیوکه لري چې دامریکا حکومت ددې پرځای چې دامریکا دخلکو
پیسې بیرته دامریکایانو په ژوند ولګوي، هغه یې دنړۍ نیولو او اشغالولو لپاره لګوي، ، بل داده چې دامریکا ولس یوباسواده ولس دی، هغوئ
درسنیو اونورو باورې زریعو د لاړې خبردې، اوپوهیږي چې امریکا دنړۍ ترټولو ډېر پوروړی هېواد دی، وربانده له یونیم سل کرب نه ډېرې
پیسې پوردې، چې له امله یې دامریکا اقتصاد د زیانونو اوخسارو ښکار دی،هم دا راز دامریکا ډېر پام اوس دتعلیم، روغتیا او خلکونه دکارونو
پیدا کولو پرځای جنګونو ته اوښتی دی، او بیکارۍ تربل هروخت ډېره شوې، خلک وایي دوئ غواړي یواځې دخپلو ایالتونو دننه دخپلو
ستونزوپه کمولو فکر وکړي، نه په ټوله نړۍ دحکومت کولو پیټی ددوئ په اوږو باروي،بل امریکایان پوهیږي چې ددوئ لپاره دامریکاپالیسیو
ګرده نړۍ سور تنور کړخولې، هیڅ امریکایي تبع په نړۍ کې خوندي ندی، خلک نړۍ کې له هغوئ نه نفرت لري، ازادۍ غوښتونکي ددې په
ځای غوره بولي چې هغوئ خپل ایالتونه د امریکا نه ازاد کړي، اودنړیوالو سره خپله عادي راشه درشه پیل کړي،څو په ډاډمنه توګه نړۍ کې
دهرچا سره راکړه ورکړه ولري.



هم په امریکا کې تور پوستو او سپین پوستو زاړه رقابتونه یوځل بیرته
تازه شوي، ترمنځ یې اوبه خړې دي، دد واړولوریو دغوښتنو او په یوبل نیو
کو کې دزمکې او اسمان واټن دی، داوباما په ګوند دمخالف ریپبلکن
ګوند نوی بری هم ددې خبرې ثبوت دی چې په امریکا کې دغه توپیر او
امتیاز مخ پر زیاتیدو دی، په نیږدې وخت کې شاید په لوی کورني جنګ
منتج شي، دېته په پام "جان کالتنګ" لیکلي: امریکا یوې داسې بندې
کوڅې ته ننوتي، چې هلته دبیرته په شاه تګ لپاره لار نلري.

دې وخت کې، یولورته دامریکا دننه دازادۍ غوښتو څپه مخ پر شدت
ده.په ازادۍ غوښتونکو ایالتونو کې قوي خوځښت ترسترګو کیږي،په
لوی شمېر خلک ښکاره د سپینې ماڼی نه زادۍ غواړي، دهغوئ پرضد خوابي
غبرګونونه هم پیل شوي ،څوک چې ازادۍ غواړي، دهغوئ دتابعیت
منسوخولو ګواښونه کېږي،په دې سره دامریکایانو پخپلو منځو کې لړیوالي
اوبیلتون راغلی، دامریکادننه په لویه پیمانه دوسلو اخستل اوپلورل
روان دي،درسنیو له مخې یواځې په تېرو درې میاشتو کېد امریکا خلکو
لخوا د درې ملیونه ډالرو په بیه وسلې اخستل شوي،هم دا وسلې به په
راتلونکي کې دامریکا دزوال قوي توپان روانوي اودا خبره باوري کوي، چې دامریکا دزوال شیبې نیږدې شوي، یواځې د۲۰۲۰ کال تر راتلو
انتظار وکړئ!

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

غداره جرګه....

اسلم امید

دلیندۍ په ۳مه، په پلازمېنه کابل کې، دولسي جرګې ترنامه لاندې محکومې امریکایي پاله جرګې، دیوساعت څنډتیرولو اومره وخت کې دافغانستان دخرڅلاو، تور سند په تصویبولو، دمیړني او ازاد افغان ولس سره دتاریخ دیو نه ښښونکي خیانت اوجنایت جسارت وکړ!

دخبري رسنیو په راپور: دامریکایي ښکېلاک دخوښې او ارادې سره موافق دګوډاګي رژیم چارواکیو دامنیتي موافقې په جعلي عنوان دافغانستان دخرڅلاو هغه کرکجن سند (کوم چې دامریکا لاسپوڅي ولسمشر اشرف غني احمدزي دخپلې مردودې دورې دلوړې کولو په دوهمه ورځ له امریکا سره لاسلیک کړ) دوروستي اوحتمي ملاتړ په موخه یې په جعلي اونمایشي ډول دولسي جرګې څانګړې ناسته رابلل شوې وه، چې پکې د ۱۷۵ غړولا منځه درې غړو خپلې رایې سپینې و کارولې او پنځوغړو دتړون نامشروع ګڼلو سربېره،داګام دافغانستان له خاورې او ولس سره دجنایت او ظلم په توګه یاد کړ او پرضد یې نارې ووهلې، پاتې نورو ټولو غړو دافغان ولس داستازو په نوم په یوغږ، له کومې واقعبینانه ارزونې اوڅېړنې پرته ترې دخپل ملاتړ ښکاره کولو په موخه شنه کارتونه پورته کړل!!

دباوري سرچینو وېناده: ددې ناستې نه دمخه، کابل کې دامریکا سفارت، چې تر ې درژیم ټولې چارې کنټرولیږي، دجرګې وکیلانو سره ددې لپاره دومدارې لیدنې، کتنې کولې، وربا ندې زیاتې فشاراو ټینګار درلود، چې دموافقې نه دملاتړ په څانګړې ناسته کې هغوئ له کومې چون چرا پرته دملاتړ لپاره لاسونه پورته کړي،څو نړیوالو ته ښکاره شي، چې دپارلمان دغوڅ اکثریت لخوا دامنیتي موافقې متن توثیق اوتاییدشو،! سرچینه زیاتوي، دې لړ کې دامریکا دسفارت لخوادجرګې دغړولپاره کې دڅو ورځو راهیسې څانګړې غوړې میلمستیاوې برابرې شوې وې، هم ورسره دسفارت دننه مجلسونه جوړیدل.

ښکاره ده، د پردیو لخوا په جعل کاریو او د ټګیو برګیو پر مټ غوره شوي استازي، دهمداسي ورځو اوموخو لپاره غوره کېږي، دافغانستان دولسي جرګې په نوم جوړ پارلمان یومخ دسي ای اې دایجنټانو نه ترکیب شوی، هلته خو له سره بل څوک لا نه ندي، نو دهغوئ نه هم داتمه اوتوقع کېدای شوه، خو یوه خبره روښانه ده، چې دغسي پردیو څېرو او اشخاصو پریکړې امریکا ته نجات نشي ورکولی، هر سړی خبردی چې په دغه جرګه کې ناست استازي دامریکا معاش خواره دي، هغوئ ته امریکا معاش دهمدي پخاطر ورکوي، چې هرځای دافغانستان او امریکا دګټو ټکر راځي، هلته به دوئ په افغانستان امریکاته ته ترجیح ورکوي!!

البته ددغسي اشخاصو لخوا دافغانستان دسرنوشت په باب دامریکا سره شویو توافقاتو او تعاهداتو ته افغان ولس ددوه ولسونو ترمنځ دشویو تعاهدونو په بڼه نه ګوري؟! دا دغالب څواکمن او دمغلوب محکوم، زورور او کمزوري ترمنځ توافق دی، دبادار اوغلام ترمنځ سوداده!! چې له حقوقي، قانوني او اخلاقي پلوه کوم اعتبار نلري

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

افغانستان امريکايانو ډېر مختللي ټيکنالوجۍ په زور اشغال کړی. افغانان دخپلې خوښې او ارادې نه محروم دي، امريکايان له دې پرته دخپل ظالمانه اشغال ترسيوري لاندې نورې داسې لسګونه لوظنامې ياترونونه لاسليکولی شي، داورته کوم مشکل کار ندی! هم داسې بې شمېره جعلي او تحميلي موافقې تصويب او وتپې. دې لپاره يې پخپل چوپړ کې جلا اشخاص روزلي، هغوئ دافغان ولس دجعلي استازو په حيث مخې ته راولي، ورباندې دغه ډول نامشروع غوښتنو او ارادو ته دعمل بڼه ور کوي.

خو هر چې دافغان ولس د اکثريت اراده اوعزم دی، هغه ته په پام دغسې نمايشي اوجعلي تړونونه اويا موافقې کوم اعتبار نلري، د افغانانو بشپړ اکثريت دغه تړون د افغانستان دارضي تماميت دخرڅلاو قرارداد بولي، هر اصيل افغان دا په کلکه غندي او دعاملينو لپاره دمحاکمې غوښتنه کوي، خو ښکېلاککر بايد په دې پوی شي، چې دوئ د دغسې جعل کاريو او دوکو په مټ افغان ولس دازادۍ له مسيره نشي ګرځولی، دغسې استعماري او استکباري ارادو ته دتړونو او معاهدو نوم ورکول اوبيا دزور او چل ول له لارې په افغانانو تپل به پخپله ددوئ لپاره هم ډېر بد عواقب ولري، حتمي ده په دې سره به نړيوال امنيت ته هم صدمه ورسي، او هم به ددوئ مغرورې ککرۍ په وينو کې و رغړوي.

هو! له کله نه چې دا مردود تړون لاسليک شوی، له هغه مهال راهيسې امريکايانو شپېني عمليات ډېر کړيدي، هره شپه دبې وزلو افغانانو په کورونو داړې غورځوي، په ټول هېواد کې دډار اووحشت روحيه خوره ده، دشپې لخوا دعملياتو بيا پيل دجنګ دوام په معنی دی، ليکن که هرڅومره نور ظلم او وحشت هم زيات کړي بيا به هم بريا ليتوب ترلاسه نکړي.

او حتمي ده چې داستعمار هيلو اوموخوته وفادار جعلي استازي ،دافغان ملت ارادې او ازادۍ غداران به خامخا دخپل دغه مجرمانه کردار تراخه وڅکي، هغوئ به ځانونه دملت له محاکمې او محاسبې ونشي ژغورلی، سرله اوس نه مجاهدين وروڼه دهغوئ په مراقبت اوڅار پسې ځير شي ، هرځای چې په لاس ورشي بايدي صرفه پرې ونکړي ، څو په راتلونکي کې دنورو لپاره سبق شي.

په مسجدکې دځای نه شتون له امله په دکانوکې لمونځ کول

که چيرې په مسجدکې ځای نه وي نوبه مسجدڅخه دباندې خلکو اقتداء هغه مهال صحيح ده کله چې دمسجداولمونځ کونکوپه مابين کې لاره بنده کړل شي اوپه صفونوکې اتصال راشي ، يوبل شرط داهم دی چې همدې مقتديانوته به دامام دحالت علم وي يعني دامام ولاړه ناسته سجده او رکوع به ورته معلوميږي ـ که چيرې په صفونوکې اتصال نه وي بلکه په مابين کې لاره خالي وي اوبياهم دمام دحالت په اړه نه پوهيږي نوپه دې صورت کې يې په نومونړي امام پسې اقتداء صحيح نه ده.

قال الحصفكي رح : (ويمنع من الاقتداء طريق تجري فيه عجلة)آلة يجرهاالثور (اونهرتجري فيه سفن) ولوزورقا ولوفى المسجد(اوخلاء) الى فضاء (فى الصحراء) اوفى مسجد كبيرجداكمسجدالقدس (يسع صفين)فاكثر الااذاتصلت اصفوف فيصح مطلقاكان قام فى الطريق ثلاثة وكذااثنان عندالثاني لاواحدا اتفاقالانه لكراهة صلاته صاروجوده كعدمه فى حق من خلفه (والحائل لايمنع)الاقتداء (ان لم يشتبه حال امامه بسماع اورؤية) ولومن باب مشبك يمنع الوصول في الاصح (ولم يختلف المكن)حقيقة كمسجدوبيت فى الاصح. (الدرالمختارعلى صدررردالمحتار ج ۱ /ص ۵۸۴ باب الامامة)

ومنهاطريق عام يمرفيه العجلة والاوقار هكذافى شرح الطحوى..اذ كان بين الامام وبين المقتدي طريق انكان ضيقالايمرفيه العجة والاوقارلايمنع وان كان واسعايمرفيه العجلة والاوقاريمنع كذافى فتاوى قاضى خان والخلاصة هذااذالم تكن اصفوف متصلة على الطريق امااذاتصلت لصفوف لايمنع لاقتداء ولوكان على الطريق واحدلايثبت به الاتصال وبالثلاث يثبت بالاتفاق. الفتاوى الهندية ج ۱ /ص ۸۷ باب الامامت .الفصل الرابع فى بيان مايمنع صحة الاقتداء.الخ

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دیمن دتجزیې یقیني خطر

حسن مومند

کابو ۴ کاله دمخه په عربي نړۍ کې ددولتونو پرضد دپیل شویو پاڅونونو ړې چې دتیونس نه پیل شوې وه اوس تریمن راورسېده ؛محترمولوستوالو به له رسنیو اورېدلي وي ددولت پرضد دپاڅون په لړ کې دحوثي قبیلې سره تړاولرونکوزیدي شیعه ګانودهېواد ددوه نوروسترو ښارونوترڅنګ پلازمېنه صنعا هم قبضه کړه .

یمن چې په شمالي او جنوبي دوه برخو ویشل شویدی په جنوبي برخې کې یې دشیعه ګانو اکثریت دی؛ دهمدې جنوبي یمن دحوثي قبیلې زیدي شیعه ګانو کابودرې میاشتې وړاندې یعنې داګست میاشتې په منځ کې ددولت پرضد پاڅون وکړ .ددې پاڅون مشري دحوثي قبیبې یو ځوان مشر عبدالملک الحوثي کوي او پیل یې دعمران ولسوالۍ څخه شوی؛ ددولت پرضد دلاریون لپاره ترټولو ړومبۍ غونډه چې په همدې ولسوالۍ کې جوړه شوې وه ورته په وینا کې عبدالملک الحوثي ووېل: ددولت تبدیلي او دقیمتۍ او بې کارۍ له منځه وړل زموږ دوه سترې غوښتنې دي .

په پیل کې دولت ددوئ په غوښتنو غوږ نه و ګرولی ځکه چې ګومان نه کېدلو چې دالاریونونه به دهېواد نورو برخو ته سرایت وکړي او ترپلازمیني به راورسېږي خو چې کله دهېواد دمختلفو سیمو اوسېدونکي ددې لاریونو سره مل او په لسګونو زره وګړي دهېواد پلازمېنې ته راټول،دپلازمېنې سترې لارې یې ترخپل کنټرول لاندې راوستې او دکورنیوچارو دوزرت په شمول یې یو شمېر دولتي تاسیسات محاصره کړل نو بیا ولسمشر عبدربه منصورالهادي پوه شو چې حالات مخ په خرابېدو دي نو دحوثیانو دواړه غوښتنې یې ومنلې؛هم یې داقتصادي پرمختګ او بې کارۍ دله منځه وړلو لپاره څنې ګامونه پورته کړل او هم یې اعلان وکړ چې کابینه به ړنګه او نوې کابینه به جوړه کړي چې لومړی وزیر به یې محمد مبارک وي اوېدې داړې کې به دټولو سیمو او قبیلو نمایندګي وي.

خو ددولت دا اعلان ځکه بې ګټې ثابت شوچې هم محمد مبارک دصدراعظمۍ قبلولو نه انکار وکړ اوهم حوثیانو هغه مسترد کړ .

حوثیانو چې دولت کمزوری ولید نو غوښتنې یې لاپسې زیاتې کړې؛ په صنعا کې خپلو پلویانو ته دوینا پرمهال عبدالملک الحوثي ووېل چې اوس زموږ غوښتنه یواځې دکابینې بدلون نه بلکې موږ اوس دجنوبي یمن خپلواکي غواړو.

ولسمشر عبدربه او نورو سیاسي مشرانو چې کله ددوئ داغوښتنه دقانون خلاف وګڼله او په سختو ټکویې رد کړه نو حوثي قبیله چې دحزب لانصار په نوم وسله واله ډله لري او دتېرو ۲۵ کلونو راهیسې فعاله ده دهمدې ډلې په زوریې دصدارت ماڼۍ او دلومړي وزیر پر دفتر هجوم وروړ چې ددولت دامنیتي ځواکونو په دفاعي دزو کې نېږدې ۳۰ تنان ووژل شول او ګڼ شمېر ټپیان شول .

ددوت دې دفاعي عملیاتواوپه نتیجه کې یې لاریون کونکو ته دمرګ ژوبلې اورېدلو دګټه وکړه چې دحوثي قبیلې لاریون کونکي چې ترپلازمېنې رارسېدلي او بیا یې دکورنیو چارو وزارت محاصره کړی و، خبرو اترو ته یې غاړه نه ایښوده او مخ په وړاندې تلل ځکه چې دولت ددوئ پرضد دوسلې نه کارولو دریځ خپل کړی و خو کله یې چې ددولتي ځواکونو له لورې مرګ ژوبله ولیدله نو خبرو اترو ته یې غاړه کېښوده اومذاکرات پیل شول چې دملګرو ملتونو مندوب جمال بن عمرو نومې تن ته یې دمنځګړیتوب چارې وروسپارل شوې؛مذاکرات څو ځلې دخنډونو نه سره مخامخ شول خو بالآخره داړتیا وړ توکیو دنرخونو په راټیټولو او داداري په ړنګولو او دقومي دوت جوړولو دواړه اړخونه سلا او دا هیلې راپیدا شوې چې شاید ددولت ضد لاریونونه تم او په یمن کې دسترو ګډوډیو او کورني جنګ درامنځته کېدو مخه ونیول شي خو دا چې دزړه نه دواړه اړخونه مذاکراتو او دمذاکراتو پریکړو ته ژمن نه وو نو دناکامۍ نښې یې ډېرې ژر راڅرګندې شوې.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

اصل خبره دا ده چې یو اړخ هم دملي ګټو دساتنې په موخه مذاکراتو ته نه وو تیار شوی بلکې هر لوري دمقابل لوري دکمزوري کېدلو او دمذاکراتو له لارې خپلو موخو ته درسېدلو په تمه مذاکراتو ته غاړه ایښې وه نو ځکه یو اړخ هم دمذاکراتو نه پس په اخلاص اقدام ونکړ.

دا خو څرګنده خبره ده چې ترڅو دحوثي قبیلې خپل فرد یا یې دخوښې کوم تن دلومړي وزیر په صفت نه وي منل شوی ترهغې حوثیان نه راضي کېږي نو ولسمشر که ربښتیا هم دحوثي قبیلې بغاوت ختمول او دملي ادارې جوړول غوښتل نو باید ژر یې دا اقدام کړی وای ، خو ولسمشر دداسې تن نوم صدراعظمی ته وړاندې کړ چې ډېر ژر دحوثیانو له لورې مسترد شو او ترڅنګ یې پخپله بن مبارک هم ددې منصب قبلولو نه انکار کړی او ولسمشر ته یې خپل معذرت وړاندې کړی.

ولسمشر چې دلومړي وزیر په تقرر کې دحوثیانو غوښتنې په پام کې ونه نیولې همدا رنګه یې دقومي ادارې په جوړېدو کې هم ډېر ځنډ نه کار واخست او ترننه یې پدې اړه کوم اقدام ونکړ.

ددولت ترڅنګ ددولت مخالفین هم په خپلو خبرو ندي ولاړ ؛ سره له دې چې دمذاکراتو خبره رامنځته شوی وه خو بیا یې هم وسلې په ځمکه نه کېښودې او نه یې هم ددولتي تاسیساتو دمحاصرو او نیولو لړۍ ودروله.

دسولې دتړون نه دوه ورځې پس په پلازمېنې صنعا کې دحوثیانو په لاریون کې یو په بل پسې دوه چاودنې وشوې چې پکې له ۷۰ زیات تنان مړه او له ۲ سوه نه زیات ټپیان شول ؛ ددې دواړو حملو مسئولیت چې القاعده په غاړه واخستلو نو سره له دې چې حوثیانو دتړون ماتول اعلان نکړل خو په عمل کې یې ټول هغه څه وکړل چې له امله یې تړون بې معنی او په هیواد کې دشام په څېر دستر داخلي جنګ خطر مخ په ډېرېدو شو.

په نویو پرمختګونو کې حوثي باغیانو الحدیده نومې ساحلي ښار هم قبضه کړ ؛پدې ښار کې دسمندري ځواکونو یو اډه،یو هوائې ډګر او دالحدیده بندر هم دوئ ترخپلې قبضې لاندې راوست.

دبحراحمر په څنډه پروت الحدیده ښار ددې ترڅنګ چې دیمن په سترو ښارونو کې شمېرل کېږي ډېر ستر ستراتیجیک اهمیت هم لري ؛دنفوسو شمېر یې ۲ میلیونو ته رسېږي : دلته دهوائې ډګر او دسمندري ځواکونو ستره اډه شتون لري ؛ دسعودي عربستان سرحد ته ډېر څېرمه پروت دی او بندر یې دعدن دبندر نه پس ترټولو ستر بندر دی.

حوثي باغیانو دا ښار په ډېرې اسانۍ ونیولو او پرضد یې دفوځ یا دښار د اوسېدونکو له لوري هیڅ مقاومت ونه شو ځکه چې ولسمشر عبدربه امر کړی وچې دحوثیانو پرضد دې ولس او فوځ دوسلوال مقاومت نه ډډه وکړي.

همدې دمقاومت نه شتون حوثیان ډېر ژړور کړېدي نو ځکه یې دالحدیده دنیولو نه پس اعلان وکړ چې ډېر ژر به مخ په وړاندې ولاړ شي ؛ددې اعلان نه پس یې دسعودې عربستان دسرحد پرلور پرمختګ پیل او دسعودي عربستان پولې ته څېرمه دحرض نومې سرحدي عسکري مرکز یې په ډېرې اسانۍ له فوځي ځواکونو نه ونیولو.

دخلیجي هیوادونو او منځني ختیځ دچارو پوهان وایې چې الحدیده ته دحوثیانو دتوجو او دبحراحمر دبندرونو دنیولو دهڅو نه داسې ښکاري چې دسنجول شوي پلان او دوئ ته دورکړل شوي پروګرام له مخې حوثي باغیان غواړي چې دبین المللي تجارت خو راډېره مهمه سمندري لار باب المندب هم ترخپلې قبضې لاندې راولي.

په باب المندب دحوثیانو دقبضې راتلل ایران ته ډېره ستره ګټه رسوي نو ځکه زیاتره شنونکي وایې چې دحوثیانو وروستنې اقدامات ددوئ په خپلې اراده نه بلکې دایران په لمسون او دایران له لوري دورکړل شوي پروګرام له مخې شوي.

دیمن دولت خو دڅو کلونو راهیسې وائې چې ایران حوثي قبیله ددولت پرضد پاڅون ته هڅوي او غواړي چې دیمن اداره رنګه او پرځای یې حوثیان واک ته ورسېږي ترڅو پدې هیواد کې دخپلې خوښې حکومت له لارې په سیمې کې خپل نفوذ زیات او بې شمیره سترې مادي ګټې ترلاسه کړي.

دیمن دولت دا هم وېلي دي چې دولسمشر له لورې صدراعظمی ته نومول شوی بن مبارک حوثیانو نه بلکې ایران مسترد کړ.

ایران خو اوس چپه خوله دی ، نه یې دیمن ددولت له لورې پر دوئ لګول شوي تورونه رد کړي او نه یې منلي دي خو په تېرو وختونو کې تهران ښه په ښکاره دیمن دتجزیې او په جنوبي یمن کې دحوثیانو دخپلواک دولت جوړېدلو حمایت کړېدی.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دا ځکه چې داوسنو ګډوډیو لامل دحوثي باغیانو پاڅون دی ؛ ددې پاڅونونو ترشا به بهرني لاسونه هم وي خو دصنعا دادارې له لورې دولس سره بې انصافي او دهېواد پرتولو وسایلو دیوې قبیلې قبضه داوسنو بغاوتونو او ګډوډیو اصل لامل دی.

پخواني ولسمشرعلي عبدالله صالح چې ۳۳ کاله ددې هېواد پرواک قابض و په ملکي او فوځي ټولو سترو پوستونویې دخپلې قبیلې افراد مسلط کړي وو چې له امله یې په نوروټولو قبیلو کې ډېرې سترې ناهیلۍ خپرې شوې وې ؛ ددې ظلم تر څنګ بل ظلم داوچې دولت به دخپلوټولو سیاسي مخالفینو سره دمفاهمت لار تل ردوله او دزور له لارې دهرې مسئلې دحل پالیسي یې خپله کړې وه خو دالاصلاح په نوم داخوان المسلمین ډلې او حوثیانو سره یې بې انصافي ترټولو زیاته وه؛ اخوان المسلمین خو ددولت پرضد کله وسلې ته ندی لاس کړی خو حوثیان چې دیو شمېر بهرنو هیوادونو لاسونه او مرستې ورسره ملې وې نو پـه ۱۵ کلونو کې یې دیمني دولت پرضد ٦ ځلې جنګونه کړیدي ؛ یوځل یې په پوله پرتود سعودي عربستان دفوځونو سره هم جنګ کړیدی نو ځکه دیمن اوسنو ګډوډیو او بیا دحوثي قبیلې تېز پرمختګ دسعودي عربستان دولت ډېر جور خفګان سره مخامخ کړیدی او ښه په روښانه ټکویې ویلي دي چې ،، که یمن امنیت ته ستر ګواښ متوجې شو دساتنې لپاره به هر هغه اقدام وکړو چې ورته اړتیا وي.

دا دوهم ځای دی چې سعودي عربستان او ایران دیو بل سره په سیاسي ډګر کې په مقابل کې واقع شویدي؛ په دې وروستیو کې شام کې دبشارالاسد درژیم پرضد سعودي عربستان دلویدیځ دنظامي اقدام ملاتړ کاوه خو ایران یې سخت مخالف و؛ کله چې دبشارالاسد درژیم پرضد دنظامي اقدام خبره شاته او څه موده وروسته دامریکا په مشرۍ کې دداعش پرضد دهوا له لارې دنظامي عملیاتو خبره رامنځې ته شوه نو دایران او سعودي عربستان مخالفت پای ته ورسېد او دواړو دداعش پرضد نظامي عملیات تائید کړل.

خو اوس په یمن کې په سیاسي ډګر کې ددواړو مقابله سخته ښکاري او په لنډ وخت کې په یوې نکتې ددواړو متفق کېدل ډېر ګران برېښي.

سعودي عربستان دصنعا داوسنۍ ادارې بقا غواړي او واک ته دهغه حوثیانو درسېدو سخت مخالف دی دکومو سره یې چې فوځ یوځل پـه مخامخ جنګ اخته شوی.

دا چې دعلي عبدالله صالح رژیم یو بې نظمه رژیم و،امنیتي ادارې یې کمزورې وې،زیاتره وختونه به یې دقبائلو ترمنځ جنګونه وو او تریو حده یې فرقـه یزې شخړې هم رواني وې نو یمن دالقاعده دپناه او ودې لپاره ډېر په زړه پورې هېواد ګرځېدلی و،دسعودي عربستان او یمن ترمنځ غرنۍ سیمې دالقاعـده لپاره ډېر خوندي پناه ځای دی او همدلته ګڼ روزنیز مرکزونه لري،دامریکا بې پیلوټه الوتکو دلته ګڼ بریدونه هم کړیدي چې پکې مجاهـدینو تـه ځاني تلفات هم ورښتي دي خو چې مجاهدینو دې سیمې ته دجاسوسانو دراتلو مخه نیولې ده نو دلته دامریکا دبې پیلوټه الوتکو پـه بریدونو کې قیادت تـه لوی زیان نـدی رسېدلی؛ امریکا دلته یواځې دانورالعولقي په وژلو توانېدلې ده.

نو دحوثي قبیلې دپرمختګ مخه که نیسي نو همدا دیمن ځواکمنه القاعده به یې نیسي.

القاعده چې اوس دحوثیانو په مقابل کې دجنګ ډګر ته راوتې ده،په باره کې یې تمه هم داده چې دحوثیانو دپرمختګ مخه به ونیسي خو دا کار بـه دیمن د ولس لپاره له ځانه سره ښه زېرې ونلري؛ پدې سره به یمن کې فرقه یزې شخړې زور وخلي اویمن به په شمالي او جنوبي برخو دویش دډېر جدي ګواښ سره مخامخ شي.

دیادولو وړ ده چې دالقاعده او دیمن ددوست ترمنځ تراوسه کوم لوی جنګ ندی رامنځته شوی او نه هم القاعده دیمن کوم ښار قبضه کړیدی خـو بیا یې هم امریکا پدې تازه ورځو کې دالقاعده دمشرانو دسرونو قیمتونه اعلان کړل او هغه چاته یې ۴۵ میلیونه ډالر انعام ورکولو ژمنه وکړه څوک چې دالقاعده دمشرانو په باره کې امریکا ته خبر ورکړي.

خو حوثیان چې دپلازمېنې په شمول یې ۳ ستر ښارونه،وزارتونه او فوځي مرکزونه قبضه کړیدي امریکا او نور لویدیځ یې پرضد هیڅ نه کوي.

نو ځکه القاعده چې په جنوب کې دسنې قبایلو دپراخ حمایت نه برخمنه ده وایي یې دي چې حوثي باغیان دامریکا په حکم راوتلي او دهمدې امریکا دګټو لپاره جنګېږي او بس!

وروستي معلومات دادي چې حوثیانو زیاتره دولتي تاسیسات پرېښي اوخپلو سیموته ستانه شویدي خودې هېواد ته دتجزیې اوفرقه ییز وشخړو ستر خطر لاهم متوجې دی ؛راتلونکې کې به معلومه شي چې دولت یې په له منځه وړلو توانېږي او که نه ؟

داولادونو ظاهري اوباطني روزنه

شفيق الرحمان ع.ل

تنکي ماشومان دولسونو د راتلونکي معماران دي، کوچنيانو ته ښه سالمه روزنه ورکول، د سالمې او ځواکمنې ټولنې دبنسټ ايښودو معنی لري، ښه روزنه يې دغوره او مثالي ټولنې له جوړولو سره مرسته کوي، څنګه چې د ښه نهال نه، په راتلونکي کې د ښې ونې د لويدو تمه کېږي.

ماشومتوب کې دماشوم سالمه روزنه، له بلوغ وروسته دهغه په ديني او اخلاقي حالت ژور تاثير لري، دماشو متوب دورې روزنه دکاڼي کرښې مثال لري، ددې برعکس هغه ماشوم چې په کوچنيوالي کې دهغه سهې روزنې ته پاملرنه ونشي، له بلوغ وروسته د هغه نه، دغوره شخص جوړيدو تمه انصاف ته نيږدې نده! بلکې هغه دبلوغ وروسته چې دکوموبدو کړنو مرتکب کېږي، له امله يې دهغه مور او پلار ګرم اوملامت دي، چې هغوئ د پيله دهغه سهي روزنې اوښوونې ته پاملرنه نده کړي، هم دا راز داولاد سهي روزنه دنيا کې دمور او پلار لپاره دنيک نامی باعث او په اخرت کې دهغوئ دکاميابی سبب کېږي، هر چې نافرمان اوبې تربيې اولاد دی، هغه دمور او پلار لپاره په دنيا کې دبدنامی باعث اوپه اخرت کې دهغوئ درسوايي سبب کيږي.

د"تربيت" لفظ پراخ مفهوم لري، ددې لاندې دافرادو تربيت، دکورنيو تربيت او دټولنې تربيت هم راځي، بيا تر دې لاندې قسمونو کې نورېي شمېره ډولونه راځي، چې دهغو ټولو اصل هدف اوغرض ،عمده، پاکېزه او سپيڅلې ټولنه جوړول دي، د اولاد روزنه يا تربيت دهمدې ډولونو يو مهم ډول اوښاخ دی.

دتربيت ډولونه:

تربيت دوه ډوله دی: ۱.... ظاهري تربيت، ۲.... باطني تربيت..... له ظاهري پلوه تربيت کې داولاد ظاهري شکل صورت، لباس، خوراک، څکاک،ناسته ولاړه،دهمزولو اوملګرو سره اړيکي اومصروفيتونه څارل راځي، تعليمي کوايف يې له نظر تيرول، دبلوغ وروسته دهغه د معاشي زريعو کلک مراقبت کول، داټول هغه کارونه او اصول دي چې داولاد په ظاهري تربيت کې په کار راځي، هر چې باطني تربيت دی، هغه نه مراد، دهغه دعقيدې او اخلاقو اصلاح ته توجه کول دي، داولاد دواړه ډوله تربيت دمور او پلار مسؤليت اوفريضه ده، دمور او پلار په زړه کې داولاد لپاره دمحبت او رحمت بې پايه فطري جذبه او احساس مندل کېږي،هم دا فطري جذبات او احساسات دماشومانو د ښې پالنې اوروزنې لور ته دهغه مور او پلار هڅوي، دمور اوپلار په زړه کې چې کله دا جذبات راسخ او شتون ولري! او تر څنګ يې هغوئ د خپلو ديني مسؤليتونو احساس هم ولري، بيا هغوئ ته په ښه توګه د خپلو فرايضو اومسؤليتونو سر ته رسول اسان وي.

په عظيم الشان قرآن اونبوي احاديثو کې داولادونو دتربيت په باره کې څرګند ارشادات شتون لري دالله (ﷻ) ارشاددی﴿قوا انفسکم وأهليکم ناراًوقو دهاالناس والحجارة﴾ التحريم: ۶)

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

خپل ځان، خپل اولاد، دهغه اورنه وژغورئ دکوم دسون توکي به انسانان اوتيږې وي.

حضرت علي (ﷺ) ددې ايت تشريح داسې کړې:

علموهم وأدبوهم

هغوئ (خپلو اولادونو ته) ته تعليم ورکړئ او ادب وروپيژنئ!

فقهاوو ليکلي چې په هر شخص دافرض دی، چې هغه خپلې ميرمنې او خپلو اولادونو ته دشرعي فرايضو ، دحلالو او حرامو په اړه علم ور وښيي اوپه هغوی دعملي کولو کوښښ وکړي.

داولاد دتربيت اهميت له دغو احاديثونه هم ثابت دی، لکه درسول الله (ﷺ) ارشاددی:

مانحل والد أفضل من ادب حسن.

هيڅ پلار خپل اولاد ته له دينه غوره تحفه نشي ورکولی، چې ور ته ښه ادب ور وښيي!

يعني ښه تربيت ورکول، او ور ته ښه ادب ښودل، داولادلپاره ښه بهترينه تحفه ده.

۲.... عن ابن عباس.... قالوا: يارسول الله قد علمنا ما حق الوالد فما حق الولد؟ قال: أن يحسن اسمه ويحسن أدبه.(سنن بيهقي)

حضرت ابن عباس (ﷺ) نه روايت دی: چې صحابه وو عرض وکړ ، يارسول الله دمور او پلار حقوق خومو و پيژندل ، د اولاد حقوق څه دي؟ رسول الله (ﷺ) وفرمايل: هغه دادي چې ورته نوم ښه کېږده، ورته ښه روزنه ورکړه.

۳.... داډېره لويه ګناه ده چې انسان دځه زېړوار ګرځول شوی، هغه ضايع کړي او اولادته ښه روزنه اوپالنه ور نکړي.

داهم په ضايع کولو کې راځي ، چې يو پلار د خپلو ماشومانو دزده کړې نه بې پروا کيني ، په سمه لارې دېيولو کوښښ ونکړي،ښکاره ده چې ددغسې ماشومانو عقايد او اخلاق بيا برباد شي،بل داسلام له نظره ناپوهې هيڅ عذر نده،دماشومانو په سمې روزنه کې کوتاهې کوونکي ځان دقيامت په ورځ د حساب او کتابه نشي ژغورلی.

حضرت عبد الله بن عمر (ﷺ) ارشاددی:

خپلو اولادونو ته ادب ورښيئ، دقيامت په ورځ له تاسو، ستاسې د اولادونو په باره کې پوښتنه کولی شي،ايا تاسې ادب ور ښودلی و؟ اودکوم علم، تعليم مو ور کړی و؟(شعب الايمان للبيهقي)

دماشومانو ستاينه:

ماشومان نرمې ختې ته ورته دي، چې تري هر ډول شکل جوړوي، جوړيدای شي، کله چې ماشوم ښه کار کوي، دهغه په ستايلو او تعريف کې دريغ ندی پکار ، ورته د شاباس ويلو ترڅنګ داسې تحفه او انعام ورکول ښه دي،په کوم چې هغه خوشاله کېږي او په راتلونکي کې ورته دښه کار کولو ترغيب اوجذبه ور کول پکار دي.

دتېروتنې په صورت کې دماشوم دپوهولو حکيمانه اسلوب:

د هر غلط کار له امله دماشوم بيا، بيا پوهول، دهغه په طبيعت کې دغلط کار دځای نيولو مخنيوی کوي ، که په دې اړه غفلت وشي، دشک پر ته دماشوم په مغزو کې به ناسم فکرونه ريښې وغځوي، خومخکې، تر مخکې له بېخ نه دهغو ريبل پکار دي، له ماشومانو دخطاء راتلل، کومه نا

اشنا خبره نده،ولې دلويو خلكو نه هم تيروتنې كېږي،ماحول اوچاپير يال د ماشوم په روزنه زيات اغيزفر يباسي، ممكن دغلط ماحول په وجه يو ماشوم د غلطۍ مر تكب شي،خو په دي صورت كې هر هغه څه ته پام اړول پكار دي، دڅه له امله چې له هغه نه غلطۍ شوي؟ ور ته توصيه او تهديد بنه دى،خو په روزنه كې منځلاريتوب او داعتدال لمن نيول ضرور ده،مربي بايد له دې خبروي، چې ماشوم ته نصيحت ګټه لري، كه سزا؟ هر ځاى چې سختې او نرمې څومره مناسب وه ،هغومره ګټه لري، ولې ډېره سختې اوهم له حده وتلې نرمې دتاوان سبب كېږي، متنبي وايي:

فوضع الندى فى موضع السيف بالعلا مضر كوضع السيف فى موضع الندى.

كوم ځاى چې د تورې چلولو ته اړ تياوه، هلته سخاوت هغومره تاوان رسوي، څومره چې دسخاوت په وخت كې توره چلول...

تربيت تدريجاً مناسب دى، په كومه غلطۍ سرزنښت بايدلاندې مراتبو ته په پام وي:

١.... پوېول، ٢.... غوسه كول ٣.... دوهلو پر ته بله سزا ټاكل ۴.... وهل، ۵.... اړيكي لغوه كول...يعنې دغلطۍ كولو په صورت كې دماشومانو تربيت په حكمت سره ګټور دى، كه ماشوم په لومړي ځل غلطۍ وكړه، اول بايد په اشارو او كنايو پوى شي! خو ور ته دهغه بدفعل د يادولونه دي ډډه وشي ، كه ماشوم بيا، بيا غلطۍ كوي او ترې لاس نه اخلي ، هغه ته په زړه كې داخبره كېنول پكار دي، كه تا دويم ځل غلطۍ وكړه! در ته سزا به دركوم! ليكن غوسې ته په دي مرحله كې اړ تيا نشته، په نصحيت، اونرمه لهجه دغلطۍ احساس ور كول دي.

ماشوم ته په محبت اونرمښت دتربيت او دهغه اصلاح كولو په اړه يوه واقعه د حضرت عمربن سلمه (رضي الله عنه) منقول ده، فرمايي: زه په كوچنيوالي كې درسول الله (ﷺ) په كفالت او روزنه كې وم، زمالاس به دخوراک په لوښي كې كله په يوه او كله په بل خوا، ته: ددي په ليدو رسول الله (ﷺ) وفرمايل: ياغلام سم الله! وكل بيمينک وكل ممايليک.... هلكه! د خوراک پيل دالله په نوم سره كوه، خواړه، په ښي لاس خوره! اوله خپلې مخې خوره!

په نرمه دنصيحت وروسته، كه يو ماشوم بياهم دغلطۍ نه لاس نه اخلي،ور ته له خلكو جلا سرزنښت اوتهديد پكار دي، دهغه كار دبدوعواقبو احساس ور كول پكار دي،يعنې داسې مه كوه! كه بياهم منع نشو، بيا ور ته لږ ډېره سزا پكار ده! خو دتربيت دغه طريقه دنو عمرهلكانو لپاره ده، او بلوغ ته درسيدو وروسته دتربيت طرز اوطريقې جلادي، كه په نصيحت نشو، ترڅو چې له بدو لاس په سر شوى نه وي، ترهغه وخته ورسره راشه درشه او تعلق پريک كول دي،داكار شرعاً جواز لري،له څو تنو صحابه وو(رضي الله عنهم) نه داعمل ثابت دى،دحضرت عبد الله بن مغفل(رضي الله عنه) يو خپل چې بلوغ ته نه رسېدلى،هغه به كاڼي ويشتل،عبد الله (رضي الله عنه) منع كړ اوهغه ته يې وفرمايل: رسول الله (ﷺ) ددې نه منع فرمايلي:"انهالاتصيد صيداًپه دې ويشتلو هيڅ ځاروى ښكار كېږي نه، هغه منع نشو،نو په غوسه يې ور ته وويل: رسول الله (ﷺ) ددينه منع كړي او ته منع نشوي ؟زه نور له تاسره خبرې نكوم ، هم داشان حضرت عبد الله بن عمر (رضي الله عنه) دخپل څوى (بلال) سره په دې وجه چې هغه د يو حديث په مقابل كې خپله رايه وړاندې كړه ، خپل تعلق پريک كړ اوتر مر ګه پورې هغه سره يې خبرې ونكړي.

ماشونو ته دتهديدور كولو اوو هلو حدود:

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

ماشومانو ته د تربيت په اراده، دمور، پلار يا استاد له لوري معمولي او نرم وهل نه يواځې روا دي، بلکې کله نه کله ضرور هم دي، خو په دې اړه د افراط او تفريط څخه ځان ساتل هم ضرور دي ، دغوسې حالت کې بې واکه کېدل، له حد نه تجاوز کول، دماشوم زيات وهل، يا يومخ دماشومانو وهلو ته غلط ويل، دواړه سم ندي، لومړی صورت افراط دی، دويم تفريط دی ، داعتدال لاره هغه ده کومه چې رسول الله (ﷺ) په حديث کې ښودلې: خپلو اولادونو ته په لمانځه حکم کوئ، کله چې هغوئ اووه کلني، ته ورسي! او دلمونځ په نه کولو يې ووهئ کله چې لس کلني، ته ورسي (مشکوة)

له دې پورته حديث نه، په مناسب او دضرورت په وخت کې دوهلو اجازت معلومېږي.

په وهلو کې ددې خبرې خيال ساتل پکار دي، چې له حد تجاوز رانشي، په بدن يې دوهلو نښې جوړې نشي، هم دا راز دغوسې حالت کې له وهلو ډډه غوره ده، وروسته چې کله غوسه سره شي، بيا دمصنوعي غوسې په ښودو بايد ووهل شي، ولې د طبعي غوسې په وخت کې د حد نه دتجاوز انديښنه کيدای شي، او په مصنوعي غوسه کې بيا دا خطر نه وي، مقصد هم ترلاسه شي او له حد نه تجاوز هم نه راځي.

هلکانو ته پر نجونو ترجيح ورکول ګناه ده

اولاد دالله (ﷻ) لويه نعمت او تحفه ده، که څوی وي، که لور ، داسلامي لارښوونو له مخې په ماشومانو د رحم او شفقت په معامله کې دلور او څوی توپير نشته، کوم مور او پلار چې دڅوی په پرتله د لور سره امتيازي رويه کوي، هغوئ دجاهليت په پخوانی ناروغۍ مبتلی دي، دغه ډول سوچ او عمل له دين سره هيڅ تړاو نلري، بلکې له ديني پلوه، په باب يې سخت وعيدونه راغلي دي، دلوڼو کم ګڼونکي په حقيقت کې دالله (ﷻ) په پريکړه نا خوښه دي، دغسي سړي بايد پوی شي، که دی له ځان سره ټوله دنيا ملګرې کړي دالله تعالی په دغه پريکړه کې تغير نشي راتلی، دا په حقيقت کې دجاهليت کږکچن او فرسوده سوچ دی، چې دخنسا کولو لپاره يې رحمة للعالمين (ﷺ) بيا، بيا يې پلرونو ،ميندو او روزونکو ته دښه سلوک او دهغوئ داړتياوو دپوره کولو حکم کړی دی.

داولادونو ترمنځ مساوات کول

ابوداود شريف کې دحضرت نعمان بن بشير (رضي الله عنه) حديث دی

قال رسول الله (ﷺ): اعدلوا بين أبنائكم اعدلوا بين أبنائكم اعدلوا بين أبنائكم. (ابوداود ۲ټوک ۱۴۴مخ)

رسول الله (ﷺ) فرمايلي: دخپلو اولادونو ترمنځ مساوات (برابروالی) کوئ، دخپلو اولادونو ترمنځ مساوات کوئ، دخپلو اولادونو ترمنځ مساوات کوئ!

مطلب دادی چې دظاهري تقسيم په اعتبار دټولو اولادونو ترمنځ مساوات پکار دی، ولې که برابروالی لحاظ نشي، داولادونو زړونه به مات شي، هو! په فطري توګه د کوم څوی يا کومې لور سره زړه کې زيات محبت لرل، باک نه لري، په دې شرط چې په څرګنده اظهار ونکړي او ټول پوشان ګڼي، په حديث کې درې ځله مکرر تاکيد ددې په وجوب دلالت کوي، يعني داولاد ترمنځ مساوات کول واجب دي، او ټول برابر نه ګڼل په ظلم کې شمار دی، داسې نه کول په اولاد کې دکمترۍ احساس او باغيانه سوچ زيږوي، دکوم چې بيا وروسته ډېر بد نتايج مخې ته راځي، الله تعالی دې ټولو مسلمانو پلرونو او ميندو ته دخپلو اولادونو په اړه دمسوليت په ښه توګه دسر ته رسولو توفيق ورکړي. آمين

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

صلح در بستر معامله‌گری‌های حکومت توپکمار

دکتور م، عثمان تره کی نویسنده و استاد پوهنتون

حوادث ناگوار سیزده سال اخیر را می‌توان چنین خلاصه کرد:

»اشغال افغانستان توسط قوای خارجی بدنبال استفاده افزاری از مبارزه ضد تروریزم و افراطیت مذهبی. بهره‌برداری از داعیه دموکراسی، حقوق بشر و حقوق زن به قصد انحراف ذهنیت عامه از زیاده‌روی‌ها در جنگ منفعت‌ها نه جنگ ارزش ها.«

نقض قانون اساسی بدنبال تشکیل حکومت به اصطلاح وحدت ملی بهترین مظهر سقوط ارزش‌ها به دامان آلوده سیاست است.

افغانستان طی سه دهه اخیر قربانی نیرنگ‌های آماتوران سیاسی شده است که در کمبود حمایت مردمی وسیله واره‌دار غصب قدرت سیاسی را در بیرون جغرافیای کشور جستوجو کرده‌اند. نزد این بازیگران سیاسی منشأ قدرت نه رای و بیعت مردم بلکه لشکر خارجی قیاس شده است. رسم احراز و حفظ قدرت بالواسطه کشورهای خارجی منبع اصلی فاجعه کنونی است که مسئولیت آن بدوش لاشخورانی است که از سیاست برداشت مکیاولستی دارند. کارمل، تره‌کی، نجیب، کرزی و اخیراً غنی و عبدالله ناخدایان کشتی ورشکسته‌یی اند که افغانستان نام دارد. کشتی در دریاچه خون شنا می‌کند. اگر خون بخشکد کشتی فرو می‌نشیند ... چنین است انتباهی که بازرگانان حریص خون و مصیبت برای توجیه مداخله خارجی، جنگ و تحمیل حاکمیت به مردم داده اند.

چنان تصور می‌شد که سقوط حکومت دوکتور نجیب درسی باشد برای سیاست بازانی که توسط قوت‌های مداخله‌گر ملزم به ایفای نقش‌های معینی در بازار آشفته سیاس یافغانستان اند. چنین نشد. هم‌زمان با تکرار تاریخ، اشتباهات تکرار گردید.

بلی تکرار تاریخ! احراز قدرت بدنبال مداخله خارجی. ظهور مقاومت در برابر مداخله بکمک کشورهای همسایه و نهایتاً استمرار جنگ. وقتی نتیجه مداخله خارجی در تشکیل حکومت به این وضاحت باشد، ناکامی مذاکره را قبل از آغاز می‌توان پیشبینی کرد. آنگاه دلیلی برای شروع مذاکره صلح با مخالفین مسلح آنطوریکه حکومت فعلی ادعا می‌کند، باقی نمی‌ماند. مگر آنکه معادله قوای جنگی به نفع حکومت دست نشانده به شکل رادیکال تغییر خورده باشد. درین صورت باز هم ضرورت مذاکره با دشمن شکست خورده منتفی می‌شود.

اصولاً مذاکره میان طرفین جنگ زمانی مطرح است که معادله قوای جنگی متوازن باشد. شدت حملات مخالفین طی ماه‌های اخیر (تلف شدن ۵ ونیم هزار پرسونل امنیتی در جریان ٦ ماه اخیر) مقاومت مسلح را به یک طرف غیر قابل اجتناب صلح مطرح کرده است.

برای جلوگیری از تباهی بیشتر باید مذاکره با مخالفین مسلح که طی سالیان اخیر از حالت دفاعی به حالت تعرضی قرار گرفته اند، آغاز شود. مقاومت مسلح در گذشته مذاکره را با حکومت وقت نظر به دو دلیل رد کرده است:

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

ـحالت اشغال و واقعیت اینکه حکومت، مدافع منافع کشور های مهاجم بود تا افغانستان.

ـفقدان صلاحیت حکومت محصول مداخله خارجی در مسائل مربوط جنگ و صلح) تبادله اسرای جنگی، خروج قوا، استقرار پایگاه نظامی، اوربند ...

آیا با تشکیل حکومت جدید که در واقع شعبه‌یی از سفارت امریکا است، موانع قبلی مذاکره با مقاومت مسلح رفع شده است؟ ابداً نه! اشکال دیگری چون امضای «بلا قید و شرط» موافقتنامه امنیتی، رخنه پُرقدرت گروهای جنگی مانند چاپ انداز دوستم در نظام، اولین رخنه مسیحیت در حریم سنتی ارگ توسط بی بی گل (از پشتاره استخبارات خداج خبر!) به‌موانع قبلی در مسیر مذاکره افزوده است.

ازین گذشته مذاکره مخالفین مسلح با حکومت کابل به مفهوم به رسمیت شناختن حکومت محصول اشغال و مهم تر از ان گذاشتن صحه به معاهده ننگین ستراتژیک است. این معاهده که در تنظیم و تصویب آن اشرف غنی سهم کلیدی دارد به قوای خارجی دست آزاد در ادامه قتل عام افغانان می‌بخشد و کنترول حکومت را بر واردات و صادرات از نوعِ انس و جنس امریکا و متحدین از میان می‌برد.

در نوامبر ۲۰۱۳ به وساطت حکومت قطر موافقتنامه‌یی میان نمایندگی مقاومت در دوحه و امریکا منعقد شد. موافقتنامه با رهایی «برگدال» سرباز اسیر امریکایی بدست طالبان و انتقال ۵ تن از زندانیان افغانی گوانتانامو به دوحه عملاً نافذ گردید. زندانیان افغانی تحت نظارت حکومت قطر از حقوق و آزادی‌های محدودی بهره‌مند شدند. قرار به این شد که در پایان سال جاری با ختم عملیات جنگی امریکا و خروج قسمی قوآدر صورتیکه مذاکره صلح با مخالفین مسلح به نتیجه برسد، قیود وضع شده بر زندانیان رفع شود. اما به استناد فرمان» اوباما»، اعلام تمدید یک سال اضافی در ماموریت جنگی امریکا پروسه صلح را لااقل برای یک سال دیگر به تعویق انداخت. فرمان اوباما پیغام ستیزه‌گرانه و گستاخانه به مردم افغانستان دارد. به این معنی که: امریکا از طریق جنگ از حکومتی که «جان کیری» در افغانستان ساخته است، حمایت می کند. حکومت تحت‌الحمایه باید از منافع امریکا در افغانستان پاسبانی کند و پایگاه‌های نظامی این کشور را از گزند حوادث در امن نگه دارد. در عملیات نظامی پخپل سر امریکا در قرآو قصبات کشور قیود وضع نکند. این حکومت که از جنگ سالاران شناخته شده چون چاپ انداز دوستم ترکیب شده ماموریت جنگی دارد.

پیام جنگی اوباما فتنه خوابیده را بیدار ساخت: دوستم که از برکت حمایت امریکا و متحدین از جنایات گذشته خود حساب نداده است، محتوای پیام را بدرستی درک و به خیز و جست آغاز کرد. وی که در زمان پیشروی طالبان در شمال کشور در سوراخ کوه «ترابزون» ترکیه فراری و پنهان شده بود نفس تازه یافت.

از آنچه گفتیم بر می آید که عطش خون آشامی نظامیان امریکا و متحدین پس از چارده سال جنگ، دادن هزاران کشته و صرف ملیاردها دالر فروکش نکرده است. جنگ بالای مردم افغانستان تحمیل شده است. وقتی دشمن حاضر به صلح نباشد، مسئولیت همه ویرانی‌ها و خونریزی‌های ناشی از عکس‌العمل مخالفین مسلح اعم از بم‌های انتحاری و جاده‌یی بدوش طرف ستیزه‌گر می‌افتد. شکل گیری بلاک‌های ستراتژیک جدید منطقوی مظهر گرایش کشور های منطقه در دفاع طویل المدت از داعیه مخالفین مسلح است. افغانستان در آستانه تبدیل شدن به مرکز توريد و صدور جنگ بی‌پایان قرار گرفته است که ویرانی آن نصیب ما و منفعتش از ان دیگران خواهد بود.

راه حل خروج از بن‌بست جنگ فرساینده، آنطوریکه بارها گفته شده تشکیل یک حکومت موقتی به موافقت مقاومت مسلح است. به همین منظور باید دفتر قطر فعال شود و اوربند فوری در صدر اجندای مذاکره قرار بگیرد. در صورتی می‌توان ادامه جنگ را از طرف قوای خارجی تا حدی توجیه کرد که مخالفین مسلح در تقابل با پروژه صلح قرار بگیرد. درین صورت قبل از دست بردن به سلاح باید جانب مسئول ادامه جنگ از طریق میدیا افشا شود. برای فعلاً مسئولیت جنگ تحمیلی را امریکا بدوش دارد.

اگر امریکا دست از حمایت جنایت کاران افغانی بردارد، در هر نوع عهد و پیمان بدمعاشی را کنار بگذارد و در تلافی اشتباهات گذشته صادقانه عمل کند، مردم افغانستان این عظمت اخلاقی را دارند که دست دوستی دشمن پشیمان شده خود را بفشارند.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دوینې فوارې

استاد فضل ولي " ناګار"

ستادوینې فوارې ته نه رسیږي
شفق دغې منارې ته نه رسیږي

فرعوني خوبونه ونیوۀ خپسو
دتالا کاله اسرې ته نه رسیږي

دجارح خنجر دې بله خوله پیداکړي
دقلم نوکې تېرې ته نه رسیږي

چې دحق منصوري غږته نه راخیژي
منبرونه غرغرې ته نه رسیږي

داپندونه او وعظونه بې نوښته
دتکبیروې ناري ته نه رسیږي

سمندر چې یې ځپې وي خوبولې
دغره شوخې شرشرې ته نه رسیږي

د نمرود دظلم سره دوزخونه
دپتنګ خوړلن ایرې ته نه رسیږي

په جهاد کلابندي دوحشتګرو
سل طوافه دې دورې ته نه رسیږي

دتاریخ په مخ دچا دغرور ځلی
دجنډو دې هدیرې ته نه رسیږي

دشهید ګلګون ګرېوان دخدای حضورکې
جنتونه یې منظرې ته نه رسیږي

ځه زاهده! دابې درده دعاګانې
دماښام دسوزښېرې ته نه رسیږي

په دفتر دې که هم اوربل شي " ناګاره " !
دمیوند یوې مسرې ته نه رسیږي

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

shahamat



لغمان- الینګار